کتاب المسلم - بشتو

# اسلامی تعلیمات

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

236

هاتف: ٠١٦ ٤٢٣٤٤٦٦ - فاكس: ٠١٦ ٤٢٣٤٤٧٧

جمعية الدعوة بالزلفي

# اسلامي تعليمات

## كتاب المسلم - بشتو

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات في الزلفي
Tel: 966 164234466 - Fax: 966 164234477

# كتاب المسلم

أعده وترجمه الي اللغة البشتو

جمعية اللدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي

الطبعة الثانية: ٨/١٤٤٣هـ

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

كتاب المسلم - الزلفي، ١٤٣٩هـ

ردمك: ٨-١٣-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

(النص باللغة البشتو)

١- الإسلام — مجموعات ٢- الوعظ والإرشاد

أ-العنوان

ديوي ٢١٠,٨ ١٤٣٩/٦٣٥٩

رقم الايداع: ١٤٣٩/٦٣٥٩

ردمك: ٨-١٣-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

مقدمه

ان الحمدلله نحمده ونستعيه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له واشهد أن لا أله الا الله وحده لا شريك له ، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله .

اما بعد : اسلامي شریعت داسی احکام مقرر کړی دی ، چی د هر یو تن ځانله د خاندان او د معاشری د اخلاقو او اعمالو اصلاح وکړی ټولو خلقو ته حق واضح کړی او په نیغه لار باندی روان کړی ، اسلامی تعلیمات صرف د الفاظو نوم ندی چی انسان هغی کښی خپل عقل استعمالو ی او خوشحاله کیږی یا د هغی د الفاظو نه لذت اخلی ، او عملی لار ښودنه به ورته نه کیږی بلکه حقیقت دادی ، چی د الله ﷻ شریعت ددی دپاره راغلی دی چی د انسان د ذات عملی اصلاح وکړی دشرک جهل ، اوګناهونو د تیرونه بهر راؤباسی د ایمان توحید او عمل صالح رڼااورله ورکړی او دغه رنګ د خاندان او معاشری مجموعی لحاظ سره اصلاح وکړی چی الله ﷻ هم رضاء شی او د انسانانو ژوند هم خوشحاله او سوکاله شی هرکله چی د انسان

ژوند په مرګ باندی ختمیږی نو د خپل ژوند په داسی کارونو کښی لګول پکار دی چی صبا قیامت کښی پکار راشی دانسان ، نیکبختی او سعادت پدی کښی دی ، چی خپل ځان په

دین باندی پوه کړی او دنیاوی کارونو کښې هم دینی بصیرت ولری چی د نقصان نه ځان بچ کړې او د خپل ژوند مقصد ته وروورسیږی، او الله ﷻ خوشخاله کړی او د نورو خلقو هم پکار راشی خپل علم ته دعمل جامه ورواچوی او هر ورکوتی غټ ضرورت کښې صرف الله ﷻ ته رجوع وکړی د خپل خالق حقیقی سره تعلق مضبوط کړی ،

ددی وجی نه په سعودی عرب په زلفی ښار کښې ( مکتب التعاونی لدعوة والارشاد و توعیة الجالیات ) دعوتی سنټر دا عزم وکړو چی اسانه پښتو ژبه کښې دا تعلیمی نصاب شایع کړی چی د حق طلبګار شرعی احکامونه باندی په دلیل د قرآن او سنت سره ځان پوهه کړی او عمل ورباندی ورکړی پدی کتاب کښې د انسان د ځانله ژوند او د خاندانی ژوند او د چاپیرچل د معاشری ژوند سره تعلق لرونکی شرعی احکام په دلیل د قران او سنت سره ذکر شوی دی د هغه لوئی الله ﷻ د ذات نه داعاء ده چی دا کوشش د خپل حقیر بنده نه قبول کړی او دا کتاب زما او د ټولو مؤمنانو دپاره د هدایت او د نجات سبب وګرځوی آمین ، یوم الاحد ١٤رجب ١٤٣٩ھ

# دعقیدی بنیادی خبری

## د توحید پیژندنه او د توحید قسمونه

**توحید:**

هغه کارونه چی الله تعالی پوری خاص وی په هغې کښې الله تعالی یک یو ګڼرل ، اود عبادت ټول قِسمونه الله تعالی لره خاص کولو ته توحید وئیلئ شی ، دا هغه لوئي کار دی چې الله تعالی پدی حکم کړیدی ، الله پاک فرمائي:﴿**قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ**﴾ {الاخلاص:۱} ترجمه:اووایه هغه الله پاک یک یو دی ، الله پاک فرمائي: ﴿**وَمَا خَلَقْتُ الجِنَّ وَالإِنْسَ الَّا لِيَعْبُدُونِ**﴾ {**الذاريات**:**٥٦**} ترجمه : نه دی پیداءکړی ما پیریان او انسانان مګردی دپاره چی زمابندګی وکړی ، الله پاک فرمائي: ﴿**وَاعْبُدُوا اللهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا**﴾{النساء: ٣٦} ترجمه:او بندګی وکړئ دالله پاک او مه شریک کوي دهغه سره هیڅ شی .

توحیدپه دری قسمه دی (۱)توحید ربوبیت (۲) توحید ألوهیت (۳) توحید أسماء والصفات.

**(۱) توحید ربوبیت:**

ددی کائناتو په جوړولو او چلولو کښې الله پاک یک یو ګڼرل چی الله پاک روزی ورکونکي ژوند ورکونکي دیے ، او

مرګ راوستونکی دی او دالله پاک په اختیار کښې د زمکې او د آسمانونو بادشاهی ده ، الله پاک فرمائي : ﴿هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّى تُؤْفَكُونَ﴾{فاطر:٣} ترجمه : آیا شته دی پیداء کوونکی سیواء د الله پاک نه چې روزی درکړی تاسو ته د آسمان او د زمکې نه، نشته حقدار دبندګئ سیواء د هغه نه نو څرنګه اړولے کیدیشئ تاسو ، الله پاک فرمائي : ﴿تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ {الملك:١} **ترجمه** : خیرونه (فائدي) ورکونکےهغه ذات دي چې په لاس کښې ئے بادشاهی ده ، او هغه په هر څه باندي قدرت لرونکےدي ، پدي کائناتو کښې چې څه موجوددی په هر څه د الله پاک بادشاهی ده ، او الله پاک پکښې خپل واك او اختیار چلوی څرنګه چې وغواړی ، او هرچیه ددي نظام په چلولو کښې الله پاک یو منل دی ، نو پدی خبره یقین کول ضروري دي چې ددی ټول مخلوق نظام چلولو کښې الله پاک یک یو دی ، الله پاک فرمائي :

﴿أَلَا لَهُ الخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللهُ رَبُّ العَالَمِينَ﴾ {الأعراف:٥٤} **ترجمه** : خبر شئ چې الله پاک لره اختیار د پیداءکولو او حکم کولو دی، برکت ورکونکے دی الله پاک، پالونکی د ټول عالم دی ، د الله تعالي دا قسم تدبیر او تصرفات

تمام مخلوق ته شامل دي ، ددي قسم توحيد نه انكارڅوک هم نکوی مګر څه لږ خلق شته چی ظاهرًا ئی خو انکارکړی دی لیکن دننه زړونه ئی پدی اقرار کوی ، لکه څرنګه چی الله پاک فرمائي: ﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا﴾ {النمل:١٤} **ترجمه** : او انکار اوکړو دوی د معجزاتو نه او یقین کړی وو په هغی باندی زړونو ددوی دوجی د زیاتي او لوئي نه ، صرف په توحيد ربوبيت باندی اقرارکول اقرار کونکي ته فائده نه ورکوی څرنګه چی مشرکانو ته په توحید ربوبیت باندی اقرارکولو څه فائده ورنکړه ، دهغوی په باره کښې الله پاک فرمائی: ﴿وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ﴾{العنکبوت:٦١} **ترجمه** : او که چرته تپوس اوکړی ته ددوی نه چی چا پیداء کړي دي آسمانونه او زمکه او دخپل حکم لاندی کړی ئی دی لمر او سپوږمئ خامخا دوی به وائي ، الله پاک ، پس څه رنګه اړولی شی دوی دحق نه.

**٢ توحيد الوهيت** :

د عبادت ټول قسمونه یواځې د الله تعالي دپاره کول پدي شان چې یو انسان د الله پاک سره په عبادت کښې هیڅ څوک شریک نکړی او نه غیر الله ته نزدیکت حاصل کړی ، د توحید دا قسم د ټولونه اَهم او لوئي دی ، د همدي

مقصد دپاره الله پاک دا ټول مخلوق پیداءکړي دي لکه ځرنګه چي الله پاک فرمائي : ﴿وَمَا خَلَقْتُ الجِنَّ وَالإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ {الذاريات:٥٦} ترجمه : او نه دی پیداءکړی ما پیریان او انسانان مګر دی دپاره چي زما عبادت وکړی، ټول رسولان الله پاک دی دپاره رالیږلی دی، او کتابونه ئی دی دپاره نازل کړی دي، الله پاک فرمائي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ﴾ {الأنبياء:٢٥} ترجمه : او نه دی رالیږلي مونږه مخکښي ستانه هیڅ یو رسول مګر وحی کوله مونږ. هغه ته چی یقیناً نشته حقدار د بندګۍ سیواء زما نه پس بندګی خاص کړی ماله ، دا هغه قسم د توحید دی چی کله رسولانو ددی دعوت مشرکانو ته ورکړو نو هغوی انکار وکړو ، دهغوی وینا الله پاک پدی الفاظو رانقل کوی : [قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ] {الأعراف:٧٠} ترجمه : اووئیل دوی آیا راغلی ئی ته مونږ. ته دی دپاره چی مونږ بندګی اوکړو دیو الله، او پریږدو هغه کسان چی بندګی ئی کوله مشرانو زمونږ ، دغیر الله دپاره هیڅ قسم عبادت کول جائز ندی ، نه د یو نزدی کړی شوی ملائک دپاره ، او نه دیو عزتمند نبی رالیږلی شوي دپاره ، او نه دبل یو

نیک ولی دپاره ، ځکه چی عبادت دهیڅ یو مخلوق جائز نه دی بلکه عبادت صرف او صرف الله پاک پوری خاص دی.

**(۳) توحید الاسماءوالصفات:**

هغه نومونه او صفتونه چی الله پاک دخپل ځان دپاره ایخودي او ذکرکړی دی او هغه نومونه او صفتونه چي دالله رسول صلی الله علیه وسلم د الله پاک دپاره بیان کړیدی ، پدی ټولو باندی ایمان لرل، داصفتونه او نومونه الله پاک لره په هغه طریقه ثابتول څرنګه چی دهغه د شان سره لائق وی، بغیر دتحریف (بدلون) نه ، او بغیر د تعطیل(انکار کولو) نه او بغیرد تکییف(شکل بیانولو) او بغیر دتمثیل(مثال بیانولو) نه منل، او د مجازی معني په ځائی حقیقی معنی باندی حمل کول ضروري دي، (تحریف دیته وائي چي بغیر د دلیل نه د الله صفتونه او نومونه د خپلي ظاهري معني نه اړول.

**تعطیل** : د الله د ټولو یا بعضو صفتونو نه انکار کول دي.

**تکییف**: د الله د صفتونو کیفیت او طریقه په زړه یا ژبے سره بیانول دي، لکه داسي ووائي ، د الله لاس داسي داسي دي.

**تمثیل** : د الله تعالي صفتونه د مخلوق د صفتونو سره مشابه کول ، یا دا عقیده ساتل چي دا د مخلوق د صفتونو سره مشابه (یو شان) دي،که کوم بعض نومونه د مخلوق د نومونو

سره مشابه وي نو هغه صرف لفظي مشابهت دي ، په حقیقت كي دواړو ترمينځ لوي فرق دي، لكه (رحیم) الله تعالي ته هم وائي ، او د مخلوق په صفت كي هم راغلي دي ، خو د الله تعالي رحمت د هغه د شان لائق دي ، او د مخلوق رحمت د زړه نرموالي او مهرباني كولو ته وئيلي شي ، دارنګه هر هغه څه نفی کول چی الله پاک دخپل ذات نه نفی کړی وی ، یا د هغه رسول صلی الله علیه وسلم د هغه دذات نه نفی کړی وی او هغه څیزونه چی د الله پاک او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابتول او نفی کول ئی نه وی نقل شوي، نو مونږ به هم پکښې خاموشی اختیاره وو، نه به د هغې د ثابتولو کوشش کوؤ او نه به تری انکار کوؤ.

**داسماءحسنی بعض مثالونه:**

الله پاک خپل ځان په (الحيِ القيوم ) باندی نامداره کړی دی نو په مونږه لازم دی چی ایمان ولرو پدی خبره چی الحيِ دالله پاک د نومونو نه یو نوم دی ، او دارنګه دا خبره هم په مونږ لازمه ده چي ایمان ولرو په هغه صفت چي ددي نوم نه معلومیږی ، چي هغه کامل ژوند دی چي مخکښې وربandی نشتوالی نه وؤ او روستو به وربandی فناء نه راځی ، او دغه رنګه الله پاک خپل ځان په (السمیع) باندی نامداره کړیدی، مونږه به ایمان لرو چی السمیع دالله پاک د نومونو نه

یو نوم دی او سمع (آوریدل) د الله پاک د صفتونونه یو صفت دی چی الله پاک آوریدل کوی څرنګه چی دهغه دشان سره لائق وی.

**دالله پاک د بعض صفاتو مثالونه** : الله پاک فرمائي : ﴿**وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ**﴾ {المائدة: ٦٤} **ترجمه** : او وائي يهوديان لاس د الله پاک بند کړی شوی دی ، (الله پاک فرمائي) بند دِی کړیشی لاسونه ددوی ، او لعنت کړی شویدی په دوی باندی په سبب د هغی چی دوی وویل ، بلکه دواړه لاسونه د الله پاک فراخه دی ، خرچ کوی څرنګه چی اوغوړی ، پدی آیت کښې الله پاک خپل ځان دپاره دوه لاسونه ثابت کړی دی او د هغوي دپاره ئی دا صفت ثابت کړی دی چی فراخه خرچه کونکی دی ، نو په مونږ لازم دی چی ایمان ولرو ، چی د الله پاک دپاره دوه لاسونه دی په ورکړه او نعمتونو باندی فراخی کونکی دی، لیکن په زړه کښې به د هغی تصویر نه جوړه وؤ او نه به په ژبه پکښې خبریکوؤ چی په داسی داسی طریقه دی ، او نه به دمخلوق د لاسونوسره تشبیه ورکوؤ، ځکه چی الله پاک فرمائي: ﴿**لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ**﴾ {الشُّورى:١١} ترجمه: دهغه پشان هیڅ نیشته او هغه هر څه اوری هر څه وینی ، ددی قسم توحید خلاصه داده چی په مونږه لازم دی چی الله پاک لره به

هغه څه ثابتوؤ چی د خپل ځان دپاره ئی ثابت کړی وی ، یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورله بیان کړی وی ، او هر هغه څه به دالله پاک د ذات نه نفی کوؤ چی الله پاک دخپل ذات نه نفی کړی وی ، او یا رسول الله صلی الله علیه وسلم تری نفی کړی وی ، دا اصول په ټولو اسماء او صفات کښې چلیږی ، یعني بغیر د تحریف (بدلولو) نه ، بغیر دتمثیل (مثال بیانولو) نه ، بغیر د تکییف (شکل بیانولو) نه او بغیر د تعطیل (د معنی نه انکار کولو)نه ټول اسماء اوصفات د الله پاک منل .

**دکلمه توحید لااله الا الله معنی:**

لا اله الا الله : داد دین بنیاد دی، په دین اسلام کښې ددی اُوچت مقام دی، دا اول رکن دی د ارکانو داسلام نه، او اوچته ځانګه ده د ځانګو د ایمان نه ، تر هغی عملونه نه قبلیږی تر څو چی پدی کلمه اقرار ونکړی ، او په معنی ئی ځان پوهه نکړی ، او ددی د تقاضا مطابق عمل ونکړی ، د توحید د کلمي صحیح معنی اختیارولو نه علاوه خلاصی نشته چي هغه داده (لا معبود حق الا الله) د الله پاک نه علاوه هیڅ معبود (حقدار د عبادت) په حقه نشته ، دا معنی تقاضاکوی چی د یو الله تعالی عبادت به کولی شي او د غیرالله هر قسم عبادت به پریښودلی شي ، او ددي داسي معنی کول ښکاره خطائي ده چي د الله نه علاوه بل خالق نشته دي ، دالله نه علاوه بل په موجودولو باندي قادر نشته

دي ، يا دالله نه علاوه بل حقيقى موجود نشته دي ، پدي معنو كښې توحيد ربوبيت خو شته ليكن توحيد اُلوهيت پكښې نشته ، او ددي كلمي اصل خو توحيد اُلوهيت دي.

**د توحيد د كلمي اركان:**

ددي كلمې دوه ركنه دى ، (١) نفى: (لا اله)، دا كلمه د هر څيز نه د اُلوهيت نفى كوى، يعني هيڅ (**حق**) معبود نشته.

(٢)اثبات: (الا الله) ، دا كلمه د يو الله تعالي اُلوهيت (معبود كيدل) ثابتوى، ځكه چي د الله پاک نه علاوه د بل چا بندګى ونکړى شى ، او نه د بندګى څه حصه د غيرالله دپاره وکړى شى ، چاچى پدى كلمه اقرار وكړو، او ددى په معنى ئى ځان پوهه كړو ، او ددى په تقاضا ئى عمل وكړو چى د شرک نفى كول او دتوحيد ثابتوى ، ددى د تقاضا مطابق د مضبوط يقين سره ئى عمل وكړو دا رشتينى مسلمان دى ، او چاچى په دى كلمه عمل وكړو بغير د عقيدى او يقين نه، نو دا منافق دى ، او چاچى ددى په خلاف عمل وكړو يعني شرک ئى وكړو ، نو دا مشرک او كافر دى اګر كه په ژبه باندى دتوحيدكلمه وائي.

**د کلمه توحید ( لااله الا اللّٰه) :**

فضیلت د توحید د کلمی ډیرفضائل او فوائد راغلی دی ، بعض دهغی نه دادی:

(١) مواحد انسان چی د ګناهونو د وجی نه د جهنم مستحق شوی وی ، کلمه دا توحید دهغه او د جهنم مینځ کښې د همیشوالی نه مانع جوړیږی ، نبي اکرم صلی اللّٰه علیه واله وسلم فرمايلي دی : « **يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ:لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ شَعِيرَةٍ مِنْ خَيْرٍ،وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ:لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ بُرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ، وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ:لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ**»متفق علیه [:١٩٣/٤٤] **ترجمه** : د اُور نه به راوځی چاچی لا اله الا اللّٰه ووئیلی وی او د هغه په زړه کښې ئی د وربشی د دانئ په اندازه خیر(ایمان) وی ، او داُور نه به راوځی چاچی لااله الااللّٰه ووئیلی وی او د هغه په زړه کښې دغنم ددانئ په اندازه خیر(ایمان) وی ، او داُور نه به راوځی چاچی لا اله الا اللّٰه ووئیلی وی او د هغه په زړه کښې د یوی ذری په اندازه خیر (ایمان) وی.

(٢) انسانان او پیریاند توحیدپه خاطر پیدا شوی دی ، اللّٰه پاک فرمائی : «**وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ**» (الذاريات :٦٥) **ترجمه** : (ما ندی پیداء کړی پیریان اوانسانان مګر ددی دپاره چی زما بندګی وکړی) د يَعبدون معنی ده،

يُوَحِدون ، يعنی زما توحيد ومنی، او ما په بندګۍ سره يوازي کړي.

(٣) د کلمه توحيد دپاره الله پاک رسولان راليږلي دی، او کتابونه ئی نازل کړي دي، الله پاک فرمائی : «**وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلاَّ نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدُونِ**» الانبياء (٢٥) **ترجمه** : (او ندی ليږلی مونږ مخکښې ستانه هيڅ يو رسول مګر وحی کوله مونږ هغه ته چی يقيناً نشته حقدار د بندګۍ سيواء زمانه پس ماله بندګی خاص کړئ).

(٤) د ټولو رسولانو دعوت ددی کلمۍ نه شروع شويدی ، درسولانو اول دعوت هم دا کلمه ده ، هر يو رسول به خپل قوم ته وئيل: «**يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ**» (الاعراف: ٥٩) ترجمه: اے زما قومه ! بندګی خاص کړئي الله پاک لره ، نشته تاسو لره څوک معبودسيواء د هغه نه.

## د کلمه توحيد لا اله الا الله شرطونه :

لا اله الا الله دپاره اُوه (٧) شرطونه دی ، ددی اقرار تر هغه وخت پورې نه صحيح کيږی تر څو چی يو بنده دغه ټول پوره نکړی ، او د هغی اهتمام ونکړی بغير د ماتولو دڅه شي د هغي نه.

(١) **العلم** : ځان پوهه کول د کلمے په اول جزء نفی (لااله) او دويم جزء اثبات (الا الله) باندی ، او ددی وجی نه کوم عمل چی لازم

وی د هغی علم هم لازم وی ، کله چي بنده پدي پوهه شی چي الله پاک یواځی حق معبود دي ، او دغیرالله بندګی باطله ده نو دي عالم شو په صحیح معنی ددي کلمۍ باندی په حقه سره الله پاک فرمائی : « **فَاعْلَمْ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ**» محمد : ١٩ . ترجمه : پس پوهه شه چی یقیناً نشته حقدار د بندګۍ سیواء دالله تعالی نه ، عن عثمان رضی الله عنه عن النبی کریم صلی الله علیه واله وسلم قال: «**مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ**» (مسلم:٢٦) ترجمه : عثمان رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوی چي هغه فرمائیلی دی ، څوک چی وفات شو او پدی خبره پوهیدو (یقین کونکی وو) چی (لااله الا الله) یعني نشته حقدار دبندګۍ سیواء دالله پاک نه نو جنت ته به داخلیږی.

(٢) **الیقین** : ددی مطلب دادی چه د کلمۍ الفاظ پداسی طریقه ووئیلی شی : چی زړه ئی د یقین او اطمینان نه ډک وی د انسانانو او پیریانو شیطانانو د وسوسو نه ئی زړه پاک وی، ددی کلمۍ په معنی او مقصد باندی مضبوط یقین لری ، ورسره دا کلمه آداء کړی لکه څرنګه چی الله پاک فرمائی : «**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا**» الحجرات : ١٥ ترجمه : یقینًا مؤمنان هغه کسان دی چی ایمان ئی راوړیدی په الله پاک ، او په رسول د هغه باندی ، بیا ئی

هیڅ شک ندی کړی ، وعن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : «**أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّى رَسُولُ اللَّهِ لاَ يَلْقَى اللَّهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرَ شَاكٍّ فِيهِمَا إِلاَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ**» [مسلم۲۷] ترجمه : د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی، چی یقینًا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وفرمایل : « زه ګواهی کوم چی نشته حقدار دبندګئ سیواء دالله پاک نه ، او زه د الله حق رسول یم ، د الله سره نه میلاویږی یو بنده پدی دوارو ګواهیو باندي په داسی حال کي چی هیڅ قسم شک ئی پکښې نه وي کړی مګر جنت ته به داخل شی.

(۳) **القبول** : یعنی د کلمه توحید تقاضازړه اوژبے سره قبلول او د شارع د طرفنه دراغلی خبرو تصدیق کول او کومه خبره چی د نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم نه صحیح ثابته شی په هغی پوره طریقئ سره ایمان راوړل ، الله پاک فرمائی : «**آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ**» البقرة : ۲۸۵ **ترجمه** ایمان راوړیدی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په هغه څه چی نازل کړی شوي دي هغه ته د طرفه د رب دهغه نه او مومنانو هم ټولو ایمان راوړی په الله پاک اوپه ملائکو دهغه او کتابونو دهغه او رسولانو د هغه او (وائی دوی) جدائي نه کوؤ (په ایمان

راوړلوکښې) په مینځ دهیچا کښې د رسولانونه او وائی دوی واوریدلو مونږ او تابعداری کوو مونږ ، غواړو بخنه ستانه اے څمونږه ربه ! او تاته دی درګرځیدل د ټولو ، ددی کلمې انکار او نه قبلولو کښې هغه څوک داخل دی چی د شریعت په بعض احکامو باندی اعتراضونه کوی او یا ئی رد کوی څرنګه چی بعض خلق د غلا او زنا په حدودو اعتراض کوی ، د یو نه زیاتی ښځی کول ، او د میراث په احکامو اعتراض کوی او داسې نور احکام واخله ، الله پاک فرمائی : «**وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ**» [الاحزاب:٣٦] ترجمه : اونه دی مناسب مؤمن سړی او مؤمن ښځه لره کله چی فیصله وکړی الله پاک او رسول دهغه د یو څیز ، چی وی دِی دوی لره اختیار د دوي په کار کښې ، او چاچی خلاف وکړو دحکم د الله پاک او د رسول د هغه نه نویقیناً ګمراه شو په ګمراهئ ښکاره سره .

(٤) **الانقیاد** : ددی کلمې مقصد ته غاړه ایښودل او ځان سپارل دی ، لااله الاالله چی په کومو خبرو دلالت کوی هغی ته ځان تابع کول ، د انقیاد او قبول ترمینځ فرق دادی چی ددی کلمی د معنی او مفهوم د صحیح والی اقرار په ژبه باندی کولو ته قبول وائی ، او انقیاد دیته وائی چه عمل کښې ددی کلمې تابع شی ، نو کله چی یو تن ته د (لااله الا الله) معنی

معلومه شوه او ده د زړه په یقین سره قبوله کړه لیکن په عمل کښې ئې ددی اطاعت ونکړواو خپل سر ئې ورته بنکته نه کړو او خپل ځان ئې ورته پوره طریقی سره ونه سپارلواو څه چې ورته معلوم شوی وو ، په هغی ئې عمل ونکړو ، پدی ټولو صورتونو کښې ده د انقیاد شرط پوره نه کړل، الله پاک فرمائی : «وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ» الزم: ٥٤ **ترجمه** : راوګرځی (په توبې کولو سره) رب خپل ته او تابع شی د حکمونو د هغه ، الله پاک فرمائی : «فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا » النساء: ٦٥. **ترجمه** : (پس داسی نه ده ، قسم دی ستا په رب باندی نشی مؤمنان کیدی تر هغی چې فیصله وکړی په تا باندی په هغه معامله کښې چې پیداء شوی وی په مینځ ددوی کښې بیا نه مومی په زړونو خپلو کښې تنګسیا (خفګان) دهغی فیصلی نه چې تا کړی وی ، او منی به ستا فیصله په همیشه منلو سره).

(٥)**الصدق** : ددی مقصد دادی چې یو بنده خپل ایمان کښې رشتینی وی ، او خپله عقیده کښې رشتینی وی، الله پاک فرمائی : «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ» التوبه : ١١٩.**ترجمه** : (اے ایمان والو ! یره کوئ د الله نه او شئ ملګری د رشتینی خلقو) ، وقال صلی الله علیه وسلم : « من

شهدان لا اله الا الله صادقا بها دخل الجنة» [رواه احمد وصححه الباني] ترجمه : څوک چې درشتینی زړه نه ګواهی وکړی چې نشته حقدار دبندګئ سیواء د الله پاک نه نو جنت ته به داخل شی ، او که په ژبه کلمه د توحید وائی او په زړه کښې ددی د معنی او مقصد نه انکار کوی ، دا عمل ده لره نجات نشی ورکولی، بلکه د منافقانو په ډله کښې داخلیږی ، او د تصدیق منافی (ضد) کار دا دی چې یو انسان دهغه هدایت او وحي نه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورباندی راغلی دی انکار وکړی ، او یا د هغې د بعضی حصی نه انکار وکړی ، ځکه چې الله پاک مونږ ته امر کړیدی په اطاعت او تصدیق د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی ، ځکه چې د خپل اطاعت سره الله پاک دهغه اطاعت پیوسته کړی دی ، الله پاک فرمائی : (**قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ** ) النور/٥٤) ترجمه : ته اُووایه چې تابعداری د الله پاک وکړئ او تابعداری د رسول الله صلی الله علیه وسلم وکړئ.

(٦) **الاخلاص** : ددی مقصد دادی چې انسان خپل ټول نیک عملونه په خالص نیت باندی د هر قسمه شرک او دهغې د میلاوټ نه پاک کړی ، پدي طریقه چي ټولی خبری او کارونه خاص د الله تعالي د مخ او د هغه د رضا طلب کولو دپاره کوی ، هیڅ قِسمه میلاوټ د ریاء (ځان ښودنی) او د

شهرت په کښې نه وي ، او د دنیوی فائدو او ذاتی اغراضو او د خپل ښکاره او پټ خواهش پوره کولو نه پاک وی ، او نه یو عمل د چا دمحبت د وجی نه کوی ، او نه د یو مذهب او ډلے د وجے نه چی د الله پاک ددین نه لری وی ، بلکه د دعوت او تبلیغ مقصد به د الله پاک رضا او د آخرت نجات وی چی په زړه کښې د یو انسان خیال رانشی چی دهغه نه د شکر او دجزاء طلبګاروی .

الله پاک فرمائی : «أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ » الزمر: ۳ ترجمه: خبرشئ ! خاص الله پاک لره دین (بلنه)خالص دی ، الله پاک فرمائی : ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴾ (البینه: ٥) ترجمه : او نه دی حکم کړی شوی دوی ته مګر دپاره ددی چی بندګی ډِی کوی د الله پاک چی خالص کونکی وی هغه لره بندګی ، په بخاری او مسلم کښې د عتبان بن مالك رضی الله عنه نه روایت دی ، چی نبی کریم ﷺ فرمائی : (فَإِنَّ اللهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ : لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ اللهِ) متفق علیه . ترجمه : پس یقینا الله پاک په اور هغه څوک حرام کړیدی چی لا اله الا الله د الله د رضا د لټولو دپاره ووائی .

المحبة : یعني ددی لوئی شان والا کلمئ سره محبت کول ، چی دا محبت شامل دی ددی کلمئ معنی اومقصد ته ، او هغه څه

ته چی دا کلمه دهغی غوښتنه کوی ، یعنی د الله پاک او د رسول الله ﷺ سره محبت وکړی او ددوی محبت په ټولو محبتونو باندی مخکښې وی ، د محبت شرطونه او لوازم په مضبوطوالی سره ونیسی ، د الله پاک محبت به پیوسته وی د هغه د اِجلال او تعظیم (لوئی) سره ، او د یری او امید سره ، او محبت به کوی د هغه څه سره چی دالله خوښ وی ، لکه د ځایونونه مکه مکرمه او مدینه منوره او عام مساجد او په وختونو کښې رمضان ، او لس ورځے دذی الحجے وغیره او په اشخاصو کښې انبیاء کرام ، رسولان ، ملائک علیهم السلام صدیقین ، شهداء او صالحین ، او په افعالو کښې مونځ ، زکاة ، روژه او حج وغیره ، په اقوالو کښې ذکر او تلاوت د قرآن کریم وغیره ، او د الله پاک محبوب د خپل نفس په خواهشاتو او محبوباتو مخکښې کړی ، او هغه څه بد وګنړی چی د الله پاک بدی شی ، دالله پاک کفر، فسق او نافرمانی بدی شی ، الله پاک فرمائي :« **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلاَ يَخَافُونَ لَوْمَةَ لآئِمٍ** » [المائدة: ٥٤] . ترجمه : اے ایمان والو! خوک چی مرتد شو ستاسو نه د دین خپل نه (په دوستانه دکافرانو سره) پس زر دی چی رابه ولی الله پاک داسی قوم چی

مینه به کوی ، الله پاک د هغوی سره او هغوی به مینه کوی ، د الله پاک سره ، نرم به وی په مؤمنانو باندی ، او سخت به وی په کافرانو باندی ، جهاد به کوی په لاره د الله کښې ، اونه به یریږی د ملامتیا د ملامت ګرنه.

**معنی د محمد رسول اللهﷺ:**

یعني ددی څه معني ده چي محمد صلي الله علیه وسلم د الله رسول دي ؟ د توحید د کلمۍ ددی جزء معنی داده چی په ښکاره او پټه باندی محمد مصطفی ﷺ د الله تعالی بنده او ټولو انسانانو ته د الله پاک د طرفنه رالیږلۍ شوی رسول ومنلۍ شی ، او ددی په تقاضا باندی عمل وکړی شی ، په څه باندی چی امر کوي هغه ومنلي شي ، او د څه چی خبر ئې ورکړیدی په هغې تصدیق وکړیشی او د څه نه چی منع کړی ده د هغې نه منع کیږی او دالله پاک عبادت په هغه طریقه کوی چی رسول الله ﷺ ښودلی وی ، د کلمه شهادت ددی حصی دوه ارکان دی ، (عبده ورسوله) دادواړه په حق د نبی کریم ﷺکښې افراط او تفریط (کمۍ او زیاتی) ختموی ، نو نبي کریم ﷺ د الله پاک بنده او رسول دی ، په دی دواړو عزتمندو صفاتو کښې د هر چا نه کامل دی ، د عبد معنی ده بنده عبادت کونکی، یعنی نبی کریم ﷺ بشر دی ، نور

انسانان چه د څه نه پیداء شوي دي ، د هغي نه نبی کریم ﷺ هم پیداء شوی دی ، کوم ضرورتونه چی د نورو انسانانو دی هغه د نبی کریم ﷺ هم دی ، الله پاک فرمائی : (قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ) الکهف:١١. ترجمه : ( ته اووایه ! یقینا زه بنده یم ستاسو پشان (محتاج یم) ، او الله پاک فرمائی : (الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنزَلَ عَلَىٰ عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجًا ) الکهف: ١ ترجمه : (ټول صفتونه د الوهیت خاص دی الله پاک لره هغه ذات دی چی نازل کړی ئی دی په بنده خپل باندی کتاب ، اونه ئے دی ګرځولي (دی قران له ) لره هیڅ کږلیچ) د رسول معنی داده : یعني ټولو انسانانو ته ددعوت الی الله دپاره رالیږلی شوی دی زیری او یره ورکونکی دی ، د رسول الله ﷺ دپاره ددی دوه صفتونو (اقرار د عبدیت او اقرار د رسالت) ګواهي ورکولو سره دا خبره لازمه ده چی د نبی کریم ﷺ په باره کښې به افراط او تفریط یعنی کمی او زیاتی نشي کولی ، اګر چی ددی امت بعض خلقو د نبی کریم ﷺ په شان مبارک کښې ډیره غُلو او زیاتی کړیدی تردی پوری چی بعضو د عبدیت دمرتبۍ نه د الوهیت مرتبۍ ته رسولی دی ، مددونه تری غواړی سیواء دالله نه او دهغه څیزونو غوښتنه تری کوی چی دهغی په ورکولو صرف الله پاک قادر دی لکه د حاجتونو پوره کول د غمونو او مصیبتونو لری کول وغیره

وغیره ، بعض نورو خلقو خو د هغه د رسالت نه انکار کړی دي او کوتاهی ئی کړی ده په تابعدارئي او د واجب حق د نبی کریم ﷺ کښې چی مخکښ کړی ئی دی اقوال د ټولو انسانانو په اقوالو او حُکمونو د رسول الله ﷺ باندی ، او د نبي کریم ﷺ د سنتو مبارکو سره ئی جفاء کړی ده او مخ ئےتری اړولي ، او په هغه اقوالو باندی ئی اعتماد کړی چی د نبی کریم ﷺ د راوړلے شوی تعلیماتونه مخالف دی .

## د ایمان ارکان

ایمان د قول (وینا) عمل اوعقیدی نوم دی چی په نیکو اعمالو سره زیاتیږی او په ګناهونو او نافرمانئ سره کمیږی، ایمان دزړه او د ژبے وینا ده او د زړه او ژبے او د اندامونو عمل دی ، یعنی د زړه وینا عقیده ساتل دی ، تصدیق کول دی ، او د ژبے وینا اقرار کول دی ، د زړه عمل تسلیمیدل، اخلاص کول ، یقین ، محبت کول او د نیک کارونو ارادی لرل دی ، او داندامونو عمل حکمونه اداکول دی ، او د ګناهونو نه منع کیدل دی ، قرآن کریم او سنت نبوي پدی خبره ګواهی کوی چی ایمان دپاره څه اصول دی چي هغه ایمان په الله پاک باندي ، په ملائکو د هغه ، په کتابونو د هغه ، په رسولانو دهغه ، په ورځ روستنئ باندي اوپه تقدیر دخیر او

شر باندي ايمان لرل دی ، الله پاک فرمائی :« آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ».[البقره: ۲۸۵] **ترجمه** : ایمان راوړیدي رسول ﷺ په هغه څیزونو چي نازل کړي شویدی دی هغه ته د طرفه د رب دهغه نه ، اومؤمنانو هم ، هريو ايمان راوړی دی په الله پاک او په ملائکو دهغه اوپه کتابونو د هغه او په رسولانو دهغه ، (وائي دوی) جدائي نه کوو مونږه (په ايمان راوړلو کښې) په مينځ د هيڅ يو تن د رسولانونه ، او وائی دوی واوريدلو مونږ او تابعداری کوو مونږ ، غواړو بخنه ستانه اے څمونږ ربه ! او تاته دی درګرځيدل دټولو ، او په حديث د مسلم کښې د عمر رضی الله عنه نه نقل دی ، جبريل عليه السلام د نبی کريم ﷺ نه د ايمان په باره کښې تپوس وکړو ، نبی کريم ﷺ وفرمايلي دی : «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكِتَابِهِ، وَلِقَائِهِ، وَرُسُلِهِ، وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ كُلِّهِ» (مسلم :۸ ) ترجمه : (ايمان دادی چی ته ايمان راوړی په الله باندی ، او په ملائکود هغه ، په کتابونو د هغه ، او په ملاقات دالله تعالی باندي ، او د هغه په رسولانو، او ايمان راوړی په دوباره راپورته کيدلو باندی ، او ايمان راوړی په ټول تقدير باندی ) ، دا د صحيح عقيدی شپږ

اصول او بنیادي کارونه دی چی الله پاک په قرآن کریم کښې بیان کړی دی او پدی عقیده باندی نبی کریم ﷺ رالیږلی شوی دی ، دیته ارکان د ایمان ووئیلی شی.

**اول : په الله پاک باندی ایمان لرل** :

الله پاک باندی دایمان راوړلو معنی داده چی الله پاک په خپل ربوبیت کښې په الوهیت کښې او په نومونو او صفتونو کښې یک یو وومنلے شی ، الله پاک باندی ایمان راوړلو کښې دا راتلونکی ټولے خبری داخلی دي .

(۱) پدی خبره ایمان راوړل چی هغه حقیقی معبود دی ، د عبادت حقدار دی نه بل هیڅ څوک ، ځکه چی هغه ټول بندګان پیداء کړیدی او ورسره مهربانی کوی ، رزق ورکوی ، او د ټولو په ښکاره او پټو حالاتو باندی خبر دی ، تابعدارو ته په غوره بدله او نافرمانو ته په سزا ورکولو باندی قدرت لری ، ددي حقیقت دادي چی د عبادتونو ټول اقسام د الله پاک دپاره یواځې کول چه صرف د هغه دپاره په عاجزئ او مینئ او یری سره وکړی شی سره د کمال محبت او ذلت نه د الله پاک عظمت ته ، ددی لوئی مقصد د بیانولو دپاره دقرآن کریم اکثره حصه نازله شویده ، الله پاک فرمائی : **«فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ (۲) أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ»** الزمر۲-۳ **ترجمه:** پس بندګی کوه الله پاک لره خالص کړه هغه لره بندګی

اوخبرشئ خاص الله پاک لره دین (بندګی) خالص ده ، او الله تعالي فرمائي : «**فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ** » غافر١٤ **ترجمه** : حاجتونه غواړئ د الله نه چه خالص کونکی ئی هغه دپاره بلنه اګرچی بدګنړی کافران ، بل ځائی الله پاک فرمائی : « **وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ** » الاسراء: ٢٣. **ترجمه** : (او فیصله کړیده ستا رب چی بندګی مه کوی مګر صرف ددغه الله ) ، د عبادت ډیر زیات قسمونه دی لکه دعاء ، یره ، امید ، توکل ، مینه ، عاجزی ، مدد غوښتل ، پناهي غوښتل ، فریاد کول ، باران غوښتل ، ذبحه کول ، نذر او منخته کول ، ددی نه علاوه دعبادت ډیر زیات شکلونه دی چی د غیر الله دپاره کول ئے جائز ندی بلکه د غیر الله دپاره کول ئے شرک او کفر دی.

**ددعاءدلیل** : الله پاک فرمائی : « **وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ** » غافر : ٦٠ ترجمه : (او وئیلی دی رب ستاسو حاجتونه غواړئ زمانه زه به ستاسو دعا قبلوم ، یقینًا هغه کسان چی لوئی کوی ددعاء زمانه زر دی چی داخل به شی جهنم ته چی ذلیلان به وی) ، په حدیث د نعمان بن بشیر رضی الله عنه کښي راغلی دی ، هغه د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی

«**الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ**» (رواه الترمذی : ۲۹۶۹) ترجمه : دعاء عین عبادت دی.

**د خوف (یرئ) دلیل** : الله پاک فرمائی :«**فَلاَ تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ**»آل عمران : ۱۷۵.ترجمه : (پس مه یریږئ د هغوی نه او اُویریږئ زمانه که ئی تاسو مؤمنان)،

**دلیل د رجاء (امید)** : الله پاک فرمائی : (**فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا** )الکهف: ۱۱۰. ترجمه : (څوک چی امید لری د ملاقات درب خپل نو عمل دِی وکړی د سنت برابر او شریک دِی نه جوړوی په بندګئ د رب خپل کښې هیڅوا لره).

**دلیل د توکل (ځان سپارل)** : الله پاک فرمائی : «**وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُواْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ** » المائدة : ۲۳. ترجمه : (او خاص په الله پاک باندی توکل کوئی که تاسوئی مؤمنان) ، او بل ځائی الله پاک فرمائی : «**وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ**». الطلاق : ۳ .ترجمه : (چا چی ځان وسپارلو په الله پاک باندی نو الله پاک به ورله پوره شی) .

**دلیل د رغبت ، رهبت ، اوخشوع** (یعني د مینئ ، یری او عاجزئ) : الله پاک فرمائی : «**إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ** » الانبیاء:۹۰) ترجمه: یقینًا دوی (انبیاء علیهم السلام) به کوشش کولو په ټولو

نیکو کارونو کښې ، او حاجتونه ئې غوښتل زمونږ نه ، په مینه او په یره سره ، او وو دوی مونږ ته عاجزی کونکے.

**دلیل د خشیت** ( د الله تعالي نه یرئ) : الله پاک فرمائی: «**فَلاَ تَخۡشَوۡهُمۡ وَاخۡشَوۡنِي**»البقرة : ١٥ . ترجمه : (پس مه یریږئ د دوینه او ځمانه اُویریږئ).

**د إنابت دلیل** (الله تعالی ته واپس کیدل) : الله پاک فرمائی : «**وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُوا لَهُ**» الزمر: ٥٤. ترجمه : (او را وګرځئ (په توبه کولو سره) رب خپل ته او تابع شئ د حکمونو د هغه).

**د استعانت(الله تعالی نه مدد غوښتلو) دلیل** : الله پاک فرمائی : « **إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ** » الفاتحه : ٥ ترجمه : (خاص تا لره بندګی کوو مونږ او خاص ستانه امداد غواړو) او نبی کریم ﷺ فرمائی : (اذا استعنت فاستعن بالله) الترمیذی : ٢٥١. ترجمه : کله چي ته مدد غواړي نو مدد غواړه د الله نه.

**د استعاذئ (پناهئ غوښتلو) دلیل** : الله پاک فرمائي : « **قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاس**» (الناس :١) **ترجمه** : ته اُووایه ! پناهی غواړم په رب دانسانانو باندی.

**د استغاثے (فریاد کولو) دلیل** : الله پاک فرمائی : « **إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَاسۡتَجَابَ لَكُمۡ**» الانفال : ٩ ترجمه :(کوم

وخت چي فريادکولو تاسو خپل رب ته پس قبوله ئے کړه دعاء ستاسو).

**دليل د ذبحې** : الله پاک فرمائی : « **قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ** (١٦٢) **لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ** » الانعام : ١٦٣. ترجمه : اُووايه ! يقينا مونځ زما او قرباني (مالی عبادت) زما او ژوند زما او مرګ زما خاص الله پاک لره دی چی رب د ټول مخلوقاتو دی ، نشته هيڅ برخی والا د هغه سره ، او په دی سره حکم کړی شوي دی ، چی ماته او زه اول د تابعداري کونکو نه يم .

**د سنتو نه دليل** : نبی کريم ﷺ فرمايلی دی : « **لَعَنَ اللَّهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللَّهِ** » مسلم : ١٦٣ . ترجمه : لعنت کړی الله تعالي په هغه چا چی دغير الله په نوم باندی ذبح کوی.

**د نذر دليل** : دا وينا د الله پاک ده : (**يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا**) الانسان :٧) ترجمه : (پوره کوی دوی منخته او ويره کوي د هغه ورځی نه چی د هغی سختي خوره وره ده ) ، تر دی پوری چی عام عادتونه کله چی مقصد پکښې ځان د الله پاک د اطاعت دپاره قوی کول وی دغه عادت هم عبادت وګرځی لکه خوب ، خوراک ، څښاک ، رزق پيداکول ، نکاح کول وغيره چی مؤمن ته په صحيح نيت باندی حاصليږی

(٢) الله پاک باندی ایمانراوړلو کښې یوه حصه داده چی په تمامو فرائضو او واجباتو او د اسلام پنځه ظاهری ارکانو باندی ایمان راوړلی شی چی هغه ګواهی د توحیداو د رسالت ده ، د مونځ پابندی ، زکات ورکول ، د رمضان روژه نیول ، او د بیت الله حج کول دی ، څوک چی د سفرکولو وس لری ، ددی نه علاوه نور احکام او فرائض چی شریعت مطهره بیان کړی دی هغه منل دي.

(٣) په ایمان بالله کښې دا خبره هم داخله ده چی ایمان ولری پدی خبره چی الله پاک د ټول عالم پیداکونکی دی او د ټول مخلوق تربیت کونکی دی او په ټول عالم کښې په خپل قدرت اوعلم سره تصرف کونکی دی ، د دنیا او د آخرت مالک دی ، د ټولو مخلوقاتو پروردګار دی ، بل خالق نشته د هغه نه علاوه ، هغه رسولان او کتابونه رالیږلی دی دبندګانو د اصلاح او د دنیا او د آخرت د نجات دپاره ، په دی ټولو کارونو کښې الله پاک سره هیڅ څوک شریک نشته دی.

الله پاک فرمائی : «اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ» الزمر: ٦٢ ترجمه : (الله پاک پیداکونکی د هر څیز دی او هغه په هر څیز ذمه وار دی )

(٤) د ایمان بالله یوه حصه داهم ده چی د الله پاک په خائسته نومونو او د لوئی په صفتونو باندی ایمان راوړلے شی هغه چی

قرآن کریم ذکرکړیدی اویا د رسول امین ﷺ نه په صحیح احادیثو کښې نقل دی بغیر د تحریف (بدلون) نه ، بغیر د تعطیل (انکار کولو) نه ، بغیرد تکییف ( شکل بیانولو) نه ، او بغیر د تمثیل (مثال بیانولو) نه او ایمان راوړل په هغه معناګانو چی دا نومونه ورباندی دلیل وی ځکه چې دا اوصاف د الله پاک دی چی د الله پاک صفت پری په صحیح طریقه کیږی چی دهغه د شان سره څنګه لائق وی ، لکه څنګه چی الله پاک فرمائی : (**لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ**) الشوری : ۱۱. ترجمه : (نشته د هغه پشان هیڅ څیز او هغه هرڅه اوری، هر څه وینی ).

**دویم : د الله پاک په ملائکو باندی ایمان لرل دي :**

په ملائکو باندی د ایمان راوړلو دوه صورتونه دی ، اجمالی او تفصیلی ایمان ، اجمالی ایمان : مونږ ایمان لرو پدی خبره چی الله پاک دپاره ملائک شته ، الله پاک پیدا کړی دی ، او فطرت کښې ئی ورله اطاعت اچولی دی ، ډیر قسمونه لری، بعض ملائکو د الله پاک عرش اوچت کړیدی ، بعض د جنت او جهنم څوکیداران دی ، بعض ملائک د بندګانو د اعمالو حفاظت کوی.

**تفصیلی ایمان** : د کومو ملائکو چی الله پاک او د هغه رسول ﷺ نومونه ذکر کړیدی ، په هغی ایمان لرل لکه جبرائیل ،

میکائیل ، اسرافیل او د جهنم ځوکیدار مالک علیهم السلام وغیره ، ملائک الله پاک د نُور نه پیداء کړی ، په حدیث د عائشه رضی الله عنها کښې راغلی دی : **قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم : «خُلِقَتِ الْمَلاَئِكَةُ مِنْ نُورٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ »** مسلم ۲۹۹۶ ترجمه : نبی کریم ﷺ فرمايلي دی : ملائک د نُور نه پیداء شویدی ، د پیریانو پلار جان د اُور د لمبے نه پیداء شوی دی ، او آدم علیه السلام د هغه څه نه پیداء شویدی چی تاسوته بیان شوی دی (یعني خاوری نه) .

**دریم : د الله په آسمانی کتابونو ایمان لرل :**

آسمانی کتابونو باندی اجمالی ایمان پدی طریقه واجب دی ، چی الله پاک په خپلو رسولانو او پیغمبرانو باندی کتابونه نازل کړیدی چی بندګانو ته حق واضحه شی ، او حق طرفته ورله بلنه ورکړی ، د تفصیلی ایمان صورت دادی چی د کومو کتابونو نومونه چی ذکر شویدی هغه د نومونو سره وومنلی شی ، لکه زبور ، تورات ، انجیل ، او قرآن کریم ، قرآن کریم آخری کتاب دی ، د نورو کتابونو محافظ او تصدیق کونکی دی ، ددی تابعداری کول ، او ددی فیصله منل په ټول امت باندی لازم او فرض دي ، سره د هغه احادیثونه چی صحیح ثابت شی ، د هغی منل هم لازم دی ، ځکه چی الله پاک محمد

رسول الله ﷺ انسانانو او پیریانو ته رسول رالیږلی دی او په هغه باندی ئی قرآن کریم نازل کړی دی چی د خلقو مینځ کښې پری فیصله وکړی ، او قرآن کریم د باطنی مرضونو علاج ګرځولی شویدی ، د هر څیز وضاحت کونکی او د هدایت ذریعه ګرځولی شوی ده ، الله پاک فرمائی : «وَهَٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» الانعام: ١٥٥. ترجمه : (او داکتاب نازل کړی دی مونږ برکت والا دی ، پس تابعداری وکړی دده او یره کوئي دی دپاره چی رحم درباندی وکړی شی ) ، الله پاک فرمائی:«وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ» الانعام: ٨٩ ترجمه : (او نازل کړی دی مونږ په تا باندی دا کتاب وضاحت کوونکی د هری ضروری خبری او هدایت دی او رحمت دی، او زیرئی دی دمسلمانانو دپاره).

**خلورم : د الله په رسولانو ایمان :**

رسولانو باندی هم اجمالی اوتفصیلی ایمان واجب دی ، نو زمونږه ایمان دی چی الله پاک خپلو بندګانو ته رسولان رالیږلی دی ، زیری ورکونکی ، یره ورکونکی او د حق دعوت ورکونکی ، الله پاک فرمائی : (وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ) النحل :٣٦ترجمه: (یقینا رالیږلی دی مونږ په هر امت کښې رسول (په دی

خبره) چې بندګی خاص کړئ د الله پاک دپاره ، او ځان وساتئ د (بندګئ د غیرالله (طاغوت) نه ، پس چاچې د رسولانو خبره وومنله هغه کامیاب شو په نیک بختئ او سلامتیا سره ، او چاچې خبره ونه منله ، د هغه انجام ناکامی او پښیمانتیا شوله ، زمونږه ایمان دی چې درسولانو دعوت یو دی چې هغه توحید او یواځې دالله پاک بندګئ ته دعوت دی اګر که په احکامو او شریعتونو کښې مختلف وو ، او زمونږه ایمان دی چې بعض انبیاء کرام علیهم السلام الله پاک غوره کړی دی په بعضو نورو باندي ، او په ټولو رسولانو کښې افضل او خاتم د رسولانو زمونږ نبی کریم محمدصلی الله علیه وسلم دي ، لکه څرنګه چي الله پاک فرمائی : «**وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَى بَعْضٍ** » (الاسراء : ٥٥ ). ترجمه : او یقینا غوره والي ورکړی دي مونږ بعضو پیغمبرانوته په بعضو نورو باندی الله پاک فرمائی : «**مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ**» (الاحزاب ٤٠) ترجمه : نه دی محمد ﷺ پلار د هیچا د نارینو ستاسونه لیکن رسول د الله پاک دی ، او دپیغمبرانونه آخری دی، او تفصیلی ایمان لرو په هغه پیغمبرانو چې دهغوی نومونه الله پاک او د هغه رسول ﷺ بیان کړی وی لکه نوح ، هود ، صالح ، ابراهیم علیهم و علی نبینا أفضل الصلوة وأزکی التسلیم.

**پنځم : په آخرت باندی ایمان :**

آخرت باندی ایمان کښې هر هغه څه داخل دی ، چی الله پاک او رسول ﷺ ئے خبر ورکړی وی چی د مرګ نه پس به راځی لکه د قبر فتنه او عذاب ، او نعمتونه ، اوهغه چه د قیامت په ورځ باندی به کوم حالات او یری او سختیانئ او تکلیفونه واقع کیږی ، پل صراط ، د عملونو تول ، او حساب کتاب ، او د عملونو بدله او خلقو کښې د هغوي عملنامی خوریدل چی څوک به عمل نامه په ښي لاس او څوک به ئی دشا طرفنه په چپ لاس اخلی ، او دارنګه په آخرت باندی ایمان کښې په حوض کوثر باندی ایمان هم داخل دی ، چی زمونږ د نبی کریم ﷺ به د هغی ساقی وی ، او د هر نبی کریم دپاره خپل خپل حوض شته لکه څنګه چی حدیث کښې راغلی دی ، او ایمان لرل په جنت او جهنم باندی ، او د مؤمنانو د خپل رب لیدل او خبری کول د هغه سره ، او هر هغه څه چی قرآن کریم او صحیح احادیثو کښې ذکر شوي وی ، په هغی ټولو ایمان راوړل لازم دی ، او د هغی تصدیق په هغه طریقه چی الله تعالي او رسول الله ﷺ بیان کړی وی .

**شپږم : په قضاءاو تقدیر باندی ایمان راوړل :**
تقدیر باندی ایمان څلور خبرو ته شامل دی.
(۱) څه چی شوی دی او څه چی کیږی پدی ټولو الله پاک پوهیږی ، او دخپلو بندګانو په ټولو احوالو باندی ، د هغوی په رزق ، دهغوی په عمر، او ټولو اعمالو باندی پوهیږی ، چی پدی کښې یو معمولي څیز هم په الله پاک باندی پټ نشته ، الله پاک فرمائی : «**إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ**» التوبة ۱۱۵ ترجمه: یقینا الله پاک په هرڅه باندي پوهه دي ، (۲) الله پاک چي څه فیصله کړي ده او چي کوم تقدیر ئے مقرر کړیدي هغه ټول ئے لیکلی دی الله پاک فرمائي : « **وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ** » یس ۱۲ ترجمه : (او هر څه مونږ راګیر کړی دی په کتاب ښکاره کښې) (۳) پدی خبره ایمان راوړل چی الله پاک څه خوښه او څه اراده وکړی هغه به کیږی ، چی څه وغواړی هغه کیږی او څه چی ونه غواړی هغه نه کیږی ، الله پاک فرمائی : «**كَذَلِكَ اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ**» (آل عمران: ٤٠) ترجمة : دغه رنګه الله پاک کوی څه چی وغواړی.
(٤) الله پاک مقدور شوی څیزونه مخکښې د موجودکیدو نه پیداکړی دی لکه څنګه چی الله پاک فرمائی: «**وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ**» الصافات : ۹٦ ترجمه : او الله پاک پیداء کړی یئ تاسو او ستاسو عملونه.

# شرک او د هغې اقسام

**شرک** : شرک دیته وائی چې یو بنده د الله پاک سره په ربوبیت یا اُلوهیت  یا د هغه په نومونو او صفتونو کښې حصه دار جوړ کړی .

دشرک دوه قسمونه دی : (۱) شرک اکبر (لوي شرك) (۲) شرک اصغر (وړوکی شرك)

**شرک اکبر**: ددی مقصد دادی چې دالله تعالی د بندګئ څه حصه د غیر الله دپاره وکړیشی ، دا قسم شرك کونکے که بغیر د توبے نه مړ شو همیشه دپاره به جهنم کښې وی ، او دغه رنګه ټول اعمال به ئے بربادوی ، الله پاک فرمائی : «**وَلَوْ أَشْرَكُواْ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ** » الانعام : ۸۸ .ترجمه : او که بالفرض شرک کړی وی دوی (انبیاء علیهم السلام) خامخا برباد شوی به وو د دوی نه هغه عملونه چې دوی کول) ، د خالصے توبے نه بغیر الله پاک شرک اکبر نه معاف کوی ، الله پاک فرمائي : «**إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا**» النساء : ٤٨.**ترجمه** : ( یقینا الله پاک نه بخی دا چې شرک اوکړی شي د هغه سره ، او بخی هغه ګناهونه چې خکته وی ددی نه، چا لره چې وغواړی ، او چا چې شرک وکړو د الله پاک سره ، نو یقینًا ده جوړه کړه ګناه لویه)

**د شرک اکبر بعض صورتونه دا دي** : دغیرالله نه دعا غوښتل د غیرالله په نوم نذر کول ، دغیرالله دپاره ذبحه کول ، او یا د الله پاک سره شریک جوړکړی ، او داسے محبت ورسره کوی لکه څنګه چی دالله پاک د محبت حق دی ، الله پاک فرمائی:
«**وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللَّهِ أَندَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ**» البقرة ١٦٥ . ترجمه : اوبعض دخلقو نه هغه دی چی نیسي سیواء دالله تعالی نه شریکان ، مینه کوی دهغوی سره پشان د مینئ د دوی دالله تعالی سره .

**(٢) شرک اصغر:**

هغه عمل چی قرآن او سنت کښې ورته شرک وئیلی شوی دی ، لیکن شرک اکبر ته نوی رسیدلئ هغی ته شرک اصغر وائی ، دا قسم شرک انسان د ملتِ اسلامیه نه نه وباسی ، لیکن په توحید کښې نقصان راولی لکه په نیک عمل کښې معمولی ریاء (ځان ښودنه) او یا هر هغه عمل چی ذریعه د شرک اکبر وی اګر که شرک اکبر نوی لکه د قبر په خواکي د الله دپاره مونځ کول ، او یا د غیر الله په نوم قسم خوړل اګر چی د هغه نه عقیده د نفع او نقصان ونه لری ، او داسے وئیل چی الله پاک څه وغواړی او دا فلانکی سړی څه وغواړی هغه کیږی ، یا داسي وینا کول : که الله او ته نه وي نو داسي داسي به شوي وي ، یا داسي وئیل : په تا به شي او په الله به

شي ، او ددي پشانِ نور اعمال او اقوال ، نبی کریمﷺ فرمائیلی دی : « **إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الأَصْغَرُ، قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ،وَمَا الشِّرْكُ الأَصْغَرُ ؟ قَالَ : الرِّيَاءُ**».(رواه احمد والطبراني الكبير واسناده جيد) ، ترجمه : تاسو باندی ډیر زیات زه د ورکوټی شرک نه یریږم ، تپوس وشو نووی فرمائیل : ریاء (ځان ښودنه) ده ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی : «**مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ فَقَدْ أَشْرَكَ**» رواه ابوداؤد (۲۸۲۹) ترجمه : (چا چی د غیرالله په نوم قسم وخوړلو یقینا هغه شرک وکړو) ، د شرک اصغر پدی قسم کښې دا اعمال هم داخل دی ، تعویذونه او کنجکی زوړندول ، تارونه او کړئ د مرضونو اومصیبتونو د دفع کولو دپاره اچول ، لیکن کچرته دا عقیده وساتی چی دا فائده او ضرر رسوی ، او صرف د اسبابو په درجه کښې ئےنه ګڼړي نو بیا دا په شرک اکبر کښې داخل دی.

## د فِرقه ناجیه (نجات موندونکي ډلے) د عقائدو خلاصه

د فرقه ناجیه عقیده یقینا هغه ده کومه عقیده چي د اهل السنة والجماعة ده ، هغه داده چي یو رشتینی مؤمن به ددي خبري ګواهی کوی چی الله پاک رب دی ، حقیقی معبود دی ،

د کمال په ټولو صفتونو کښې یک یو دی ، مؤمن بنده د یو ذات عبادت کوی ، او د هغه دپاره خالص او مخلص وی ، او پدی خبره پوهیږی چی صرف الله پاک خالق دی ، جداء جداء پیداء کونکئ دی ، شکل ورکونکئ دی ، رزق ورکونکئ دی ، عطیه ورکونکئ ، منع کونکئ دی ، د ټول نظام چلونکئ دی ، الله پاک حقیقی معبود دی ، د هرڅه نه اول دی ، مخکښې تری هیڅ نه وو او د هرڅه نه آخری دی روستو تری هیڅ نشته دی ، او ښکاره دی داسے چی پورته تری څه نشته ، او باطن دی داسی چی ښکته تری څه نشته دی ، هغه اعلی او اُوچت دی په هر معنی او اعتبار سره د هغه ذات اُوچت دی ، د هغه مقام اُوچت دی ، د هغه غلبه او طاقت د هر څه دپاسه دی ، د الله عزوجل ذات په عرش باندی مُستوی (برابر) دی ، په داسے استواء سره څرنګه چی دهغه د ذات او د عظمت سره مناسب وی ، او الله تعالي سره د اُوچتوالی د هغه نه هغه په ښکاره او پټو څیزونو باندی عالم دی ، او په آسمانی مخلوقاتو او د زمکی په مخلوق هم خبر دی، د خپلو بندګانو سره دی د علم په اعتبار سره ، یعني د هغوی په ټولو احوالو باندی پوهیږی ، هغه نزدی دی ، او دعا قبلونکی دی ، د ټول مخلوق نه بے نیازه دی ، ټول مخلوق په خپلو ضرورتونوکښې هروخت هغه ته محتاجه دی ، یوه لحظه

هم د الله نه نشي بے نیازه کیدلے ، هغه شفقت کونکے او رحم کونکے دی ، په بندګانو باندی هیڅ یو دینی یا دنیوی نعمت نشته مګر دالله د طرفنه دی هغه نعمتونه ورکونکي او عذابونه دفع کونکی دی ، الله پاک دخپل رحمت د وجی نه د شپیٔ په آخری حصه کښې راکوزیږی او اعلان کوی : « **مَنْ ذَا الَّذِى يَدْعُونِى فَأَسْتَجِيبَ لَهُ، مَنْ ذَا الَّذِى يَسْأَلُنِى فَأُعْطِيَهُ ، مَنْ ذَا الَّذِى يَسْتَغْفِرُنِى فَأَغْفِرَ لَهُ فَلاَ يَزَالُ كَذَلِكَ حَتَّى يُضِىءَ الْفَجْرُ**» صحیح مسلم . ترجمه : (څوک دی چی زمانه سوال وکړی چی زه ئے ورله ورکړم ، څوک دی چی زمانه بخنه وغواړی چی زه ورته بخنه وکړم ، دا سلسله د صبا راختو پوری جاری وی الله پاک حکیم ذات دی ، په احکامو د شریعت او په تقدیر کښې د الله پاک لوئی حکمتونه ښکاره کیږی ، الله پاک هیڅ مخلوق عبث ندی پیداء کړی او نه ئے یو شریعت د شریعتونو نه نازل کړی دی مګر هغی کښې به د انسانانو مصلحت او فائدی وی ، او یا پکښې د فساد د ختمول وی هغه ذات بیا بیا توبه قبلونکی ، عفوه کونکی او بخنه کونکی دی ، دخپلو بندګانو توبه قبلوی ، توبه ویستونکو، بخنه غوښتونکو او انابت کونکو ته الله پاک ټول لوئی او واړه ګناهونه معاف کوی ، هغه قدردان ذات دی ، لږ عمل قبلوی ، اوپه هغی ډیر اجر ورکوی ، او د خپل فضل نه شکر

ګزارو ته ډیر څه ورکوی ، رشتینی مؤمن الله پاک په هغه صفتونو سره یادوی چی کوم صفتونه الله پاک د خپل ځان دپاره ذکرکړی دی ، او یا رسول الله ﷺ د الله پاک دپاره ذکر کړی وی ، که هغه صفات ذاتی وی او که صفات فعلی وی ، لکه کامل ژوند ، کامل اوریدل اولیدل ، کامل قدرت او عظمت ، لوئی ، جلال ، جمال ، او کمال او کامل حمد او ثناء ، قرآن کریم او صحیح احادیثو کښې چی څه راغلی وی په هغی به مؤمن عقیده ساتی لکه ایمان والا به په جنت کښې الله پاک لره په سترګو باندی ویـنی ، د الله پاک دیدار او د هغه رضا باندی کامیابیدل د جنت عظیم ترین نعمتونه او خوندونه دی ، او دا عقیده به هم لری چی څوک د ایمان او د توحید نه بغیر وفات شی ، هغه به جهنم کښې همیشه دپاره وی ، مؤمنان چی کبائرو (لویو ګناهونو) لره کونکي وی ، بے د توبے نه وفات شی اګر که جهنم ته داخل شي بیا به هم همیشه پکښې نه وی ، بلکه د چا په زړه کښې چه د اُوری (رائي) د دانے په اندازه ایمان وی په جهنم کښې به همیشه دپاره نه پاتے کیږی (د سزا پوره کیدو نه پس) به د جهنم نه راوځی، ایمان د زړه عقائدو ، اقوالو او اعمالو ته شامل دی ، او د اندامونو اعمال د ژبے اقوالو ته هم شامل دی ، چا چی دا ذمه واریانے پوره طریقے سره اداء کړی هغه رشتینی مؤمن

دی ، او حقدار د اجر او ثواب دی ، د عذاب نه به محفوظ وی ، او چا چی کوتاهی وکړه ددی په اندازه به د هغه ایمان کمزوری وی ، ددی وجی نه دا قاعده ده چی په طاعت او د خیر په کارونو سره ایمان زیاتیږی ، او په فساد او ګناهونو سره ایمان کمیږی ، مؤمن بنده ددی ګواهی ورکوی چی محمد ﷺ د الله پاک بنده او رسول دی ، الله رالیږلے دی په هدایت او حق دین باندی ، ددی دپاره چی اسلام په ټولو دینونو باندی غالب کړی ، او په ایمان والو باندی د هغوي د ځانونو نه هم ډیر مهربانه دی ، د انبیاء کرامو علیهم السلام سلسلی لره ختمونکی دی ، انسانانو او پیریانو ته زیری او یره ورکونکی رالیږلی شویدی ، د الله په حکم باندی ددین داعی دی ، د بَلِی ډیوی پشان روښانه دی ، ددنیا او د دین د اصلاح دپاره الله رالیږلی دی چی خلق د یوالله (چی شریک ورسره نشته دی) عبادت وکړی ، او د الله پاک بندګئ ته خپل ځان د الله په رزق باندی مضبوط کړی ، او مؤمن پدی خبره هم پوهیږی چی زمونږ نبی کریم ﷺ د ټول مخلوق نه ډیر علم والا دی ، د ټولو نه ډیر رشتینی دی او د ټولونه ډیر خیرخواه دی او ډیر واضحه بیان والا دی ، د مؤمن په زړه کښې د خپل نبی کریم ﷺ دپاره تعظیم او محبت وی ، او دخپل نبی کریم ﷺ محبت د ټولی دنیا په محبتونو باندی

مخکښې وی ، په اُصولو او فروعو کښې دخپل نبی کریم ﷺ پسی روان وی ، د خپل نبی کریم ﷺ وینا او عمل د هرچا په وینااو عمل باندی مخکښې کوی ، او دا عقیده ساتی چه الله پاک په خپل حبیب کښې ټول فضائل ، خصوصیتونه اوکمالات راجمع کړی دی چی بل چاکی ئےندی پیداء کړی ددی وجی نه هغه د مرتبے او مقام په لحاظ سره د ټول مخلوق نه اُوچت دی ، او لوی جاه او جلال والا دی ، په هر صفت کښې کامل دی ، هیڅ خیر نشته مګر خپل امت ته ئے ښودلے دی ، او هیڅ شر نشته مګر خپل امت ئے د هغی نه ویرولے دی ، مؤمن بنده دالله د طرفنه په هر نازل شوی کتاب او په هر رالیږلی شوی رسول باندی ایمان لری ، که د هغوی د نومونو علم ورته وی او که نه ، د رسولانو په مینځ کښې فرق نکوی په ایمان کښې چی د هغوی دعوت یو وو، صرف دالله پاک چی شریک ورسره نشته د هغه بندګئ ته رابلل کول ، مؤمن بنده په تقدیر باندی پوره ایمان لری ، او پدی خبره هم پوهیږی چی الله پاک دخپل بنده په هر عمل خبر دی ، دهغه قلم لیکلی دی ، دالله پاک مشیت او اِراده پکښې جاری شویده ، د الله پاک د حکمت عین مطابق دی الله پاک خپل بنده له قدرت او اراده ورکړی ده ، خپل اختیار باندی خبری کوی ، خپل اختیار باندی هرکارکوی ، الله پاک

نه دی مجبوره کړی ، بلکه الله تعالي خود مختاره پیداء کړی دی ، خاصکرایمان والو ته الله پاک د خپل عدل او انصاف مطابق د ایمان محبت ورکړی دی ، او د مؤمنانو په زړونو کښې ئےایمان ډولی کړی دی ، او کفر ، ګناه او نافرمانی ئےورته بده ښکاره کړیده ، ددین د بنیادی اصولو نه دا هم ده، چی مؤمن سړی د الله پاک دپاره خیرخواه وی ، او د هغه د کتاب ، د هغه د رسول، دمؤمنانو د امامانو (علماؤ او امیرانو) او د عامو مؤمنانو دپاره خیرخواهی او همدردی کوی، دنیکو اعمالو حکم او د بدو اعمالو نه منع به کوی ، څومره چی شریعت ئے تقاضا کوی ، د خپل مور او پلار خدمت به کوی ، د خپلو خپلوانو سره به ښه تعلق ساتی ، او د ګاونډیانو حقونه به اداء کوی ، د عامو مخلوقاتو سره به احسان کوی ، خائسته او عمده اخلاقو ته به خلق رابلی، او د بدو او ناکاره اخلاقونه به خلق منع کوی ، مؤمن به ددی خبری عقیده ساتی چه د ټولو نه کامل ایمان د هغه چا وی د چا چی څومره اعمال نیک وی او اخلاق ئے مزیدار وي ، د ټولو خلقو نه زیات رشتینی وی ، هری نیکئ او د خیر او فضیلت کارته زیات مخکښې کیږی او د هری بد عملئ نه زیات ړواندی کیږی ، مؤمن پدی خبره ښه پوهیږی چي د الله په لا ر کښې جهاد به تر قیامت پوری جاری وی ، او جهاد د اُوچت کوی

(اُوښ په شا اوچتۍ حصی) پشان مرتبه لری ، په اسلام کښې جهاد که په علم وی او که په دلیل وی ، اوکه په اسلحه سره وی ، په هر مسلمان باندی فرض دی د خپل استطاعت (وس) مطابق به د خپل دین نه دفاع کوی ، د جهاد امیر که نیک وی او که ګنهګار وی چې شرطونه د امارت پکښې موجود وی د هغه په ملګرتیا کښې به جهاد کیدلے شي ، د اسلام په بنیادی اصولو کښې دا هم داخل دی چې د مسلمانانو د اتفاق او اتحاد دپاره پوره کوشش وکړی شی، د دوی د زړونو د جوړښ دپاره په خلوص باندی کوششونه وکړی شی ، د مسلمانانو خپل مینځ کښې د ډله بازۍ د ښمنۍ او د نفرت نه پرهیز وکړی شي ، او ددی مقاصدو د حاصلولو دپاره دِی هرقسمه وسیله استعمال کړی شی ، او دغه رنګه د الله پاک مخلوق ته دِی هیڅ قسم تکلیف ورنکړی شی ، نه د هغوی په مال کښې ، نه د هغوی په ژوند کښې ، نه د هغوی په عزت کښې بلکه په ټولو حقونو کښې ورسره خیر خواهی وکړی شی ، د کافر او مسلمان دواړو سره دِی د عدل او انصاف معامله وکړی شي، د هر مسلمان دا ایمان دی چې په ټولو امتونو کښې د محمد ﷺ امت افضل او غوره دی ، او بیا دوی کښې صحابه کرام رضي الله عنهم غوره دی ، خاصکر عشره مبشره (هغه لس

صحابه کرام چی د جنت زیری ورته په دنیا کښې په یو مجلس کښې ورکړی شوی وو) او بیا هغه صحابه کرام چه بدر ته حاضر شوی وو ، بیا بیعت رضوان والا (یعني صلح حدیبیه ته حاضر شوی خلق)او د مهاجرینو او انصارو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین نه مخکښني اسلام راوړونکی، مؤمنان د ټولو صحابه کرامو سره خالص د الله پاک دپاره محبت کوی ، د هغوی خائسته صفات بیانوی، او هغوی طرفته منسوب شوی غلط خبرو نه چپ پاتے کیږی، او د الله پاک درضا په خاطر د ټولو علماؤ او دعدل او انصاف کونکو حکمرانانو او د هر هغه چا چی په دین کي ئے اُوچتئ مرتبئ وي ، او په مسلمانانو باندی ئی قسماقسم احسانات وي ، ددین خدمت ئے کړی وی ، او یا د عامو مسلمانانو خدمت ئے کړی وی ددی ټولو احترام ساتی ، او د الله پاک نه دعاء کوی چی داټول مسلمانان الله پاک په دین کښې د شک نه وساتی اوپه عقیده کښې ئےد شرک نه اُوساتی او الله پاک مسلمانان خپل مینځ کښې دډله بازئ نه اُوساتی ، اوپه ایمان کښې ئےد منافقت نه اُوساتی ، او د هرقسم غلطو اخلاقونه دِی الله پاک محفوظ اُوساتی او تر مرګه پوری دِی دوی الله پاک د خپل نبی کریم ﷺ په دین مضبوط پاتے

کړی ، دا یو څو خبری وی چی حق پرسته ډله پدی ایمان راوړی او نور خلقوته ددی دعوت کوی .

## د طهارت مسائل

**پاکوالے او پلیتی :**

**نجاست (پلیتی ، ګندګی)** : هر هغه څیز ته وائي ، چي د هغی نه ځان بچ ساتل او چي په کوم ځائی ولګی د هغی وینځل په مسلمان باندی لازم وی ، .

پلیتی ، که کپـړی او که بدن ته ورسیږی د هغی وینځل واجب وی ، ترڅو پوری چی ظاهری اثر ئي ختم شوی نوی ، او په نظرنه راځی ، که چرته په زائله کیدلو کښې مشقت وی ، لکه د حیض وینه ،که د وینځلو نه پس ئی هم اثر باقی وی ، څه حرج پکښې نشته ، که پلیتی ظاهرًا په نظر نه راځی بیا یو ځل وینځل هم کافی کیږی ، که چرته زمکه ګنده شی ، د هغی پاکوالی په اُوبو اړولو سره او یا د زمکی اُوچیدلو سره راځی ، پدی شرط چی ګندګی مائع (بهیدونکی) شکل کښې وی ، (لکه بول) او که جُوثه (وجود) لری نو بیا د هغی زائله کول لازمی دی.

پاکوالی حاصلولو او ګندګی لری کولو دپاره اُوبه استعمالیږی ، اُوبه که د باران وی او که د دریاب وغیره وي ددی مقصد دپاره استعمالیږی ، اوهغه اُوبه هم استعمالول جائز دی چی پاک څیز

ورسره ګډوډ شوی وی ، خو چې اُوبه په خپل شکل باقي وی ، که چرته د پاک څيز د ګډون سره د اوبو خپل شکل باقي پاتې شوی نوی ، د هغې استعمال دپاکوالی دپاره جائزندی ، اوکه داُوبو سره ګنده څيز ګډ شي ، پداسي شان سره چه د اُوبو خوند ، رنګ او بوئی بدل کړی ، ددي استعمال د پاکوالی دپاره جائز ندي ، او که خوند ، رنګ او بوئی په خپل حال باقي وی ، د هغي استعمال جائزدي ، او دارنګه جوټه اُوبه هم استعمالولي شی ، سيواء دسپي او د خنزير د جوټې نه څکه هغه ناپاکه (نجسه) ده.

## د ګندګئ قسمونه

ګندګی په يو څو قسمه ده :

(ا) واړه بول او لوئی بول .

(ب) ودی: داسپيني ټينګي اُوبه دی ، چی د واړه بولو نه مخکښې يا روستو د انسان دعورت نه خارجيږی.

(ج) مذی : دا بهيدونکي سليخ ناکي اُوبه دی، چی د خپلي ښځي سره د لوبو په وخت او يا د شهوت دراپورته کيدو په وخت کښې د انسان دعورت نه خارجيږی.

(د) مني : هغه ماده ده چی په شهوت سره د بدن نه په ټوپ وهلو سره خارجيږی چی نجسه نده ، البته که تازه وی وينځلی به شی، اوکه وچه وی نو ګرول ئې مستحب دی.

(ذ) هغه څاروی چی دهغوی غوښه خوړل شرعا جائز وی ، د هغوی متیازی او غوشیان نجس ندی په نسبت سره هغه څاروو ته چی د هغوی غوښه خوړل شرعا جائز نوی ، دهغوی متیازی او غوشیان نجس دی ، که د بدن یا جامی سره ولګی ددی وینځل او زائله کول ضروری دی .

(و) وینه د حیض (ماهواري بیمارئ) وی او که د نفاس (دبچی د پیدائش نه پس وینه) وي ، او مذی چي په کپړه ولګی د هغی دپاره د اُوبو چړکاؤ هم کافی دی.

## د ګندګی (نجاست) بعض حکمونه :

(۱) کله چی انسان سره څه ولګی او پدي نه پوهیږی چی دا پاک دی او که پلیت د هغي په باره کښې تپوس کول لازم ندی ، او نه درباندی وینځل شته دی ، ځکه چه اصل په څیزونو کښې پاکوالی دی.

(۲) کله چی انسان دمونځ نه فارغ شي ، او خپل بدن یاکپړو باندی څه ګندګی ووینی چی مخکښې ورته علم نه وو او یا علم ورته وو لیکن هیرشوی وی تری ، نو غوره قول دا دی چی مونځ ئی صحیح دی ، د یو انسان بدن یا کپړه کښې چی د ګندګئ ځائي ورک شي نو هغه باندی لټول لازم دی ، او کوم ځائي باندی ئی چي غالب ګمان وی هغه ځائی به وینځی ، ځکه چی ګندګی

معلومه جُثه لري ، د هغې دپاره رنګ ، خوند او بوئ وی ، او کله چې د انسان غالب ګمان په یو ځائي هم رانشي نو ټولي کپړی به وینځی.

**د قضاء حاجت آداب :**

(۱) بیت الخلاء ته د ورتللو په وخت کښې ګسه (چپه) خپه مخکښې کول او دا دعاء وئیل سنت دی :

(بسم الله، **اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ)**

ترجمة : شروع کوم په نوم د الله تعالي، اے الله ! پناهی غواړم په تا باندي د نارینه او زنانه شیطانانونه.

او د بیت الخلاء نه د راوتلو په وخت کښې به ښئ خپه مخکښې کړی او دادعاء به وائي (غُفرانك) ترجمة : بخنه غواړم ستانه (اے الله!)

(۲) دځان سره به هغه څیز بیت الخلاء ته نه داخلوی چې د الله تعالي ذکر پکښې لیکلی شوی وی ، مګر که د ضائع کیدلو یا د ورک کیدلو یره وی بیاجائز دی چې د زان سره ئې داخل کښی د عذر د وجی نه.

(۳) د قضائی حاجت په وخت کښې قبلۓ ته مخ کول او یا شا کول په صحراء کښې جائز ندی په آبادۓ کښې صرف شاه ګرځول جائز دی .

(٤) د ټولو خلقو نه عورت پټول واجب دی ، پدی کښې سستی نه ده پکار ، د نارینه عورت د نامه نه تر پنډو پوری دی ، او د زنانه ټول بدن عورت دی .

(٥) د وړو بولو او یا د غټو بولو نه ځان ساتل ضروری دی ، چی بدن او کپړی ته ونه رسیږی .

(٦) د قضائی حاجت نه پس خپل ځان په اوبو یا کاغذ یا کانړو وغیره باندی پاکول لازم دی، چی د ګندګئ څه اثرباقی پاتی نشی، او په چپ لاس باندی صفائی کول پکار دی.

## اودس

بغیر د اودس او پاکوالی نه مونځ نه قبلیږی د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی ، چی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

**(لَا يَقْبَلُ اللَّهُ صَلاَةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ)**.متفق علیه.

ترجمه : الله پاک مونځ نه قبلوی د یو تن ستاسو کله چی بی اودسه شی، تردی پوری چی اودس وکړی ، اودس کولو کښې د اندامونو د ترتیب او پرله پسی والی خیال ساتل ضروری دی ، د اودس ډیر زیات فضائل دی ، باید چی یو مسلمان د هغی نه خبر وی ، لکه په حدیث د عثمان رضی الله عنه کښې راغلي:

**قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم :« مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ»**(رواه مسلم : ٢٤٥).

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : چاچی اودس وکړو خائسته اودس ، نو دده د بدن نه ګناهونه معاف شي ، تردي پوري چی د نوکانو د لاندي ګناهونه هم معاف شي)

او دارنګه د عثمان رضي الله عنه نه دا هم روایت دی :

قال رسول الله ﷺ : **«مَنْ أَتَمَّ الْوُضُوءَ كَمَا أَمَرَهُ اللَّهُ تَعَالَى فَالصَّلَوَاتُ الْمَكْتُوبَاتُ كَفَّارَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ»** رواه مسلم .

(چاچی د الله تعالی د حکم مطابق پوره اودس وکړو نو فرض مونځونه د دوي ترمینځ کړی شوي ګناهونه ختموی)

## د اوداسه طريقه

(١) په زړه کښې به د اودس نیت کوی ، بغیر د تلفظ نه ځکه چی نیت د زړه قصد او ارادی ته وائی ، بیا به بسم الله ووائی .

(٢) بیا به لاسونه تر مړوندونو پوری دری کرته ووینځی.

(٣) بیا به خوله کښې دری کرته اُوبه واچوی ، او حرکت به ورکړی او پوزه کښې به دري کرته اُوبه واچوی ، او پوزه به سُونړ کړی .

(٤) بیا به لاسونه دري کرته ووینځی د ګوتو دسرونونه ترڅنګلو پوری ، اول ښی لاس او بیا ګس لاس .
(٥) بیا به د ټول سر مسح وکړی ، پدی شان چی په لمدو لاسونو سره به د اول د تندی د ویختونه شروع کړی ، د آخر د سر پوری ، او بیا به لاس راواپس کړی هغه ځائی ته د کوم ځائي نه ئی چي شروع کړی ده.
(٦) بیا به یو ځل دغوږونو مسح وکړی پدی شان چي په مسواکۍ ګوته به د غوږ دننه حصه او په کټه ګوته به دغوږ بهرنۍ حصه مسح کړی .
(٧) بیا به خپی دری کرته ووینځی، دګوتو دسرونو نه تر پړکو پوری ، اول ښۍ خپه او بیا ګسه خپه .
(٨)او بیا به دادعاء ووائی:




أشهد ان لا اله الا الله ، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

ترجمه : زه ګواهی کوم چي نشته حقدار دبندګئ سیواء د یک یو الله نه او ګواهی کوم چه محمد ﷺ د الله تعالي بنده او رسول دی .

عن عمربن الخطاب رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ : «**مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ – أَوْ فَيُسْبِغُ – الْوُضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ إِلاَّ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ** »رواه مسلم ٢٣٤ .

ترجمه : عمر ځوی د خطاب رضی الله عنه فرمائی : چی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: «نشته یو تن چه پوره اودس وکړی او بیا دا ووائی: زه ګواهی کوم چی نشته دی ، حقدارد بندګی سیواء د یو الله تعالي نه اومحمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی ، مګر د هغه دپاره دجنت أته واړه دروازی پرانستلی کیږي ، ورداخل دِي شی په کومه دروازه ئِي چه خوښه شی..

## موزو باندي مسح

دا د اسلام آسانتیا او دالله تعالي د مهربانئ حصه ده ، چی په موزو باندی مسح کول ئی جائز کړیدي ، او عملًا د نبی کریم ﷺ نه ثابته ده ، د عمرو بن أمیة رضی الله عنه نه روایت دی ، هغه فرمائی:«**رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَمْسَحُ عَلَى عِمَامَتِهِ وَخُفَّيْهِ**»، رواه البخاری : ۲۰۵..

ترجمه : ما ولیدلو نبی کریم ﷺ چی په پټکي او موزو باندی ئی مسح کوله ،

بل روایت کښي مغیرة بن شعبه رضی الله عنه فرمائی:

**قَالَ بَيْنَا أَنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِصلى الله عليه وسلم ذَاتَ لَيْلَةٍ إِذْ نَزَلَ فَقَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ جَاءَ فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ مِنْ إِدَاوَةٍ كَانَتْ مَعِي فَتَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ**» ، (متفق علیه).

ترجمه : یو شپه زه درسول الله ﷺ سره ووم چه هغه کوز شو نو قضائی حاجت ئې وکړو بیا راغی نو زما سره یو لوښی وو هغی کښې اُوبه وی ، ما هغه ته اُوبه واچولې نو د هغې نه ئې اودس وکړو ، او په موزو باندی ئې مسح وکړه .

## موزو باندی دمسح دپاره څه شرطونه دی

د اودس په حالت کښې به موزی اچولی شوی وی .

د مسح طریقه داده چه لوند لاس به د خپو دپاسه راښکلی شی ، د ګوتو سرونو نه به ئې بره پوندۍ ته راکاږي ، د خپو لاندی حصه به نه مسح کوی .

په حالت داقامت کښې د مسح موده یوه ورځ او یوه شپه ده

او د مسافر دپاره د مسح موده دری ورځی او دری شپې ده ، چې دمسحې موده ختم شی نو مسحه هم ختمه شی ، دغه رنګه د موزو په ویستلو سره هم مسح ختمه شی ، او د غسل د واجب کیدو سره هم مسح باطله شی ، ځکه چې دغسل دپاره موزی ویستل لازم دی .

## اودس ماتونکی خیزونه :

(۱) د انسان د مخکښې او روستو دواړو لارونه چې څه خارج شي ، مثلًا هواء ، لوئی یا واړه بول ، نطفه ، مذی ، ودی او وینه وغیره.

(۲) خوب
(۳) د اوبښ د غوښی په خوراک سره ، لکه چی په صحیح حدیث کښې راغلی دی.
(٤) بی هوشی راشي ، یا عقل زائله شی .

**غسل :**

په خپل ټول بدن باندی د طهارت په نیت اُوبو اچولو ته غسل وائی ، په غسل کښې ټول بدن وینځل او خوله او پوزه کښې اُوبه اچول ضروری دی ، (د غسل طریقه : اول به خپله شرمګاه وینځی او دبدن په کومه حصه چی ګندګی لګیدلی وی ، هغه به وینځی بیا به دواړه لاسونه په زمکه یا بل شي باندی مسحه کړی بیا به اودس وکړی پشان د اودس د مانځه البته خپي که اوس وینځي او که روستو ئی وینځي دواړه صحیح دي ، بیا به دري لپي په خپل سر واچوی ، او ګوتي به په ویښتو کښې ورداخلی کړی چي ټول سر پوره طریقي سره لوند شی بیا به د بدن په ښئ او ګس طرف باندي اُوبه راواچوی او ټول بدن به ووینځی او آخر کښې د خپل ځائي نه یو طرفته شی ، او خپی به ووینځي. (صحیح بخاری۲٦۰،۲٥٦))

**د پنځو څیزونو دوجه نه غسل واجبیږی:**

اول : نارینه وی او که زنانه ، په ویخه وی او که په حالت د خوب کښې چی د بدن نه نطفه په خوند او ټوپ وهلو سره خارجه شی، په داسی حالت کښې غسل واجب شی ، البته که نطفه بغیر د شهوت نه خارج شی ، لکه د بیمارئي د وجی نه یا د سختی یخنئ د وجی نه نو غسل نه واجبیږی ، دغه رنګه که خوب کښې د بنده احتلام وشی ، خوب ورته یاد وی لیکن د نطفئ څه اثر نه وی، بیا هم غسل واجب ندی ، او که کپړو باندی دنطفی اثرات وی نو که خوب ورته یاد هم نوی بیا هم غسل واجب دی .

دویم : دنارینه او زنانه شرمګاه د یوبل سره یو ځائي شی ، یعنی د نارینه دشرمګاه اوله حصه د زنانه په شرمګاه کښې پناه شی ،که نطفه خارجه هم نشی نو بیا هم غسل واجب شو .

دریم : د حیض یا دنفاس موده چی ختمه شی غسل واجب دي.

څلورم : مرګ ، ځکه چه مړی لره غسل ورکول واجب دی .

پنځم : کله چی کافر مسلمان شی نو غسل ورباندي واجب وی.

**حالت دجنابت (غټې نا پاکئ) کښې کوم کارونه کول حرام دی**

(۱) مونځ کول

(۲) طواف کول

(۳) قرآن کریم مسح کول بغیر دپردی نه ، دارنګه د قرآن کریم لوستل که په اُوچت آواز باندی وی او که په ښکته آواز باندی ، د مصحف نه وی او که د حفظ نه ، د جنب انسان دپاره جائزندی.

(٤) مسجد کښې دډیر وخت دپاره پاتي کیدل په حالت د جنابت کښې جائز ندی ، مګر صرف په مسجد ورتیریدل جائزدی ، او خامخا پکښې که پاتی کیږی ، نو اودس دِي وکړی پدي سره به دغه ناپاکئ کښې څه کمي راشي.

**تیمم**

تیمم په حالت د سفر او حالت د اقامت دواړو کښې جائز دی ، داد اودس او غسل بدل دی ، خو پدی شرط چی د لاندینو اسبابو نه یو سبب موجود شی :

(۱)کله چی اُوبه بالکل نوی یا وی خو د ضرورت نه کمی وی ، لیکن اول به د اُوبو تلاش کوی د خپل وس مناسب ، د نشتوالی په صورت کښې به تیمم وهی ، او که چرته اُوبه نزدی وی لکن د هغی په طلب کي یا د هغی په استعمال کي د خپل مال یا ځان د ضائع کیدو خطره وی بیا هم تیمم وهلی شی ،

(۲)که چی داودس په بعضو اندامونو کښې زخم وی ، هغه به اُوبو باندی وینځلی شی که چرته وینځلو کښې تکلیف وی بیا به لاس لوند کړی ، او مسحه به پری وکړی ، او که چرته مسحه کښې هم ضرر وی ، بیا به نور اندامونه ووینځی ، او ددغه زخمی اندام دپاره به تیمم ووهی.

(۳) موسم یا اُوبه دومره حده پوری یخې وی ، چی داندامونو د شل (فالج) کیدو یا دبل څه ضرر خطره وی بیا هم تیمم کول جائز دی.

(٤)که چرته اوبه موجودی وی ، لیکن صرف د څښکلو دپاره کافی کیږی بیا به هم تیمم کولی شی.

## د تیمم طریقه

زړه کښې به نیت بغیر د تلفظ د ژبی نه وکړی ، بیا به په دواړو لاسونو زمکی لره یو ګوزار ورکړی او په مخ به ئی یو ځل راکاږی اوبیا به په ګس لاس د ښی لاس د مړوند ظاهر طرف مسحه کړی او په ښي لاس به د ګس لاس د مړوند ظاهر طرف مسحه کړی ، په کومو څیزونو چی اودس ماتیږی په هغی تیمم هم ماتیږی ، او ددی نه علاوه که چرته اُوبه د مونځ کولونه مخکښې پیداء شوی یا د اُوبو په استعمال باندی قادر شو ، که د مونځ په دوران کښې هم داسی حالت جوړ شو بیا هم تیمم مات شو ، او

که چرته د مونځ نه فارغ شوی وی او اُوبه پیداء شوی بیا وربا‌ندی اعاده د مونځ نشته دی.

## حیض اونفاس

حیض : دا هغه وینه ده چی د زنانه د رحم نه په حالت د روغوالی کښې خارجیږی ، د بچی د پیدائش د وجی نه او نه د مرض د وجی په یو څو معلومو ورځو کښې چی تور رنګ او بد بوئی والا وی .
نفاس : دا هغه وینه ده چی د زنانه درحم نه د بچی د پیدائش نه روستو خارجیږی ، په حالت د حیض او نفاس کښې زنانه دپاره مونځ کول او روژه نیول جائز نه دی ، عائشه رضی الله عنها فرمائی :

«قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **فَإِذَا أَقْبَلَتْ حَيْضَتُكِ فَدَعِي الصَّلاَةَ ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ ثُمَّ صَلِّي**» .متفق عليه ٣٣١.٣٣٣

ترجمه : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : کله چی حیض راشی ، مونځ مه کوه ، او کله چه ختم شی نو وینه د ځان نه ووینځه (غسل وکړه) او مونځ شروع کړه ، د مونځونو قضا وربا‌ندي نشته ، او د فرضی روژی څومره چی په حالت د حیض یا نفاس کښې خوړلی وی دهغی قضاء به پوره کوی ، د حائضی زنانه دپاره د بیت الله طواف کول جائز ندی ، او د خاوند دپاره د خپلي حائضي ښځي

سره نزدیکت حرام دي ، او د جماع نه غیر تري هرقسمه فائده اغستلي شی لکه خکلول وغیره ، او د حائضي دپاره د قرآن کریم مسحه کول هم جائزندی ، د حائضي زنانه وینه چی کله هم بنده شی ، غسل به کوی ، غسل کول ورباندی واجب دی ، او هغه کارونه چی مخکښي ورله حرام وو نو دغسل نه پس ورله جائز شی د مونځ وخت داخل شو او یوی زنانه مونځ ندی اداء کړی ، او مرض ورباندي راغلي ، د پاکوالی نه پس به دغه مونځ قضاء کوی ، که چرته د مونځ دوخت د ختمیدو نه مخکښې زنانه پاکه شوه دغه مونځ وربادی هم فرض دی ، اګرکه د یورکعت وخت ولی نوی میلاؤ شوی ، او غوره داده چی کوم مونځونه شرعاً جمع کول (جمع بین الصلاتین) جائز وی ، هغه دي ورسره هم وکړی لکه د نمر ډوبیدونه مخکښې پاکه شوله ، د مازیګرمونځ وربادي فرض دي ، نو د ماسپخین مونځ قضاء دِی ورسره هم وکړی ، دویم مثال د نیمی شپې نه مخکښې پاکه شی ، نو د ماسخوتن مونځ وربادی فرض دی نو د ماښام مونځ دِی ورسره هم وکړی ، دا غوره عمل دی.

## د مانځه احکام

مونځ د اسلام د ارکانو نه دویم رکن دي ، هر بالغ عاقل مسلمان ، باندی فرض دی ، د بلوغ اندازه یا پنځلس کاله عمر دی ، یا د نامه نه لاندی ویخته راختل دي ، اویا په خوب کښې احتلام کیدل یعنی د نطفې وتل دي ، او د زنانه دپاره د حیض راتلل دي ،

پدي علامو کښې چې یوه علامه موجوده شی ، دغه انسان بالغ حسابیږی ، او په احکامو باندی مکلف (پابند) دی ، د مونځ د فرضیت نه انکار کونکی په اجماع د امت سره کافر دی ، او د سستئ او ناراستئ دوجی نه مونځ پرینښودنکی په اجماع د صحابه کرامو سره کافر دی ، د قیامت په ورځ به د ټولو نه اول حساب کتاب د مانځه په باره کښې کیږی ، الله پاک فرمائی :«**إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا**» [النساء١٠٣]

ترجمه : یقینًا مؤمنانو باندی مونځ په مقرر وخت کښې فرض شوی دی ، د عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی ، یقینًا نبی کریمﷺ فرمائیلی دی:

«**بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ**»متفق علیه ٨١٦ .

ترجمه : د اسلام پنځه بناءګانی دی :

(١) د لا اله الا الله ګواهی کول. (٢) د مونځ پابندی کول (٣) زکوة ورکول (٤) حج اداء کول(٥) د رمضان روژی نیول.

جابر بن عبدالله رضي الله عنه فرمائي : چې ما د رسول اللهﷺنه اوریدلی دی :

«**يَقُولُ : إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلاَةِ**» [رواه مسلم : ٢٥٦]

ترجمه : بے شکه د بنده اود شرک او کفرترمینځ فرق د مانځه پریښودل دی.

## د مانځه پابندی او دهغی فضائل:

ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : چی رسول اللهﷺفرمائیلی دی :

**«مَنْ تَطَهَّرَ فِى بَيْتِهِ ثُمَّ مَشَى إِلَى بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ لِيَقْضِىَ فَرِيضَةً مِنْ فَرَائِضِ اللَّهِ كَانَتْ خَطْوَتَاهُ إِحْدَاهُمَا تَحُطُّ خَطِيئَةً وَالأُخْرَى تَرْفَعُ دَرَجَةً»** رواه مسلم ٦٦٦.

ترجمه : چاچی خپل کور کښې صحیح طریقی سره اودس وکړو ، بیا یو کور د کورونو د الله تعالي (جومات) ته روان شو ، د یو فرض مونځ د اداء کولو دپاره په یو قدم باندی به ئی ګناه معاف کیږی ، او په بل قدم باندي درجه اُوچته کیږی.

**عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ « أَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ »قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ « إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلاَةِ بَعْدَ الصَّلاَةِ فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ »**مسلم ٢٥١.

ترجمه : د ابوهریره رضی الله عنه نه نقل دی ، چی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : زه تاسوته داسی کار اُونه ښایم چی د هغی دوجی نه الله پاک ګناهونه ختموی ، او درجات اُوچتوی؟ صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین وفرمائیل : ضرور اے د الله رسوله !

وي فرمايل : صحيح اودس كول سره د تڪليفونو نه ، او ډير قدمونه جوماتونو ته اغستل ، او د يو مانځه نه پس د بل مانځه پورى انتظار كول ، دا مقام د (رباط) د الله په لار كښې څوكيدارى ده ، (دجهاد دپاره هر وخت په اسلامی سرحداتو باندى تيار وسيدلو ته رباط وائى) ، دغه رنګه رسول اللهﷺپه بله موقع فرمائيلى دى:

«**مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا ، أَوْرَاحَ**» متفق عليه. ترجمه : څوک چې سهر وخت کښې يا د ماښام وخت کښې جومات ته لاړشى ، الله پاک دهغه دپاره په جنت کښې ميلمستوب تياروى کله چې هم سهراوماښام ځى .

## د مانځه په باره کښې بعض ضرورى خبري:

(۱) سړو باندي په جومات کښې د جمعی سره مونځ کول واجب دى ، رسول الله ﷺ فرمائيلي دى:

«**لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِالصَّلاَةِ فَتُقَامَ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى مَنَازِلِ قَوْمٍ لاَ يَشْهَدُونَ الصَّلاَةَ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ**» متفق عليه ٦٥١. ٢٤٢٠.

ترجمه : يقينًا ما دا کلکه اراده کړى وه چې حکم وکړم په مانځه باندى چې جماعت ودريږى بيا زه لاړ شم دهغه چاکورونو ته چې زمونږ سره مونځ ته نه حاضريږى نو د هغوى کورونه وسيزم.

(۲) د مسلمان دپاره ضروری دی چی په اطمینان او وقار سره وختي جومات ته راشی.

(۳) مسنون طریقه داده چی جومات ته د ورداخلیدو په وخت کښې اول ښی خپه مخکښې کړی ، او دا دعاء ووائی :

«اللَّهُمَّ افْتَحْ لِی أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ»

اے الله ! د رحمت دروازی زما دپاره کھولاوی کړه ، او بیا چپه خپه .

(٤) مسنون طریقه داده چی دوه رکعات په مسجد کښې مخکښې د کیناستلونه وکړی شی ، د ابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

«إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ»متفق علیه.

ترجمه : کله چی یوتن په تاسو کښې جومات ته ورننوځی د کیناستلونه مخکښې دِی دوه رکعات مونځ وکړی .

(٥) د خپل عورت پټول په مانځه کښې واجب دی ، د سړی عورت دنامه نه تر پنډو پوری دی او د زنانه ټول بدن عورت دی، صرف په مانځه کښې به مخ نه پټوی .

(٦) قبلې ته مخ کول واجب دی ، د مونځ د قبلیدلو دپاره دا اهم شرط دی مګر که څه مجبوری وی د مرض وغیره بیا عذر دی ، او حالت د سفر کښې په سورلۍ باندی که صرف نفلی مونځ کښې د قبلی نه مخ واوړی بیا هم مونځ صحیح دی.

(۷) په خپل وخت باندی مونځ اداءکول پکار دی ، د وخت نه مخکښې مونځ نه کیږی ، او د وخت نه روستو کول ئی حرام دی.

(۸) د مونځ دپاره وختی تلل ، اول صف کښې کیناستل ، او د مونځ انتظار کول ټولو کارونو کښې ډیر لوئی ثواب لری .

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دي چی رسول اللهﷺ فرمائیلی دی :

«**لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الأَوَّلِ ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلاَّ أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لاَسْتَهَمُوا وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي التَّهْجِيرِ** [أی التبکیر]**لاَسْتَبَقُوا إِلَيْهِ**.....الحدیث) متفق علیه .

ترجمه : که چرته خلقو ته پته ولګی چه اذان کولو کښې او اولنی صف کښې څومره أجر او ثواب دی ، نو یو بل سره به ئی په هغی باندی خسنړی اچولی وی ، او که دوی ته پته لګیدلی وی چی وختی جومات ته راتللو کښې څومره اجر دی ، نو د یوبل نه به په منډه باندی دیته مخکښې شوی وی بل ځائی کښې د نبی کریم ﷺ نه نقل دی :

«**لَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلاَةٍ مَا دَامَتِ الصَّلاَةُ تَحْبِسُهُ**.....الحدیث) متفق علیه.

ترجمه : یوتن ستاسو نه تر هغه وخت پوری په مانځه کښې حسابیږی ترڅو چه مونځ تاسو ایسار کړی وي.

## د مانځه وختونه:

د ماسپخين د مانځه وخت د نمر د زوال نه (یعني کله چی نمرد آسمان د مینځ نه مغرب طرفته مائله شی ) تر دی چی د هر څیز سوری د هغی مثل ته ورسیږی ، د مازیګر د مونځ وخت چی د هر څیز سوری دهغی یو مثل ته ورسیږی نه شروع کیږی تر د نمر پریوتو پوری .

د ماښام د مانځه وخت د نمر دپریوتو نه تر شفق پریوتو پوری وی (شفق هغه سرخی د آسمان ته وائی چی په کنارو کښې مغرب طرفته خکاره کیږی) *د ماسخوتن د مانځه وخت د شفق د پریوتونه تر نیمی شپې پوری دی ، د سَهر د مانځه وخت د صباء د راختو نه تر نمر راختو پوری دی .

## هغه ځایونه چی مونځ کول پکښې جائز ندی:

(۱) مقبره : د نبی کریم ﷺ ددی وینا د وجی نه چي ، «**الأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ إِلاَّ الْحَمَّامَ وَالْمَقْبُرَةَ**». رواه الخمسة.

ترجمه : په ټوله زمکه باندی مونځ کول جائز دی مګر حمام (غسل خانه) او مقبره کښې جائز ندي ، البته د جنازي مونځ په مقبره کښې جائز دي .

(۲) قبر ته مخامخ مونځ کول جائز ندی ، د ابو مرثد غنوی رضی الله عنه نه روایت دي ، هغه وائی چی ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی :

«لاَ تُصَلُّوا إِلَى الْقُبُورِ وَلاَ تَجْلِسُوا عَلَيْهَا». رواه مسلم :۲۲۹۵.

ترجمه : د قبرونو طرفته مونځ مه کوئ او مه قبرونو باندی د پاسه کینئ .

(۳) د اوښانو په غوژل (پنغاړی) کښې د مانځه نه منع راغلی ده لکه څرنګه چی په ګنده ځایونو کښې مونځ کول جائز ندی .

## د مانځه طریقه:

دمونځ شروع کولو په وخت کښې به نیت وکړی ، نیت په هر عبادت کښې لازمی حصه ده ، نیت د زړه عمل دي، په ژبه باندي ووئیلوته حاجت نشته ،

## د مانځه طریقه په لاندی ډول ده :

(۱) مونځ کونکی به خپل ټول بدن قبلۍ ته مخامخ کړی ، نه به د قبلۍ نه بدن اړوی او نه به خټ اړوی.

(۲) د تکبیر تحریمی دپاره به الله اکبر ووائی ، ددی سره به خپل دواړه لاسونه تر غوږونو یا تر اُوګو پوري اوچت کړی .

(۳) بيا به د ښي لاس ورغوی د چپ لاس په شا باندی کيږدی ، او د سينی د پاسه به ئی کيږدی .

(٤) بيا به دا دعا ووائی : «**الْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ**» (مسلم)

ترجمه : ټول صفتونه د الله دپاره دی ډير زيات پاکيزه او مبارک صفتونه ، او يادِی دا دعاء ووائی :

**سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ تَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلاَ إِلَهَ غَيْرُكَ**».رواه ابو داود والترمذی :۷۷۵، ۲٤۲ .

ترجمه : اے الله! پاکی ده تالره سره د حمد ستانه او برکتونو والا دی نوم ستا ، او اُوچت دي مقام ستا ، او ستا نه علاوه حقدار دبندګئ نشته دي ، ددي نه علاوه چه د استفتاح دپاره کومی نوری دعاګانئ نقل دی هغه هم وئيلی شی ، غوره داده چی يوه دعاء باندی هميشوالی ونکړی شی ، ځکه د مختلفو دعاګانو سره د زړه خشوع پيداء کيږی .

(٥) بيا به تعوذ وغواړی يعنی : **أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**.

(پناهی غواړم په الله سره دشيطان رټلي شوی نه)

(٦) **بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ**.

(شروع کوم په مدد دنوم د الله چی بے حده مهروبان او هميشه رحم کونکی دی)

بيا به سورة فاتحه شروع کړی :

((۱) **الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (۲) الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ (۳) مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ (٤) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (٥) اهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ (٦) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ** (۷))آمین .

(۱) ټول صفتونه د اولوهيت خاص الله لره دی چی پالونکی د مخلوقاتو دی

(۲) بے حده مهروبان او همیشه رحم کونکی دی

(۳) اختیار مند ، واکدار، دورځی د جزاء دی

(٤) خاص ته لره بندګی کوو اے الله! او خاص ستانه مدد غواړو

(٥) کلک کړی مونږ په لاره نیغه ، سیده، باندی

(٦) لار دهغه کسانو چی نعمت کړی دی تاپه هغوی باندی نه دی هغه کسان چه غضب کړی شوی دی په هغوی باندی او نه دی بے لاری

(۷) اے الله ! زما دا دعاء قبوله کړی

(۷) ددی نه پس به د قرآن کریم څه حصه تلاوت کړی ،کومه چی ورته آسانه وی .

(۸) بیا به دواړه لاسونه تر اُوګو پوری اُوچت کړی ، الله اکبر به ووائی ، رکوع ته به ښکته شی ، په رکوع کښې به خپل دواړه لاسونو باندي پنډۍ مضبوطي ونیسی ، او دا ذ کربه ووائی :

**(سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیمِ)**

(پاکي ده رب زما لره چې ډېر لوئ دی) سنت طریقه خو داده چې دری کرته ووئیلی شی لیکن زیات وئیل هم جائز دی ، او یو کرت هم جائز دی .

(۹) بیا به سر اُوچت کړی ، او دادعاء به ووائي

**(سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ)**

(قبلوي الله څوک چې دهغه حمدوکړی)

که امام وی او که منفرد وی ، او لاسونه به تر اُوږو پوري اُوچت کړی کله چې درکوع نه پورته کیږی ، دادعاء به ووائی :

**(رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ)** .

(اے زمونږه ربه خاص ستا دپاره ټول حمدونه دی )

(۹) او یا دی دا دعاءپه ولاړه ووائی:

(ربنا ولك الحمد حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه)

اے زمونږه ربه ، ستا دپاره ټول صفتونه دی بے شماره پاک صفتونه چې برکت پکښې اچولی شوی وی

(۱۰) او یا دی دا دعاءپه ولاړه ووائی :

**(اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَوَاتِ وَمِلْءَ الأَرْضِ وَمِلْءَ مَا بَيْنَهُمَا وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ)**. رواه مسلم : ۷۷۱

اے الله! زمونږه ربه ، ستا دپاره هر قسمه صفتونه دی ، دومره چې آسمان تری ډک شی ، او زمکه تری ډکه شی او هغه چې ددی

دوا ړوپه مینځ کښی دی او ددی نه پس هر هغه څه ډک شی چی ته ئی وغواړی

(۱۱) بیا به اوله سجده وکړی ، الله اکبر به ووائی ، په اُووانداممونو به سجده کوی، تندي ، پوزه ، دوه لاسونه (ورغوی) ، دوه زنګنونه او د قدمونو سرونه ، او په سجده کښې به څنګلی داړخونو نه لری ساتی ، او د ښپو ګوتی به قبلې طرفته متوجه کوی ، او دا به وائی

**(سُبْحَانَ رَبِّیَ الأَعْلَی)**

پاکی ده ځما رب لره چی ډیر اوچت دی ،

سنت دادی چی دري ځل ئي ووائی ، مګر ډیر وئیل هم جائز دی ، او یو ځل وئیل هم جائز دی ، لیکن مستحب داده چی ډیری دعاګانې پکښې وکړی شی ځکه چی داد دعاګانو د قبلیدو ځائي دی.

(۱۲) بیا به د سجدی نه سر پورته کړی ، او الله اکبر به ووائی ، او ددوو سجدو مینځ کښې به په ګسه خپه کینی ، او ښئ خپه به ودروی ، او خپل ښي لاس به په ښي پتون او ګس لاس په ګس پتون باندي کیږدی، او د ناستي حالت کښې به دادعاء ووائی :

**(رَبِّ اغْفِرْ لِی،رَبِّ اغْفِرْ لِی،)**

اے الله ماته بخنه وکړی اے الله ماته بخنه وکړی

(۱۳) بیا به دویمه سجده وکړی د مخکښې پشان.

(١٤) بيا به د سجدى نه پاسي ، الله اکبر به ووائی ، او برابر به ودريږی .

(١٥) دويم رکعت به د اول پشان اداء کړی په قول او فعل دواړو کښې ، مګر دعا د استفتاح او تعوذ به پکښی‌نه وائی ، او د دويمی سجدی نه پس به کينی لکه څنګه چي د سجدو په مينځ کښې کيناستلو، دښی لاس ګوتی به راغونډی کړی او غټه ګوته او مينځنۍ ګوته به سره وتړي ، او د تشهد په ګوته(مسواکه ګوته)به اشاره کوی،

د تشهد الفاظ دادی :(**اَلتَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلاَمُ عَلَيْنَاوَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَأشهد أن لااله الا الله ،وأشهد أن محمدا عبده ورسوله**")،**رواه البخاری : (٨٣١)**

(ټول عبادتونه د الله دپاره دی بدنی عبادتونه مالی عباتونه اے نبی ﷺ ! په تادی سلام او دالله رحمت او برکت وی ، او سلام دی وی په مونږه او دالله په نيکانو بندګان باندی ، زه ګواهی کوم چي دالله نه سوا بل د عبادت لائق نشته او ګواهی کوم چي محمد ﷺ د الله تعالی بنده او رسول دی)

ددی نه علاوه نور الفاظ د تشهد هم نقل دی ، ددی نه بعد که چرته دری رکعاته کوی لکه د ماښام مونځ ، ياڅلور رکعاته کوی لکه د ماسپخين او ما زيګر او ماسخوتن ، نو الله اکبر به ووائی او

لاسونه به اُوچت کړی یعنی رفع الیدین به وکړی ، او د مخکښې پشان به باقی مونځ پوره کړی مګر صرف سورة الفاتحه به لولی په ولاړه باندي ، او په آخری رکعت کښې د دویمي سجدي نه بعد به په تشهد باندي کینی، تشهد او درود ابراهیمی به ولولی :

**(أَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ،وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيد)**

اے الله رحمت نازل کړي په محمد ﷺ او په کورنی د محمد ﷺ باندی ځرنګه چي تا رحمت نازل کړی دی په ابراهیم علیه السلام او په کورنی د ابراهیم علیه السلام باندی ، یقینا ته ستائلی شوی ئی او لوئ شان والا ئی

اے الله برکت نازل کړی په محمد ﷺ باندی او په کورنی د محمد ﷺ باندی ځرنګه چي تا برکت نازل کړی دی په ابراهیم علیه السلام اوپه کورنی د ابراهیم باندی ، یقینا ته ستائلی شوی ئی او لوئی شان والا ئی.

ددی نه بعد به دعاء وغواړی کومه ئی چي خوښه شی ، او مسنون دعاء داده :

**(اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ).**

ترجمه : اے الله ! زه پناهی غوارم په تا باندی د قبر د عذاب نه ، او دعذاب د اُور نه ، او د ژوند د فتنی نه او د مرګ دفتنی نه او پناهی غوارم د فتنی د مسیح الدجال نه، او داسی نوری دعاګانی .

(۱٦) بیا به ښی طرفته سلام وګرځی، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته به ووائی، او بیا به ګس طرفته دغه رنګه سلام وګرځوی .

(۱۷) مسنون طریقه په آخری تشهد دماسپخین ، مازیګر، ماښام اوماسخوتن مونځ کښې داده چې مونځ کونکی په تورک سره کینی ، یعنی ښي قدم ودروی او ګس قدم دښی پنډۍ دلاندي راوباسی ، او ګس کوناتې به په زمکه ولګوی او لاسونه به دمخکښې پشان کیږدی.




## د مانځه نه پس اذکار :

**أَستَغفرُ الله، أَستَغفرُ الله، أَستَغفرُ الله، اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ.**روا‌ه مسلم : ٥٩١)

ترجمه : بخنه غواړم د الله نه ، بخنه غواړم دالله نه ، بخنه غواړم د الله نه ، اے الله ! ستا ذات سلامتیا والا دی ، او سلامتیا ستا دطرفنه ده ، ته ډیر برکتونو والائی اے ذوالجلال والاکرام ذاته.

**(لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ)**متفق عليه.

ترجمه : نشته حقدار دبندګئ سیواء د الله پاک نه یک یو دی ، شریک ورسره نشته، هغه دپاره بادشاهي ده ، او د هغه دپاره ټولی ستائینی دی ، په هر څه قدرت لرونکی دی ، اے الله! نشته منع کونکی د هغه څه چي ته ئی ورکوی ، او نشته دی ورکونکی د هغه څه چي ته ئی منع کوی اوفائده نشی ورکولی ستا په مقابله کښي مالدار ته مالداري د هغه.

**(لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَلاَ نَعْبُدُ إِلاَّ إِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ)**رواه مسلم :٥٩٥)

نشته حقدار دبندګئ سیواء دالله پاک نه یک یو دی ، شریک ورسره نشته ، هغه دپاره بادشاهي ده ، او د هغه دپاره ټولي ستائيني دی ، په هر څه قدرت لرونکی دی ، نشته د ګناه نه اړونکی او د نیکی توفیق ورکونکی مګر صرف یو الله دی ، نشته حقدار دبندګئ سیواء د الله پاک نه ، مونږ بندګی نکوو مګر صرف د دغه الله ، د هغه پاره نعمتونه او فضل دی او د هغه دپاره ټولی خائسته ستائینی دی ، نشته حقدار دبندګئ سیواء د الله پاک نه ،

مونږه هغه دپاره خپله بندګی خاص کونکی یو اګر که کافران ئی بد ګنړی ، ددی نه پس (سبحان الله) (۳۳) دری دیرش کرته (الحمد الله) (۳۳) دری دیرش (الله اکبر) (۳۳) دری دیرش کرته وائی ، او د سلو (۱۰۰) پوره کولو دپاره به دادعاء واوئي :
**(لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)** روه مسلم: ۵۹۷.
نشته حقدار دبندګئ سیواء د الله پاک نه یک یو دي ، شریک ورسره نشته ، هغه دپاره بادشاهي ده ، او د هغه دپاره ټولي ستائيني دی ، په هر څه قدرت لرونکی دی ، او آیة الکرسی به ولولی او قل هو الله احد او قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ، د هر فرض مونځ نه بعد یو یو کرت، او د سَهر او ماښام مانځه نه پس مستحب طریقه دری دری کرته لوستل دی.

## د مسبوق د مانځه طریقه :

(چی څه حصه دمونځ تری د امام سره شوی وی هغی ته مسبوق وائی) د کوم سړی نه چی د امام سره مونځ فوت شی که یو رکعت وی او که ډیر وی ، دامام د دویم سلام ګرځولو نه پس څومره مونځ چي تری شوی وی هغه به پوره کړی ، او روستو چي څوک هم راځی ، امام په کوم رکعت کښې رالاندی کړی د هغه ځائی نه به مونځ شماری ، مګر د کوم رکعت رکوع چی د امام سره

لاندی نه کړی هغه رکعات به نه شماری ، او که رکوع لاندي کړی نو رکعت ئي وشو ، مونځ کونکي چی کله جومات ته داخل شی نو جمعي سره ورله داخلیدل پکاردی ، که امام هرحالت کښې وی ، ولاړ وی ، که د رکوع حالت کښې وی او که د سجدی حالت کښې وی، که هر حالت کښي وی ، د بل رکعت په انتظار کښې ودریدل مناسب ندی ، او په ولاړه به تکبير تحريمه وائي مګر که مريض وي نو په ناسته هم تکبير تحريمه کولي شي .

**مونځ فاسد کونکي کارونه :**

١ : قصدًا خبري کول په مونځ کښې اګرکه لږ وی .

٢ : خپل ټول بدن د قبلي نه اړول .

٣ : اودس ماتيدل په يو د هغه څيزونو چی اودس ورباندی ماتيږی.

٤ : ډير پرله پسی بی ضرورته حرکتونه کول.

٥ : خندا کول په مونځ کښې اګرکه لږ وی

٦ : قصدًا په رکوع ، سجده ، قيام او قعود کښې زياتوالی کول.

٧ : د امام نه قصدًا مخکښې کيدل.

**په مانځه کښې واجبات:**

۱ : ټول تکبیرات بغیر د اولنی تکبیر نه ، ځکه هغه رکن دی (تکبیرةالاحرام)

۲ : (سبحان ربي العظیم) کم از کم یوځل په رکوع کښې وئیل.

۳ : (سمع الله لمن حمده) د امام او مقتدی دواړو دپاره ، د رکوع نه د سر پورته کولو په وخت کښې .

٤ : (ربنا ولك الحمد) د رکوع نه د سر پورته کولو نه پس .

٥ : (سبحانه ربي الأعلی) وئیل اګر که یوځل ولی نوی .

٦ : (رب اغفرلی، رب اغفرلی) وئیل د سجدو مینځ کښې .

۷: اولنی تشهد ووئیل.

۸: او د اولنی تشهد دپاره کیناستل.

**د مانځه ارکان:**

۱ : القیام ، فرضی مونځ کښې اُودریدل دقدرت والو دپاره واجب دی ، او هرچی نفل مونځ دي ، په هغې کښې قیام واجب ندي، لیکن په ناسته مونځ کښې به نیم اجر وی قیام په مقابله کښې .

۲ : اولني تکبیر (تکبیرةالاحرام) .

۳ : سورة فاتحه لوستل په هررکعت کښې .

٤ : هررکعت کښې رکوع کول.

٥ : رکوع کښې اعتدال کول.

٦ : هررکعت کښې په اوو (٧) اندامونو باندی سجده کول .
٧ : د سجدو مینځ کښې کیناستل.
٨ : ټولو افعالو کښې اطمینان کول .
٩ : آخری تشهد وئیل.
١٠ : د آخری تشهد دپاره کیناستل .
١١ : په نبی کریمﷺ باندی درود ووئیل
١٢ : سلام ګر ځول .
١٣ : ارکان په ترتیب سره کول .

## مونځ کښې د سهوی (هیری) احکام:

سهوه هیری ته وائی ،کله چی مونځ کونکي خطاء شی ، مونځ زیات وکړی یا کم ، یا ئې شک پیداء شی چی مونځ می زیات کړیدی او که کم ، د هغی دپاره په شریعت کښې سجده سهوه ده کچرته په مونځ کښې تری زیاتی شوی وی لکه رکوع ، سجده وغیره ، د هغی دپاره دوه سجدی د سلام نه پس کیدلی شی ، او دغه رنګه که کموالی تری شوی وی په افعالو د مانځه کښې بیا به هم دوه سجدی د سلام نه پس کوی ، که چرته یو رکن تری پاتی شوی وی ، او بل رکعت د شروع نه مخکښې ورته یاد شو ، نو د دغه رکن اعاده به کوی ، او سجده د سهوی به اخر کښې هم کوی ،که چرته د بل رکعت د شروع نه پس ورته یاد شی نو دغه

رکعت چی رکن پکښې فوت شوی وو باطل شو ، او دا روستنی رکعت د هغی په ځائی قائم شو ، او که د سلام نه پس ورته پریښودلی شوی رکن رایاد شو ، او ډیر وخت پکښې نوی تیر شوی نو پوره یورکعت به وکړی او سجده سهوه به هم وکړی ، که چرته وخت پکښې ډیر تیر شوی وی او یا ئی اودس مات شوی وی بیا به د سر نه مونځ کوی ، که چرته په مونځ کښې یو واجب هیر شی لکه د اولنی تشهد دپاره ناسته وغیره ، نو دوه سجدی د سهوی به مخکښې د سلام نه کوی ، او په حالت د شک کښې چی شک په شمیر درکعاتو کښې وی په لږ شمیر به اعتماد کوی ، ځکه دا ډیر یقینی وی ، او سجده سهوه به کوی ، او که چرته شک ددی نه علاوه په نور څه کښې وی نو په غالب گمان به عمل کوی او سجده سهوه به هم کوی.

## سنن رواتب:

د مسلمان سړی او ښځی دپاره مستحب دی چی په حالت د حضر کښې د دولسو رکعاتو حفاظت وکړی ، څلور رکعاته مخکښې د ماسپخین نه ، دوه رکعاته پس د ماسپخین نه ، دوه رکعاته د ماښام نه پس ، دوه رکعاته د ماسخوتن نه پس ، او دوه رکعاته د سَهر د مانځه نه مخکښې ، د ام حبیبه رضی الله عنها نه روایت دي ، فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی :

مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلَّهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيضَةٍ إِلاَّ بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ أَوْ إِلاَّ بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ»رواه مسلم :۷۲۸)

ترجمه : نشته یو بنده مسلمان چی د الله دپاره دولس رکعاته سنت وکړی د فرض نه علاوه ، مګر الله پاک به ورله په جنت کښې کور جوړ کړی ، او یا به ورله په جنت کښې کور جوړ کړي شی ، په سنتو او عامو نوافلو کښې د یو مسلمان د پاره افضل او غوره داده چی کورکښې آداء، شی ، د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دی ، چه رسول الله ﷺ فرمائی:

« إِذَا قَضَى أَحَدُكُمُ الصَّلاَةَ فِي مَسْجِدِهِ فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا مِنْ صَلاَتِهِ فَإِنَّ اللَّهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلاَتِهِ خَيْرًا»رواه مسلم :۷۷۸)

ترجمه : کله چی یو تن خپل مونځ په جومات کښې آداء کړی ، نو څه حصه دمونځ دِی کور دپاره پریږدی ، ځکه چی ددی مونځ د وجی نه الله تعالي په کورکښې خیر او برکت راولی ، او بل حدیث د بخاری او د مسلم کښې راغلی دی ، د زید بن ثابت رضی الله عنه نه روایت دی :

(فَإِنَّ خَيْرَ صَلاَةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلاَّ الصَّلاَةَ الْمَكْتُوبَةَ)متفق علیه .

ترجمه : « غوره مونځ د سړی هغه دی چی په کور کښې وشی سیواء د فرض مونځ نه»

## د وتر مونځ:

د مسلمان دپاره د وترو کول سنت دی خو سنت مؤکده دی د وتر د کولو وخت د ماسخوتن مونځ نه پس تر د صبا راختلو پوری دی ، او غوره وخت د شپې آخره حصه ده چې څوک خپل ځان باندی د راپاسیدو اعتماد لری ، دا هغه سنت دی چې رسول الله ﷺ وراندی په سفر او حضر کښې همیشوالی کولو ، د ټولو نه کم وتر یو رکعت دي ، ځکه چې رسول الله ﷺ به د شپې یولس رکعاته کول په حدیث د عائشه رضی الله عنها کښې راغلی دی :

**«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُصَلِّي بِاللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْهَا بِوَاحِدَةٍ**-الحديث رواه مسلم: ۷۳٦)

ترجمه : رسول الله ﷺ د شپې مونځ یولس رکعاته کولو یو رکعت به ئې پکښې وتر کولو ، د شپې مونځ دوه دوه رکعاته دی ، په حدیث د عبد الله بن عمر رضی الله عنه کښې راغلی دی:

**«أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ صَلاَةِ اللَّيْلِ ،فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم :صَلاَةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً تُوتِرُ لَهُ مَا قَدْ صَلَّى»** . رواه البخاري ومسلم.

ترجمه : یو سړی د رسول الله ﷺ نه دشپې د مانځه په باره کښې تپوس وکړو، رسول الله ﷺ وفرمائیل : د شپې مونځ دوه دوه رکعاته دی ، که څوک د صبا د راختلو نه ویریږی نو یو رکعت دِی وکړی دغه مخکښې ټول مونځ به ورله وتر کړی .

دعاء قنوت په وترو کښې کله کله د رکوع نه روستو وئیل پکار دی ، د حسن بن علی رضی الله عنه د حدیث د وجی نه چی رسول الله ﷺ ورته دعاء قنوت الفاظ وښودل ، لیکن همیشوالی به پری نه کوي ، ځکه چی خومره صحابه کرامو د رسول الله ﷺ مونځ نقل کړیدي هغوی پکښې دعاء قنوت ندي ذکرکړي مستحبه طریقه داده چه که د چانه د شپي مونځ فوت شی نو د ورځي ئي قضائی کولي شی ، که دوه رکعاته وی او که څلور وی تر دولسو رکعاتو پوری د نبی کریم ﷺد عمل دوجی نه .

## دوه رکعاته دسَهر سنت:

دا د هغه سنت رواتبو نه دي چی نبی کریم ﷺ وربانده همیشوالی کړی دی ، سَفر او حَضر کښې ئی چرته هم ندی پري ښودی ، د عائشه رضی الله عنه نه نقل دی :

**«أَنَّ النَّبِىَّ –صلى الله عليه وسلم– لَمْ يَكُنْ عَلَى شَىْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ مُعَاهَدَةً مِنْهُ عَلَى رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ »**. متفق علیه.

ترجمه : نبی کریم ﷺ په نفلی مونځ باندی دومره اهتمام ډیر نه کولو لکه خومره اهتمام چی به ئی د سَهر په دوه رکعاته سنتو کولو، ددی په فضیلت کښې به ئی فرمایل :

**«لَهُمَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا جَمِيعًا »**(رواه مسلم: ۷۲۵)

ترجمه : خامخا دا دوه رکعتونه ماته د ټولي دنيا نه ډير خوښ دی ، او سنت طريقه داده چه اول رکعت کښې (قل ياأيها الكافرون) او دويم رکعت کښې (قل هو الله احد) ولولي ، او کله کله اول رکعت کښې
(**قُولُواْ آمَنَّا بِاللّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا**---الاية) البقرة : ۱۳٦)
او دويم رکعت کښې
(**قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ**-الآية آل عمران :٦٤)

دا دوه رکعاته مختصر کول سنت دي د نبی کريم ﷺ د عمل د وجی نه ، او د چانه چی د سَهر مونځ نه مخکښې سنت کول فوت شی نو د سَهر د مانځه نه روستو کول ورله هم جائز دی ، غوره داده چی د نمر راختلو نه پس وکړی شي چی د يو نيزی په مقدار اُوچت شی تر د زوال نه مخکښې پوری.

## د چاشت مونځ:

دا دأوابينو يعني الله تعالي ته د راګرځيدونکو بندګانو مونځ دی چی سنت مؤکد دی ، په ډيرو احاديثو کښې پدی باندی د عمل کولوترغيب راغلی دی د ابو ذر رضی الله عنه نه روايت دی :

**عَنِ النَّبِىِّ –صلى الله عليه وسلم– أَنَّهُ قَالَ«يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلاَمَى (أي مفصل) مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ**

**تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَيُجْزِئُ مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى»**

ترجمه : نبي کریمﷺ فرمائی : يو تن ستاسو کښې صبا کوی په داسی حال کښې چی په هر جوړ باندی صدقه وی ، نو سبحان الله وئیل صدقه ده ، الحمدلله وئیل صدقه ده ، لا اله الا الله وئیل صدقه ده ، او الله اکبر وئیل صدقه ده ، دنیکئ حکم کول صدقه ده ، د بدئي نه منع کول صدقه ده ، او ددي ټولو نه دوه رکعاته مونځ د چاشت په وخت کافی کیږی .

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلاَثٍ لاَ أَدَعُهُنَّ حَتَّى أَمُوتَ صَوْمِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَصَلاَةِ الضُّحَى وَنَوْمٍ عَلَى وِتْرٍ.** متفق عليه.

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : چی ماته زما دوست دري وصیتونه کړیدي چی تر مرګه پوري به ئي نه پریږدم ، هره میاشت کښې دری ورځی روژی نیول ، د چاشت مونځ کول ، او د خوب نه مخکښې وتر کول ، افضل وخت د چاشت د مونځ کله چی ورځ را پورته شی او د نمر ګرمائش سخت شی ، د زوال د نمر سره ئی وخت ختم شی ، او ټولو کښې کم رکعاتونه دوه رکعاته دي ، او د اکثرو ئي اندازه معلومه نه ده.

هغه وختونه چه مونځ کول پکښې جائزندی:

(۱) د صبا د مونځ نه پس ترنمر راختو پورې چه د نیزې په مقدار پورې وچت شي

(۲) د غرمې په وخت کښې چه کله نمر دآسمان مینځ ته ورسېږی ، او دا اندازه به دسورې نه معلومیږی.

(۳) د ماز یګر د مونځ نه پس تر د نمر پریوتو پورې ، لیکن پدې اوقاتو د منع کښې بعض مونځونه جائزدی چې هغې ته سبې مونځونه وائې لکه ، تحیة المسجد (مسجد ته دراتللو په وخت کښې دوه رکعاته کول)

د جنازې مونځ ، صلاة الکسوف (نمر د تندر نیولو مونځ) ، دوه رکعاته د طواف نه پس کول ، او د اودس نه روستو دوه رکعاته کول ، د استخارې مونځ او ددي نه علاوه دغه رنګه هغه فرض مونځونه چه فوت شوی وی دوجې ددي وینا د نبی کریم ﷺ نه «**مَنْ نَسِيَ صَلاَةً أَوْ نَامَ عَنْهَا فَكَفَّارَتُهَا أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا** »متفق علیه.

ترجمه : د چانه چې مونځ هیر شی او یا د مونځ نه اوده پاتي شی ، نو کفاره ئې داده چې اداء دِې ئې کړی کله چې ورته رایاد شی ، او دغه رنګه قضاء دسَهر سنتو لکه څنګه چې د ماسپخین قضاء شوی سنت د مازیګرنه روستو جائز دی

## د زکات احکام

**دزکات حکم** :

زکات د اسلام د ارکانونه یو رکن دی ، او هر مسلمان باندی واجب دی ، چی کله دنصاب مالک شی ، الله پاک فرمائی :

**(وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ) البقرة ١١٠**

ترجمه : او دمانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئي .

د زکات په حکم کښې ډیر فوائد او حکمتونه دی :

(١) د نفس پاکوالي او دبخل او شومتیا نه لروالے راولي .

(٢) مسلمان د سخاء د خائسته صفت سره عادت کیدل .

(٣) د غریبانانو او مالدارو مینځ کښې مینه پیداکیږی ، ځکه نفسونه احسان طرفته مائل کیږی .

(٤) د غریب مسلمان حاجتونه پوره کیږی .

(٥) انسان ورسره د ګناهونو نه صفاکیږی او درجات ورسره بلند کیږی .

**کوم اشیاو کښې زکات فرض دی ؟** :

ذهب (سره زر/سونا) فضه (سپین زر/ چاندي) د تجارت سامان ، او ډنګر/ څاروی ، او هر هغه څیز چی د زمکي نه راوځی د دانو په شکل کښې یاد میوو په شکل کښې یا د معدنیاتو په شکل کښې.

**د ذهب (سرو) او فضه (سپنو زرو) زکات:**

سرو او سپینو زرو کښې زکات واجب دي، په هر شکل کښې چې وی ، کله چې د نصاب مالک شی ، د سرو زرو نصاب شل مثقاله دي ، یو مثقال (٤.٢٥) ګرامه دي نو شل مثقاله (٨٥) ګرامه راځی ، او دسینوزرو نصاب (٢٠٠) درهمه نبوی دی، چې یو درهم (٢.٩٧٥) ګرامه دی د (٢٠٠) درهمونه (٥٩٥) ګرامه جوړیږی ، نو چاسره چې دومره نصاب وی، نو (٢.٥) فیصده زکات ورکول فرض دی ، کچرته یوتن غواړی چې نقد روپو لحاظ سره زکات وباسی ، اول به خپل وطن کښې د یو ګرام سرو او یا د سپنو زرو قیمت معلوم کړی ، په کوم کال کښې چې زکات وباسی او د هغه دقیمت نه به زکات وباسي .

مثال په طور: یوسړی د (١٠٠) ګرامه سرو مالک شو ، نو زکات ورکول ورباندی واجب دی چې کله یو کال پری تیر شی، ځکه چې دی ، دنصاب مالک دی، پدی کښې به دوه نیم (٢.٥) ګرامه سره زر ورکوی ، او که زکات کښې نقدی پیسی ورکړی نودسروزرو قیمت به دغه کال باندی معلوم کړی په کوم کال چه زکات ورکوی ، او د دوه نیم ګرامه سرو قیمت به ورکړی ، او دغه رنګه عمل به د سپنو زرو (چاندئي) سره هم وکړی ، او دغه رنګه نقدو پیسو کښې هم زکات واجب دی چې کله نصاب ته ورسیږی ، او یو کالورباندی تیرشی بس چاسره چې

د (۸۵) ګرامو سروزرو قیمت موجود شی ، زکات ورباندي واجب دي ، زکات به ورکوی ددوه نیم ګرامو په اندازه د قیمت که چرته د (۸۵) ګرامو نه ورسره مبلغ کم وی ، نو زکات ورباندی نشته دی ، مثلًا یو شخص سره ټول مبلغ (۸۰۰) ریاله دی او کال ورباندی تیر شو کله چه د (۵۹۵) ګرامه سپینو زرو قیمت تپوس وکړو د هغی قیمت (۸۴۰) ریاله وو ، ده باندی زکات نشته دی ، ځکه چی نصاب ورسره پوره نه دی .

## د تجارت په سامان کښې زکوة:

مسلمان تاجر چی تجارت کښې ورله الله پاک ډیر مال ورکړی وی ، هغه باندي په کال کښې زکات ورکول واجب دی ، چی د الله د نعمت شکر ادا کړی ، او دخپلو حاجت مندوورونو حاجت پوره کړی ، هغه سامان چی اغستل او خرخول پکښې دګټي دپاره کیږی که زمکه وی ، که حیوانات وی ، که طعام وی ، که د ځنباک څیزونه وی ، اوکه ګاډیوی وغیره ، ددي د زکات شرط دادي چی نصاب ته به رسیدلی وی ، طریقه ئی داده چی د سرو زرو یا سپینو زرو قیمت به معلوم کړی ، د مجموعه قیمت نه به دوه نیم فیصده زکات ورکوی ، مثلًا که یو انسان د یو لاکھ (۱۰۰۰۰۰)ریال په مقدار باندی د سامان د تجارت مالک شي پدی کښې دوه نیم

زره (۲۵۰۰)ریال زکات ورکول واجب دی ، د تاجرانو ذمه واری داده چی د کال په آخر کښې دِی د خپل ټول سامان حساب وکړی ، او زکاتدی اداکړی ، که چرته یو تاجر د نوی کال د شروع کیدونه لس(۱۰) ورځی مخکښې سامان واغستلو ، د کال په شروع کیدو سره به په ټول سامان کښې زکات ورکوی د کال حساب به د هغه ورځے نه کوی ، د کومی ورځی نه ئی چه تجارت شروع کړیدی ، په هر مسلمان باندی فرض دی چی د کال په آخر کښې ورسره څومره سامان وی ، د هغی زکات ورکړی ، هغه څاروی چی کور کښې ساتلی شی ، بهر د څریدلو دپاره نشی لیږلی ، لیکن د تجارت دپاره ئی ساتلی وی که چرته ددی قیمت نصاب ته رسیدلی وی ، زکات پکښې ورکول واجب دی ، زکوة به د نقدو روپو په شکل کښې دا کیدلي شی .

## د شیئر (شراکت) روپو کښې زکات:

(شیئر دیته وائی چی ډیر ملګری د تجارت دپاره روپۍ راجمع کړی) ډیر خلق د جائیداد یا د کارخانو د شیئر حصه اخلی ، او خپل رقم منجمد کړی ، کله کله ډیر کالونه دغه رقم منجمد وی (چی کاروبار پری نکوي) نو دا خبره زده کول پکار دي چی په دغه حصه دارئ کښې هم زکات واجب دی ځکه چی دغه مال د تجارت حسابیږی ، په مسلمان باندی

فرض دی چې د هر کال په آخرکښې د خپل شيئر د حصی نه زکات ورکړی .

## د زمکے په فصلونو کښې زکات:

د زمکی هغه فصل چه ذخیره کیدلی شی زکات ورباندی فرض دی ، مثلًا کجوری، غنم ، جوار ، وریژي وغیره ، البته سبزيانو او ميوو کښې زکات واجب ندی ، د زمکی پیداوار چې د ( ٦١٢)کیلو ګرام وزن ته ورسیږی ، دا نصاب دی ، او کال تیریدل ورباندی شرط ندی بس چې فصل کله پوخ شی نو زکات به تری ورکیدلی شی کچرته زمکه په نهری اُوبو باندی مشقت سره اُوبه کیدله نو نیم عشر (٥،فیصد) به ورکوی ، او که بارانی اُوبو باندی خړوبه کیدله نو بیا به پوره عشر ورکوی ، د مثال په طور باندي یو سړی غنم وکرل د هغي نه پیداوار ٨٠٠ کیلو ګرامه غنم وشول ، چونکه د غنمو نصاب (٦١٢) کیلوګرامه دي ددی وجی نه پدی باندی زکات (عشر) فرض دی چې (٨٠) کیلو زکات به ورکوی، پدی شرط چې د مشقت نه بغیر زمکه اوبه کوی ، او که چرته مشقت سره زمکه اوبه کوی نو بیا به (٤٠)کیلو ګرامه ورکوی.

## په حیواناتو کښې زکات:

ددی حیواناتو نه مراد اوښان ، غواګاني، ګډي او چیلۍ دا قسم انواع مراد دی ، زکات پکښې په لاندی شرطونو سره واجب دی :

(۱) نصاب ته به رسیدلی وی ، د اوښانو نصاب (۵) پنځه اُوښان دی ، د ګډو او بیزو نصاب (٤٠) څلویښت دی ، او د غواګانو او میخو نصاب (۳٠) دیریشت غواګانی دی ددی نه په کمو کښې زکات نشته .

(۲) یو کال به ورباندی د مالک سره تیر شوی وی .

(۳) داحیوانات به د کال په اکثره حصه کښې څریدونکي وی ، نو زکات به پکښې واجب وی ، اوپه هغه حیواناتو کښې زکات نشته چی د کومو دپاره مالک ګیاه راوړی او یا ورله روپو باندی ګیاه اخلی .

(٤) بل شرط دخناروو دزکات دپاره دادی چی دغه څاروی به د مالک د خدمت دپاره خاص نه وی ، لکه زمیدارۍ یا نور دکور د خدمت دپاره به نوی .

## په اُوښانو کښې زکات:

اُوښانو کښې زکات واجب دي ، چی کله نصاب ته ورسیږی ، نصاب د اُوښانو (۵) پنځه عدد دی ، کله چی یو مسلمان د

پنځو نه تر (۹) نه و اوښانو پوری مالک شی ، او دهغه په ملکیت کښې وربااندی کال تیر شی ، نو یو ګډ به زکات کښې ورکوی ، او کچرته د (۱۰) د لسونه تر(۱٤) څوارلسو پوری مالک شی پدی کښې دوه (۲) ګډان دی،او که چرته د (۱۵) پنځلسونه تر (۱۹) نورلسو پوری مالک شی دری ګډان به ورکوی ، که د (۲۰) شلو نه تر (۲٤) څلیریشتو اُوښانو مالک شی پدی کښې څلور ګډان دی ، که د (۲۵) پنځه ویشتو نه تر (۳۵) پنځه دیرشو پوری پدی کښې یو بنت مخاض دی (یعني یو کلنی داوښ بچی چی یو کال ئے پوره شوی وي) ،که چرته بنت مخاض پیداءنه شي نو ابن لبون هم کافی کیږی (ابن لبون یعنی دوه کلنی اوښه چی دوه کاله ئی پوره شویوی ، او کله چی د (۳٦) شپږ دیرشو نه تر (٤۵) پنځه څلویښتو پوری د اُوښانو مالک شی ، نو یو بنت لبون (دوه کلنئ اوښه ) به ورکوی، که چرته د (٤٦) شپږ څلویښتو نه تر (٦۰) شپیتو پوری اوښانو مالک شی نو یوه حقه (یعني دری کلنئ اوښ) به ورکوی ، او که چرته د (٦۱) یو شپیته نه تر (۷۵) پنځه اَویا پوری وی نو یوه جذعة(څلور کلنئ اوښه) به ورکوی ، او که د (۷٦) شپږ اویا نه تر (۹۰) نوی پوری مالک شو نو دوه بنت لبون (دوه کلنی) به ورکوی ، او که چرته د (۹۱) یو نوی نه تر

(۱۲۰) يو سل شلو پورى مالک شى ، نو دوه حقى (دري کلنئ) به ورکوى،
او ددى نه چى زياتيږى نو په هرو (٤٠) څلويښتو اوښانو کښې يو بنت لبون (يو کلنئ اوښ) دى او په (٥٠) پنځوستو کښې يوه حقه (درى کلنئ اوښه)ده.

**لاندينى جدول کښې د اوښانو دزکات عدد ذکردى:**

| العدد | | الزكاة |
|---|---|---|
| من | الى | |
| ٥ | ٩ | شاة(ګډ) |
| ١٠ | ١٤ | شاتان (٢:ګډان) |
| ١٥ | ١٩ | ثلاث شياه(٣ګډان) |
| ٢٠ | ٢٤ | أربع شياه(٤ګډان) |
| ٢٥ | ٣٥ | بنت مخاض(يوه کلنئ اوښه) |
| ٣٦ | ٤٥ | بنتا لبون(دوهکلنئ) |
| ٤٦ | ٦٠ | حِقه (درے کلنئ) |
| ٦١ | ٧٥ | جذعه (څلورکلنئ) |
| ٧٦ | ٩٠ | بنتالبون(دوه کلنى) |
| ٩١ | ١٢٠ | حقتان(درى کلنى) |

کچرته ددی نه زیات وی نو هرو څلویښتو کښې یو بنت لبون (دوه کلنۍ) او پنځوستو کښې یوه حِقه (دری کلنۍ) ده.

## په غواګانو کښې زکات:

کله چې یو مسلمان د (۳۰) دیرشو نه تر (۳۹) نهه دیرشو پوری دغواګانو مالک شی ، نو یو تبیع (یو کلني سخي) به ورکوی ، که د (٤٠) څلویښتو نه تر(٥٩) نهه پنځوسو پوری مالک شو، نو یوه مسنة (دوه کلنۍ سخۍ) به ورکوی او که د (٦٠) شپیتونه تر (٦٩) نهه شپیتو پوری مالک شی، دوه تبیع (یو کلنۍ) به ورکوی ، او که د (٧٠) اویاو نه تر (٧٩) نهه اَویاو پوري مالک شی ، نو یوه مسنة (دوه کلنۍ سخۍ) او یو تبیع (یوکلني سخي) به ورکوي ، او ددي نه بعد هرو دیرشو کښې یو تبیع (یو کلنی سخی) او څلویښتو کښې یوه مُسنه (دوه کلنۍ سخۍ )ورکیدلی شی .

| الزکاة | العدد | |
|---|---|---|
| | الی | من |
| تبیع (یو کلنے سخے) | ٣٩ | ٣٠ |
| مُسنه (دوه کلنئسخۍ) | ٥٩ | ٤٠ |
| تبیعان (٢ دوه یو کلنیسخی) | ٦٩ | ٦٠ |

| | | |
|---|---|---|
| ۷۰ | ۷۹ | مُسنه اوتبیع (یو دوه کلنۍ سخۍ او یو یو کلنے سخے) |

## په ګډو بیزوکښې زکات:

کله چې یو انسان د (٤٠)څلویښتو نه تر د (١٢٠) یوسل شلو ګډو بیزو مالک شی ، نو زکات کښې ورباندی یو ګډه ورکول واجب دی ، کله چې یوه ګډه ورباندي زیاته شی د (١٢١) نه تر (٢٠٠) دوه سوو پوری ، نو دوه ګډان به ورکوی ، که یو ګډه هم زیات شی تر (٣٩٩) دری سوه نهه نوی پوری دری ګډان به ورکوی ، او چې ددي نه زیات شی تر (٤٩٩) څلور سوه نهه نوی پوری نو څلور ګډان به ورکوی، او که چرته ددی نه هم یوه زیاته شی تر (٥٩٩) پنځه سوو نهه نوی پوری نو پنځه ګډان به ورکوی ، ددی نه بعد به په هرو سلو کښې یو ګډه وی هر څومره ته چه ورسي.

| العدد | | الزكاة |
|---|---|---|
| من | الى | |
| ٤٠ | ١٢٠ | شاة(یو ګډه) |
| ١٢١ | ٢٠٠ | شاتان(دوه ګډان) |
| ٢٠١ | ٣٩٩ | ثلاث شیاه٣(دری ګډان) |

| | | |
|---|---|---|
| ٤٠٠ | ٤٩٩ | أربع شیاهٔ (څلور ګډان) |
| ٥٠٠ | ٥٩٩ | خمس شیاه( پنځه ګډان) |

## د زکات مستحقین:

الله پاک فرمائیلی دی:[إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيم]{التوبة:٦٠

ترجمه : یقینًا حقداران د زکات فقیران دی ، مسکینان دی ، دزکات راغونډونکی دی ، او دهغه خلقو دپاره چی د هغوی زړونه اسلام ته مائل کول مقصدوی ، او د څټونو په آزادولو کښې (یعنی غلامان او قیدیان آزادولو کښې) او د قرضدارو دپاره او د الله تعالی په لاره کښې جهاد او دعوت کونکو دپاره او د مسافرو دپاره دا د الله تعالی د طرفنه فرض دی ، الله تعالی أته قسمه خلق ذکر کړي دی ، هریو ددی نه مستحق دزکات دی ، اسلام کښې زکات د معاشری د ترقئ او د ضرورت مندو خلقو د ضرورت پوره کولو دپاره مقرر شویدی ، او دا یواځې د شرعي علم والو دپاره خاص ندي ، لکه څنګه چه دا حال د نورو ادیانو دي .

**د زکات د حقدارانو تفصيل په لاندی ډول دی:**

١-الفقير: دا هغه څوک دي چی دخپل ضرورتونو نيمه حصه مال هم نه لری .

٢-المسکين : دا هغه څوک دي چی دخپل ضرورت نيمه حصه مال خو لری ليکن ټول ضرورتونه نه ئي پوره کيږی ، داسی کس له د زکات نه ديوی مياشتی خرچه او يا دپوره کال خرچه ورکولو جائز دی .

٣-العاملين علی الزکاة : هغه کسان چه دبادشاه د طرفنه د زکات په راغونډولو مقرر وی دخپل عمل مطابق به دزکات دمال نه تنخواه اخلی اګرکه مالداره وی .

٤-المؤلفة قلوبهم : ددينه مراد هغه مشران دقومونو دی چی ددی دوجه نه اسلام ته مائيله شی ، او يا مسلمانان دهغوی د شرنه محفوظ شی او دغه رنګه نوی اسلام قبلونکو ته په اسلام باندی دمضبوطوالی دپاره دزکات نه څه حصه ورکيدل پکار دی .

٥-دغلامانو دآزادول : دغلامانو دآزادولو دپاره ياد دشمن د قيد نه د مسلمان د خلاصی دپاره هم د زکات مال خرچه کيدل جائزدی .

٦-د قرضداردپاره : د قرض د خلاصی دپاره دزکات مال ورکيدلی شی پدی شرط چی د غلطو کارونو د وجی نه نوی

قرضدار ی شوی ، او خپله دخلاصولو وس نه لری او صاحب دمال مطالبه کوی .
٧-فی سبیل الله : ددی نه مراد هغه مجاهدین دی چی بغیر د تنخواه نه دالله تعالی په لاره کښې جهاد کوی ، ددي مال نه به د هغه د کورخرچه ورکیدلی شی ، او دهغه دپاره به اسلحه اغستلي شی ، شرعی علم حاصلول هم یو جهاد دی ، مثلاً یو تن دشرعی علم دپاره خپل ځان فارغ کول غواړی ، د هغه د ذاتی ضرورتونو دپاره دومره مال به ورکړی شی چی علم شرعی ته فارغه شی .
٨-مسافر : کوم مسافر سره چی د سفر خرچ او اخراجات ختم شی ، او خپل کورته درسیدو اسباب ورسره نوی ، نو د زکات د مال نه ورله دومره مقدار به ورکیدلی شی چی خپل کور ته ورسیږی اګرکه کور کښې مالداره وی .
تنبیه : د لارو کوڅو او جوماتونو په جوړولو کښې د زکات مال خرچ کول جائزندی.

**ضروری خبری** :
١-د سمندرنهراویستلی شوی څیزونو کښې زکات نشته لکه ملغلری ، یاقوت ، مرجان ، او مهیان وغیره ، پدي شرط چه د تجارت دپاره ونه ګرځولی شی .

۲-کرایه باندی ورکړی شوی بلډنګ او کور یا کارخانو کښې زکات نشته ، البته دهغي نه حاصل شوی آمدنئ کښې زکات شته چې کال ورباندي تیر شی ، مثلًا یو تن کور کرایه باندی ورکړیدی، کرایه اخلی او دغه نصاب ته ورسیږی او کال ورباندی هم تیر شی نو زکات به ورکوی.

## دروژےاحکام

**د روژے د نیولو حکم :**

د اسلام په پنځو ارکانو کښې یو رکن د رمضان روژے نیول دی ، ددي وینا د رسول الله ﷺ دوجي نه:

**«بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ»** متفق علیه.

ترجمه : د اسلام پنځه بناګانئ دی ، د لااله الا الله محمد رسول الله ګواهی کول، دمانځه پابندی کول ، زکات ورکول، دبیت الله حج کول ، او د رمضان روژه نیول .

## روژه

د الله تعالی درضا دپاره دصباء صادق نه تر د نمر پریوتو پوری د خوراک څښاک نه او د خپل اهل سره د هم بستری نه او د ټولو روژه ماتونکی څیزونونه الله تعالی ته دخپل ځان دنزدی کولو په نیت باندی ځان وساتلی شی ، دیته روژه وئیلی کیږی ، د ټول امت پدی خبره اتفاق دی، چی درمضان روژه نیول فرض دی، د دی وجی نه چی الله پاک فرمائیلی دی:

[فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ]{البقرة:۱۸۵}

ترجمه : څوک چی حاضر شی ستاسونه میاشت درمضان ته نو روژه دِی ونیسی.

روژه نیول واجب دی په هر بالغ ، عاقل باندي ، د بلوغ علامه داده چی پنځلس کالو ته عمر ورسیږی ، یا دنامه نه لاندي ویخته راوټوکیږی ، او یا تری نطفه خارجه شی ، په احتلام وغیره سره ، د زنانه د بلوغ یوه علامه د حیض راتلل دی ، نو هر کله چی یو ددي علامونه موجوده شی ، نو دغه انسان بالغ دي.

## د رمضان د میاشتي فضیلت:

الله تعالی د رمضان میاشت لره بي شماره خصوصیتونه او خوبیاني ورکړی دي ،چی بعض دهغي نه دادي :

۱-روژه دار دپاره ملائک بخنه غواړی تر څو چی ئی روژه نوی ماته کړی .

۲-سرکشه شیطانان پکښې تړلی شی .

۳-پدی کښې دلیلة القدر شپه ده چی د زرو(۱۰۰۰) میاشتو دعبادت نه غوره ده ،

٤-روژه دارو ته د رمضان په آخری شپه کښې بخنه کیږی .

په هره شپه درمضان کښې الله تعالی خپل بندګان د اُور نه خلاصوی .

په رمضان کښې عمره کول دحج برابره وی ، درمضان نور فضائل هم په احادیثو کښې ذکردی ، لکه په حدیث دابو هریره رضی الله عنه کښې راغلی دی:

**قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم :مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» متفق عليه.**

(څوک چی د رمضان روژي ونیسی دایمان سره او د ثواب په نیت ، دهغه مخکښني ټول ګناهونه به معاف شی) بل حدیث کښې راغلی دی :

عن ابي هريرة ، **قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم:«كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ، الْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلاَّ الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ»** ، متفق عليه

ترجمه : د هر انسان نیک عمل الله تعالی دوچنده کوی دلس چندو نه تر اُووه سوو چندو پوری الله تعالی فرمائی : سیوا د روژی نه چی دا صرف زما دپاره ده ، او ددی بدله به زه ورکوم

**رمضان ثبوت:**

د رمضان دراتللوثبوت په دوه طریقوسره کیږی :

(۱) د میاشت په لیدلو سره ، چي کله د رمضان میاشت ولیدلی شی ، نوروژه نیول فرض شی ، د رسول الله ﷺ فرمان دي :

**إِذَا رَأَيْتُمُ الهِلَالَ فَصُومُوا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا» متفق عليه**

ترجمه : کله چي د (رمضان) میاشت ووینئ نو روژه ونیسئ اوکله چي د (شوال) میاشت ووینئ نو روژه ماته کړئ ، یعني اختر وکړئ ، د رمضان د میاشتي دپاره د یو رشتینی کس ګواهی کافی ده ، او د اختر دپاره د دوه عادلانو ګواهی ضروری ده .

(۲) یا دا چه د شعبان د میاشتي دیرش ورځي پوره شی ، نو ورپسي ورځ به د رمضان اولنۍ ورځ وی، ددي وینا د رسول الله ﷺدوجه نه :

«فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلاَثِينَ»متفق علیه.

ترجمه : که چرته وریځ شی (د رمضان میاشت پټه شی)نو پوره کړئ شمیر ددیرشو ورځو(د شعبان) .

## روژه ماتول د چا دپاره جائز دی ؟

(۱) هغه ناروغه انسان چه د صحت امید ئي کیدلی شی ، او روژه نیولوکښې ورته مشقت وی ، نوهغه له روژه ماتول جائز دی ، روستو به بیا قضائی اداء کړی، او هغه څوک چي مرض ئي همیشه او لا علاج وی ، د روغتیا څه امید ئی نوی نوهغه معذور دی ،که روژی ونه نیسي، البته د روژو کفاره به ورکوی ، د یوی روژی په بدل کښې به یو مسکین ته طعام ورکوی ، او یا به نیم صاع غله ورکوی یعني تقریباً (۱.۲۵) پاؤ باندی یو کیلو.

(۲) مسافر د خپل کلی نه په سفر روان شی ، واپس خپل کلی ته راتلو پوری روژه ماتول ورله جائز دی ، ترڅوپوري چي یوځائی کښې د قیام اراده ئي نوی کړی .

(۳) حامله ښځه او يا ماشوم ته پيۍ ورکونکي ښځه هم روژه ماتولي شی ، پدي شرط چه خپل يادماشوم صحت ته خطره وی ، خو چی مجبوری ختمه شی بيا به قضائي راوګرځوی .
(٤) هغه انسان چه دهغه عمر داسي حد ته رسيدلي وی چی روژه نيول ورته ګرانوی ، روژه ماتول ورله جائز دی، قضاء ورباندی هم نشته ، البته د يوی روژی په بدل کښې به يو مسکين ته طعام ورکوی .

## روژه ماتونکی څيزونه :

١- قصدًا خوراک څښاک کول : البته په هيره باندی خوراک څښاک سره روژه نه ماتيږی ، رسول الله ﷺ فرمائيلی دی :
**«مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللَّهُ وَسَقَاهُ»** رواه مسلم .
ترجمه : څوک چی هيره باندي خوراک څښاک وکړی ، او روژه دار وی نو روژه دي پوره کړی ، دغه رنګه پوزه باندي خيتې ته اوبه تلل يا د رګ په واسطه ګلوکوز يا وينه بدن ته خيژول او ياهرهغه څيز چی بدن ته دغذاء په طور فائده ورکوی روژه ورسره ماتيږی، ځان تري ساتل پکار دی .
٢-د خپل اهل سره هم بستري (جماع) کول کله چی روژه دار د خپلي کور وداني سره همبستری وکړی ، نو روژه ئي باطله

شوه ، کفاره به هم ورکوی او قضاءروژه به هم نیسی ، د کفاری دری صورتونه دی :
١_ غلام آزادول .
ب_که چرته غلام نشی آزادولی نو بیا به دوه میاشتی پرله پسی روژی ونیسی، بغیر دشرعی عذرنه به مینځ کي روژه نه ماتوی ، مثلًا د اختر په ورځو یا دمرض وغیره په صورت کښې روژه ماتولی شی ، بغیر د شرعي عذر نه که یوه ورځ هم روژه ماته کړی ، دوباره به دسرنه شروع کوی .
ت_که د دوه میاشتو روژو وس نه لری، نو بیا به شپیتو (٦٠) مسکینانو ته طعام ورکړی .
٣-قصدًا د بدن نه نطفه خارجه شی لکه د خپل اهل سره لوبی کول یا بلی طریقی سره نطفه خارجه کړی ، نوروژه ورسره ماتیږی ، قضاء به راوړی ، کفاره وربانده نشته ، البته احتلام باندي روژه نه ماتیږی ، ځکه هغه بي ارادي وی
٤-حجامه کول یعنی د بدن نه وینه ویستل : دحجامي په صورت کښې، یا وینه ورکولو سره روژه ماتیږی ، البته د ټیسټ دپاره لږه وینه ورکولو سره روژه نه ماتیږی ، او یا غیر اختیاری وینه خارجه شی لکه د پوزي نه ، یا د زخم نه یاد غابن وغیره نه ، نوروژه ورسره نه ماتیږی

٥-قصدًا قیئ کولو سره : البته که چرته غیر اختیاری وی نوبیا روژه ورسره نه ماتیږی ، دي ذکرشوی څیزونو سره روژه ماتیږی ، ترڅو پوری چي اراده او قصد ورسره ملګری وی ځکه چي په خطاء سره یا په ناپوهتیاسره اُو یا په هیره سره روژه نه ماتیږی.

٦-روژه ماتونکي څیزونو کښې د حیض او نفاس وینه خارجیدل هم داخل دی ، هرکله چي زنانه وینه ووینی نورروژه ئی ختمه شوله ، دحیض یا د نفاس والا زنانه دپاره روژه نیول حرام دی ، البته بیا به ئی قضائی راوړی .

**هغه څیزونه چه روژه ورسره نه خرابیږی :**

غسل کول ، لامبو وهل، یا ګرمئ کښې اُوبو باندی ځان لوندول

.٢-د صبا دراختلونه مخکښې دشپې خوراک څښاک او هَم بستری کول جائز دی .

٣-د مسواک استعمال دورځی هر وخت کښې روژی ته څه نقصان نه رسوی بلکه مستحب عمل دی .

د حلال د وائي استعمال پدی شرط چی غذاء نوی ددی وجي نه (انجکشن) ستنه چی غذائیت پکښې نوی جائزده، لیکن شپې ته روستو کول بهتره دی، سپری وهل یا دطعام نه

ځکه کول پدی شرط چی د مرئ نه لاندی تیر نشی جائز ده ، دغه رنګه دخوشبو استعمال یا خوله او پوزه کښې اُوبو اچولو سره روژه نه ماتیږی مګر ډیره مبالغه به پکښې نشی کیدلی د حیض او نفاس وینه که دشپي بنده شي ، نو غسل سهار ته روستو کول جائزدی ، او دغه حکم دجنب همدی چی حالت د جنابت کښې پیشمنی وکړی ، اوسهار غسل وکړی .

**یادګیرنه:**

۱-که چرته یو کافر درمضان په ورځ کښې اسلام راوړی نو باقی ورځ به خوراک څښاک نه کوی ، او ددغه ورځی قضاء وراندی نشته دی .

۲-د صبادراختلونه مخکښي د شپی هره حصه کښې د روژی نیت کول ضروریدی ، داحکم د فرضی روژو دپاره دی ، او د نفلی روژو نیت د نمر دراختلونه پس هم کیږی چه خوراک څښاک ئې نوی کړی .

۳-روژه دار دپاره د روژه ماتی په وخت کښې ډیری دعاګانی غوښتل مستحب دی ، ځکه چی حدیث کښې راغلی دی :

«**إِنَّ لِلصَّائِمِ عِنْدَ فِطْرِهِ لَدَعْوَةً مَا تُرَدُّ**».ابن ماجه.

ترجمه : د روژه دار د روژه ماتی په وخت کښې دعاء نه ردکیږی ، خاصکر د روژه ماتی دعاء حدیث کښې ذکرده :

«ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ»ابوداؤد
ترجمه : تنده ختمه شوله ، رګونه لوانده شول ، او که الله وغواړی نو اجر هم حاصل شو.
٤-د رمضان دراتللو خبر چی د ورځی په مینځ کښې راشی نو باقی ورځ به خوراک څښاک نه کوی او ددی ورځی قضاء به هم راکرځوی .
٥-دچاپه ذمه چی د رمضان روژی پاتی وی ، باید چه تلوار پکښې وکړی اګر که روستوالی پکښې جائز دی او ترتیب پکښې هم شرط ندی، بغیر د عذرنه د بل رمضان پوری روستو کول پکار ندی.

## د روژے سنت:

١-د پیشمنی خوراک کول ، حدیث راغلی دی :
(تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِبَرَكَة)متفق علیه ترجمه : پیشمنی کوئي یقیناپه پیشمنی کښې برکت دی ، په پیشمنی کښې آخر دشپی ته روستوالی کول سنت طریقه ده ، حدیث کښې راغلی دی :
((لاَ تَزَالُ أمتي بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ واخروا السحور))صحیح الجامع .

ترجمه : همیشه به زما امت په خیر باندی وی ترڅو چی مخکښې والی کوی روژه ماتی کښې ، او روستوالی پیشمنی کښې کوی .

۲-د روژه ماتی صحیح وخت د نمر پریوتلو وخت دي ، روژه په کهجورو ماتول افضل دی ، که کهجوری نوی، بیا اُوبو باندی او که اوبه هم نوی بیا که هرشی د خوراک میلاؤ شی روژه پری ماتول پکار دی ، د روژه دار دعاء هر وخت کښې خاصکر د روژه ماتی په وخت کښې ډیره ښه قبلیږی ، حدیث کښې راغلی دی :

قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **ثَلاَثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لاَ شَكَّ فِيهِنَّ دَعْوَةُ الْوَالِدِ وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ وَدَعْوَةُالْمَظْلُوم**".

ترجمه : دري قسمه دعاګاني ډیري ښي قبلیږی ، دعاء د روژه دار ، دعاءد مسافر او دعاء دمظلوم ، درمضان په شپو کښې قیام اللیل (تراویح)کول ضروری عمل دی ، حدیث کښې راغلی دی :

«**مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ**». متفق علیه .

ترجمه : چا چی دایمان سره د اَجر دپاره د رمضان قیام وکړو مخکښني ګناهونه به ورته معاف شی ، غوره داده چه د امام سره وکړي شی ، ځکه چه حدیث کښې راغلی دی :

**«مَنْ قَامَ مَعَ الإِمَامِ حَتَّى يَنْصَرِفَ ، كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ»** . رواه اهل السنن.

ترجمه : چاچی قیام وکړو دامام سره تردی پوری چی امام راوګرځی وبه لیکلی شی دده دپاره ثواب د قیام اللیل ، او دغه رنګه ډیر ي صدقي کول ، او د قرآن کریم تلاوت ځکه چه رمضان شهرالقرآن ده ، د قرآن کریم لوستونکی ته په یو حرف یوه نیکی میلاویږی او یوه نیکی په لس چنده ده .

## تراویح:

د رمضان په میاشت کښې د شپې په جمعی سره لمونځ کولو ته تراویح ، قیام اللیل او تهجد وغیره وئیلی شی ددی، وخت د ماسخوتن نه واخله تر د صبا د راختلو پوری دی ، په احادیثو کښې دیته ډیر ترغیب ورکړی شوی دی ، سنت پکښې یولس (۱۱) رکعاته دی چی په هرو دوه رکعاتو باندی سلام وګرځولی شی ، او که د یولسو (۱۱) رکعاته زیات وکړي شی ، نو څه نقصان پکښې نشته دی ، او خائسته والی او اُوږدوالی پکښې پکار دی ، خو چی په مونځ کونکو باندی مشقت نوی ، زنانه ورته هم مسجد ته حاضریدلی شی خو چی فتنه نوی او خپل ستر او پردی اهتمام کولی شی .

## نفلی روژے:

رسول الله ﷺ نفلی روژو ته هم ډیر ترغیب ورکړیدی چی په لاندینی ډول دی

١=شپږ روژی د شوال د رمضان نه پس حدیث کښې دی :

«**مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ**» رواه مسلم.

ترجمه : چاچی د رمضان روژی ونیولی او وریسی د شوال شپږ روژی ونیولی ، دا پشان د ټول کال د روژو دی .

٢=هفته کښې دوه ورځی دګل ورځ (پیر) اود زیارت ورځ (جمعرات) باندی روژه نیول سنت دی.

٣= هره میاشت کښې دری ورځی روژی نیول افضل دی ، که د ایام البیض ورځی وی ، دیارلسمه (١٣) څوارلسمه (١٤) پنځلسمه (١٥) او که نوری ورځی وی .

٤= دعاشوری دورځی روژه د محرم دمیاشتی د لسمی ورځی روژه ده ، او مستحبه داده چه یوه ورځ تري مخکښې اویا یوه ورځ روستو روژه ونیولي شی : قال رسول الله ﷺ :

«**وَصِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ**». رواه مسلم.

ترجمه : رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : د عاشوري د ورځي روژه نيول زه اميد كوم د الله تعالي نه چی د يوكال مخكني ګناهونه وريژوی .

٥= دعرفي د ورځي روژه چی د ذی الحجي د نهمه ورځ ده ، حديث كښي راغلی دی

**صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِى قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِى بَعْدَهُ**،رواه مسلم.

ترجمه : د عرفی د ورځی ورژه نيول (نبی كريم صلی الله عليه وسلم) فرمائي : زه دالله نه اميد كوم چه يو كال مخكښنی او يو كال وروستنی ګناهونه ووريژه وی .

## هغه ورځی چی هغي باندي روژي نيول حرام دی:

١= د اختر ورځی وركوتی اختر او لوئي اختر.

٢= د ذی الحجی يولسمه ، دولسمه او ديارلسمه ورځ باندي چه ايام التشريق ورته وائي ، روژه نيول حرام دی .

٣= د حيض او د نفاس په ورځو كښي روژه نيول حرام دی .

٤= د ښځي نفلی روژه دخاوند د اجازت نه بغير چی خاوند ئي حاضر وی . حديث كښي راغلی :

«**لا تَصُومُ الْمَرْأَةُ وَبَعْلُهَا شَاهِدٌ إِلا بِإِذْنِهِ فِي غَيْرِ رَمَضَانَ**». متفق عليه.

ترجمه : روژه به نه نیسی یوه ښځه چی خاوند ئی حاضر وی مګر په اجازه دهغه باندی سیوا د رمضان نه

## د حج د احکامو پیژندل

د حج حکم او فضیلت :

حج کول په ټول عمر کښې یوځل په هر سړی او زنانه باندي واجب دی ، د اسلام دارکانو نه پنځم رکن دي ،
الله پاک فرمائی:
[وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً].(آل عمران:۹۷)
ترجمه : د الله دپاره په خلقو باندی زیارت د بیت الله دی، د ځوک چي د لاری وس لری ،او الله رسولﷺفرمائی :
**بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ،وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ،وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ،وَصَوْمِ رَمَضَانَ** "متفق عليه.

ترجمه : بناء د اسلام په پنځو (بناګانو) ستنو باندي ده ، ګواهی کول ددي خبري چی نشته حقدار دبندګئ سیواء د الله پاک نه ، او محمد ﷺ د الله رسول دی ، د مونځ پابندی کول ، زکات آداء کول ، حج کول ، او د رمضان روژي نیول ، حج په هغه غوره عملونو کښې دي، چی الله تعالی ته د نزدیکت سبب دی ، رسولﷺفرمائیلی دی :

«مَنْ حَجَّ هَذَا الْبَيْتَ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّه».
متفق علیه

ترجمه : څوک چي حج وکړی، ددی کور (بیت الله) او د (جماع د کوروالی) شهوت خبری ونکړی ، او نه ئی د ګناه کار وکړو ،واپس به شی (د ګناهونونه پاک) لکه څنګه چی د مور نه پیداء شوی وی .

## د حج شرطونه:

هر بالغ عاقل مسلمان باندی حج کول واجب دی ، چی استطاعت لری ، استطاعت دیته وائی ، چی دومره خرچه ورسره وی ،چی د تللو راتللو او د خوراک څښاک ، او لباس دپاره کافی شی ، او خپل اهل ته هم نفقه پریږدی ، او دغه رنګه مرض او د دشمن یره نوی ، او د زنانه دپاره محرم سره تلل هم شرط دي ، اوکه زنانه په حالت د عدت کښې وی بیا ورله هم دحج دپاره تلل جائز ندی ، ځکه چی الله تعالی د عدت واله زنانه دپاره د کورونو نه وتل منع کړی دی ، بس د هرچا دپاره یو مانع د دغه موانع نه چی موجود شی هغه باندی حج نشته دی .

## د حج آداب:

۱= د حاجی دپاره د سفر کولو نه مخکښې
د حج په احکامو باندی ځان پوهه کول ضروری دی ، که د کتاب د لوستلو په واسطه وی ، او که د عالم نه د پوښتني په ذریعه وی ، خو ځان پوهه کول لازم دی.
۲= د حاجی دپاره دصالح ملګری په ملګرتیا باندی حرص پکاردی ، چی د خیر په کارونو کښې ورسره مدد وکړی ، او د بدو نه ئی منع کړی ،خاصکر د عالم یا د طالب العلم سره ملګرتیا کول پکار دی .
۳= د حاجی دپاره په خپل حج باندی دالله رضاء مقصد ګرځول ضروری دی.
٤= د فضول خبرونه خپله ژبه ساتل ضروری دی.
٥= د الله تعالی ذکر او دعاګانی ډیری کول پکاردی .
٦= نورو خلقوته ضرر نه رسول .
۷= زنانه لره پکار دی چي د خپل ستر او پردی ډیر خیال وساتی ، د سړو د ګنړی نه ځان وساتی .
۸= د حاجی په زړه کښې دِی دا خبره حاضره وی ، چی زه په عبادت کښې یم، سیاحت او سیل نه دي ، بعض خلق حج د سیل او چکر موقعه ګنړي ، په هغي کښې تصویران وغیره وباسی دا ګناه ده .

## الاحرام

احرام اصل کښي (په مناسکو د حج کښي د داخلیدلو نیت) ته وائی ، څوک چی د حج او عمری اراده لری ، هغه باندی احرام واجب دی ، حج کونکی یا عمره کونکی چی د مکی د خارج نه راځی ، هغه به احرام د هغه میقات نه تړی کوم چی د رسول الله ﷺ په ژبه مبارکه مقرر شوی دی ، هغه په لاندنی ډول دی:

١-ذوالحُلیفة : د ا داهل مدینه او د مدینی د جهت نه چی څوک راځی د هغوی دپاره میقات دی ، اوس ورته (أبیار علی) وائی .

٢-الجُحفه : دا رابغ سره نزدی یو ورکوټی کلی دی ، اوس خلق درابغ نه احرام تړی ، دا د شام والو دپاره میقات دی .

٣-قرن المنازل : (السبیل الکبیر) دا طائف ته نزدي علاقه ده د نجد والو دپاره میقات دي .

٤-یلملم : د مکي نه ٩٠ کلومیټره فاصله باندي دي ، د یمن والو دپاره میقات دي.

٥-ذات عرق : دعراق والو دپاره میقات دي دا ځایونه نبی کریم ﷺ مقرر کړي دي، ددغه خلقو دپاره او هرهغه څوک چی پدی باندی تیریږی په نیت د حج او عمری سره ، اوسیدونکی د مکی او هغه څوک چی مکه کښې ئی ځان

داحرام نه حلال کړی وی هغوی به احرام دخپل ځائی دأسیدلو نه تړی .

**احرام کښې سنت طریقۀ:**

هغه کارونه چی داحرام نه مخکښې کول پکاروی.

۱-نوکان کټ کول ، د تخرګونو نه ویخته کټ کول ، بریتان کټ کول ، د نامه نه لاندی ویخته خرئیل ، غسل کول، خوشبو استعمالول مخکښې د احرام نه صرف په بدن باندی نه په کپړو د احرام باندی .

۲-کنډلی شوی کپړی ویستل ، صرف لنګ او څادر اچول ، او زنانه هرقسم کپړی اچولی شی صرف د ستر به ډیر اهتمام کوی چه د زینت ځایونه ئی ښکاره نه شی ، مخ ته نقاب او لاسونوته دستاني به نه اچوی لیکن د پردو سرو نه به خپل ستر کوی .

۳-مسجد ته تلل راتلل د مونځ دپاره که دمونځ وخت وی .

او دوه رکعات تحیة الوضوء کول پس ددي نه به احرام وتړی .

## د حج طریقې

### د حج د کولو درې قسمه طریقې دي :

١–حج تمتع : ددې طریقه داده ، چې حاجی دحج په میاشتو کښې د عمرې دپاره احرام وتړی ، او د عمرې نه بعد ځان د احرام نه حلال کړی ، او بیا په مکه کښې وسیږی چه کله أتمه (٨) ورځ د ذی الحجه راشی نو د ځپل ځائی نه د حج دپاره احرام وتړی ، او کله چې د میقات نه ورتیریږی نو داسي دعاء به ووائی : **(لَبَّيْكَ عُمْرَةً مُتَمَتعا بِهَا الي الحج)**

یعنی د عمرې دپاره لبیک وایم ددی نه بعد به حج کوم ، حج تمتع د ټولو نه افضله طریقه ده ، که چرته یو حاجی مکې ته راشی مخکښې د حج د ورځو نه ، او بیا روستو د خپل د اوسیدو د ځائی نه د حج دپاره احرام تړی ، نو وائی به : (لبیک حجا) پدي صورت کښې په حاجی باندی یوه هَدیه قربانی کول دی ، یو کډ د یوشخص نه کافی کیږی ، او یو د اوښانو یا د غواګانونه د اُووه (٧) کسانو دپاره کافی کیږی .

٢–**حج قِران** : ددی طریقه داده چه د عمرې او دحج دپاره به یوځائی احرام وتړی، د احرام د تړلو په وخت کښې به ووائی ، (لبیک عمرة وحجا)

یعنی د عمرې او د حج دپاره لبیک وایم ، معني ئې دا ده : اے الله ! زه تا ته په حج او عمري سره حاضر یم او ستا حکم ته

تیار ولاړیم ، د عمري کولو نه بعد به ځان داحرام نه نه حلالوی تر یوم النحر (داختر ورځې) پوری ، دا قسم حج اکثر هغه خلق کولی شی چی د (۸) أتمی ذی الحجه نه لړ مخکښې راشی ، او د حج پوری په احرام کښې وی ، او د ځان سره به هَدیه هم بوځی ، پدی طریقه حج کښې هم قربانی کول لازم دی .

۳-**حج اِفراد** : ددی قسم حج طریقه داده ، چی د حج نیت به صرف وکړی د میقات نه به ووائی : (**لَبَّيْكَ حَجًّا**)

یعنی د حج دپاره لبیک ووایم ، پدي طریقه کښې قربانی کول لازم نه دي ، حاجی صاحب که جهاز کښې راځی نو د جهاز میقات ته رارسیدو نه مخکښې به احرام وتړی ، که چرته د میقات (برابروالی) محاذات پیژندل ورته مشکل وی ، نو مخکښې احرام تړل هم جائز دی، کوم کارونه چي میقات سره کول پکار دی مثلًا صفائی کول ، خوشبو لګول ، نوکان کټ کول وغیره ، د مخکښې نه کول پکار دی ، جهاز کښې دکیناستلو نه مخکښې د احرام کپړه به واچوی ، یا دِی په جهاز کښې واچوی ، د میقات سره به بیا صرف نیت وکړی .

**احرام کښې د داخلیدلو طریقه :**

احرام کښې داخلیدو دپاره به پدی طریقه نیت کولی شی

۱-د حج تمتع دپاره د احرام طریقه داده : (لبیک عمرة متمتعا بها الی الحج)
یعنی د عمری دپاره لبیک وایم ، د عمری نه بعد د حج کولو نیت لرم .
۲-که حج قِران کوی نو داسی به وائی : (**لَبَّيْكَ عُمْرَةً وَحَجًّا**) دعمری او د حج دپاره لبیک وایم ، چي عمره او حج په یو احرام باندی کوی .
۳-که حج اِفراد کوی نوداسی به وائی : (لبیک حجا ) د حج دپاره لبیک وایم ، د احرام نه پس تلبیه وئیل سنت دی ، تر د طواف شروع کیدو پوري ، د تلبیي الفاظ دادی :
**(لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لاَ شَرِيكَ لَك)**
ترجمه : حاضریم اے اللہ زه حاضر یم ستا هیڅ شریك نشته زه حاضریم یقینا ټول حمدونه او نعمتونه ستا دپاره دی او بادشاهی هم ستا ده ستا هیڅ شریك نشه دی.

## د محرم دپاره حرام شوی کارونه:

بعض کارونه د احرام نه مخکښي د محرم دپاره جائز وی ، خو د احرام نه پس ورباندي حرام شی ځکه چی اُوس په عبادت کښي داخل شو ، محرم باندی دا لاندینی کارونه حرام دی :

١-د سر اود بدن د نوری حصی نه ویښته لری کول حرام دی ، لیکن د ضرورت مطابق په نرمۍ سره سر ګرولي شی .
٢-نوکان کټ کول ، مګر که یونوک مات شی ، یا درد کوی نو د هغی په لری کولو کښې هم څه حرج نشته دی .
٣-خوشبو استعمالول او خوشبودار صابون استعمالول هم منع دی .
٤-د خپلی ښځی سره کوروالی کول ، نکاح کول ، بدن لګول په شهوت سره ، د خپلي ښځی مخ خکلول ، شهوت سره کتل وغیره حرام دی .
٥-لاسونو ته دستانی اچول .
٦-د حیواناتو یا د مارغانو ښکار کول د احرام په حالت کښې حرام دی .
دا هغه کارونه وو چی سړو او ښځو ټولو دپاره حرام وو .
هغه کارونه چی صرف د سړو دپاره حرام دی هغه دا دي .
١-ګنډلی شوی کپړه ، البته د ضرورت مطابق بِلټ ، (د ملا نه تاو شوي پټۍ) ګهړۍ ، عینکی ، او ددي په شان دضرورت څیزونه استعمالول جائز دی .
٢-براهِ راست خپل سر نشی پټولي که براه راست نوی بیا څه حرج نشته دي، لکه چهترۍ ، موټر ، بس ، خیمه وغیره سره سر پټول جائز دی .

۳-خپوته جرابې اچول جائز ندی ، که چرته پیزار نوی ، بیا د
څرمنې موزې اچولی شی ، لیکن پړکی(ګیټې) به ښکاره
کوی.

**ددي ممنوع څیزونو استعمال په دري قسمه دي:**

۱-بغیر د عذر نه یو څیز استعمالول ، پدی صورت کښې به
دغه انسان ګنهګار وی ، او فدیه به هم ورکوی .
۲-که دخاص ضرروت مطابق استعمال کړی ، نو
ګنهګارندی ، البته فدیه به ورکوی .
۳-که د عذر دوجه نه دغه منع شوي،څیز استعمال کړي ،
مثلًا د یوي مسئلئ علم ورسره نوی ، یا تری هیره شوی وی
یا مجبوره شوی وی ، پدی صورت کښې نه ګنهګار دی، او نه
ورباندی فدیه شته دی ،

**د طواف طریقه:**

مسجد حرام ته د ورداخلیدو په وخت کښې به ښئ خپه
مخکښې کړی ، دا سنت طریقه ده ، او دا دعاءبه ووائی : (**بِسْمِ
اللهِ، وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللهِ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي،وَافْتَحْ لِي
أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ**). ترجمه : شروع کوم په نوم دالله سره ، درود
اوسلام دِی وی په رسول الله ﷺ باندی ، اے الله ! بخنه وکړه

ماته دګناهونو زما ، او کهولاوي کړه ماته دروازي د رحمت خپل، (ابن ماجه)

عامو جوماتونو ته د داخلیدلو هم دغه طریقه ده ، ددي نه پس به کعبي طرفته روان شی د طواف دپاره .

۱-د حجر اسود خواته به لاړشی ، که ممکنه وی په ښی لاس باندي به حجر اسود مسحه کړی ، بسم الله ، الله اکبر به ووائی ، که ممکنه وی نو خکل دِی ئی کړی ، یادِی ورسره لاس مسحه کړی ، او بیا دِی لاس خکل کړی ، او که دا ممکن نوی بیا به د لری نه په لاس باندی اشاره وکړی ، او الله اکبر به ووائی لاس به نه خکلوی ، بیا به خپل چپ طرف ته کعبه وګرځوی ، او طواف به شروع کړی ، د طواف په دوران کښې څه مخصوص دعاء نشته دی ، د ځان دپاره یا د نورو مؤمنانو دپاره هرقسمه دعاء غوښتلی شی ، د قرآن کریم تلاوت هم کولی شی .

۲-کله چی رکن یمانی ته ورسیږی نو که ممکنه وی لاس باندی به ئی مسحه کړی ، او بسم الله الله اکبر به ووائی ، او لاس به نه خکلوی ، که چرته لاس لګول ممکن نوی ، نو هم داسي به تیریږی او په لاس سره به اشاره نه کوی اونه به الله اکبر وائی ، د رکن یمانی او دحجر أسود مینځ کښې به دا دعاء وائی :

(رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ) .

ترجمه : اے ربه ! راکړه مونږ ته په دنیا کښې ښه حالت او په آخرت کښې ښه حالت ، او بچ وساته مونږ لره د عذاب د اُور نه .

٣-کله چې حجر اسود ته ورسیږی نو که ممکن وی ، خکل به ئی کړی او یا به ورته اشاره وکړی ، او الله اکبر به ووائی ، پدی طریقه په اُووه چکرو کښې یو چکر پوره شو نو باقي اُووه چکري به پدي طریقه پوره کړی .

٤-پدي طریقه باندي به اُووه چکري پوره کړی ، حجر اسود سره چې تیریږی ،

الله اکبر به ووائی ، اولنی دری چکرو کښې به رمل کوي (یعني واړه واړه قدمونه به په جلتئ سره اخلي) او باقی چکرو کښې به عام مزل سره ځی، په طواف کښې اضطباع (یوه اُوږه ښکاره کول) سنت طریقه ده ، د اضطباع طریقه داده چې څادر به دښی ووږي د لاندي او د چپی أوږي دپاسه واچوی ، اضطباع په اولنی طواف کښې کول پکاردی ، او په غیر د طواف نه هم اضطباع نشته.

٥-د طواف د پوره کولو نه پس به د مقام ابراهیم نه روستو دوه رکعاته د طواف وکړی چې مقام ابراهیم دمونځ کونکي او

دکعبې په مینځ کې راشی ، د مونځ په حالت کښې به دواړه اُوږی پټې کړی ، په اولنی رکعت کښې به : [قُلْ يَا أَيُّهَا الكَافِرُونَ]
يعني سورة الکافرون ، او په دویم رکعت کښې به ، [قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ]
سورت الاخلاص تلاوت کړی ، که د مقام ابراهیم سره د خلقو د ډیروالي دوجی نه ممکن نه وی ، بیا په مسجدحرام کښې چې هرځائ وشی جائز دی .

## صفاء او مروه کښې سعی کول:

د طواف نه پس به سعی کیدلی شی ، اول به صفا طرفته مخامخ شی ، او دا آیت به ولولی : [إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللّٰهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ] {البقرة:١٥٨}
ترجمه : یقینا د صفا او مروه غونډئي د الله د دین نښخې دی ، نو څوک چې دبیت الله حج یاعمره کوی ، هغه باندی ددی دواړو سعی کولو کښې څه ګناه نشته دی ، او څوک چه د زړه په خوشحالئ سره نیکی کوینو یقیناً الله تعالی قدردان او په هرڅه باندي پوهه دی ، صفا ته دومره ختل پکار دی چه کعبه ورته په نظر باندي راشی ، کعبې ته به مخامخ لاس اُوچت کړی ، او دا دعاء به دري کرته ووائی:

"لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كَلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ أَنْجزَ وَعْدَهُ وَنَصرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ)،

ددي نه پس به دعاء وغواړی ، او بیا به مروه طرفته روان شی د شنو راډونو مینځ کښې منډه وهل پکار دی ، تیزه منډه پکار ده څومره چی کیدلی شی ، خو صرف د سړو دپاره ، او د ښځو دپاره منډه نشته دی ، کله چی مروه ته ورسیږی نو قبلې طرفته به مخ کړی او دعاء به وغواړی لکه څرنګه چی صفا کښې ئې غوښتلی وه ، دسعی په اُووه چکرو کښې یوچکر پوره شو ، ددی پشان به اُووه چکری پوره کوی ، د صفا نه شروع او مروه باندی به سعی ختموی ، حاجی که نیت د حج تمتع کړي وی نو د سعی کولو نه پس به دسر ویښته کټ کړی ، او عمره به پوره کړی، پدي سره د احرام نه حلال شو خپلي کپړي به واغوندي ،کله چی دذی الحجه اتمه ورځ راشی ، نو د خپل د اُوسیدو د ځائی نه به احرام وتړی په هغه طریقه باندی چی څنګه ئې د عمری دپاره احرام تړلی وو ، د حج نیت به وکړی ، او دا تلبیه به وائی : (لَبَّيْكَ حَجًّا) لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيكَ لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ")

البته څوک چې حج قِران یا حج اِفراد کوی هغه به د سعی نه پس ویخته نه کټ کوی احرام کښې به وسیږی .

**اتم (۸) ذی الحجه** :

پدي ورځ باندي حاجی صاحب منی ته ځی ، او د ماسپخین ، مازیګر، ماښام او ماسخوتن او دصبا مونځونه به په قصر سره کوی ، البته جمع بین الصلاتین به نه کوی .

**۹- نهم ذی الحجه(یوم عرفه)** :

پدی ورځ باندی به حاجی صاحب یوڅو کارونه کوی

۱= د نمر د راختلو نه پس به حاجی د عرفات میدان ته ځی ، او د نمر د پریوتو پوری به عرفات کښې وی ، د ماسپخین او مازیګر مونځ به یوځائی په قصر سره (دوه دوه رکعاته) کوی ، کله چه زوال وشی ، بیا به دمونځ نه بعد ځان فارغه کړید ذکر ، دعاء او تلبیه دپاره ، پدي ورځ باندي ډیري دعاګاني او الله رب العالمین ته عاجزی کول پکاردی ، دخپل ځان دپاره دمور او پلاراوعامو مسلمانانو دپاره دعاء پکارده ، په دعاءکښې لاس اُوچتول سنت طریقه ده عرفات کښې وقوف کول د ارکانو د حج نه دی ، څوک چې په عرفات کښې وقوفونه کړی ، د هغه حج نه کیږی ، عرفات کښې د وقوف وخت د نهمي ورځي د ذی الحجه د نمر د راختلونه تر دلسمي

ورځي د صباح د راختو پوري دي ، بس څوک چه اِیسار شو د ورځي یا د شپي په څه حصه کښې د دغه ورځو نه ، نو حج ئے صحیح دي ، لیکن حاجی صاحب به پوره کوشش کوی چې د عرفات حدود ته ورداخل شی .

۲=کله چې د عرفې په ورځ نمر پریوځی نو خه په اطمینان سره به مزدلفي طرف ته روان شی ، او په اُوچت آواز سره به تلبیه وائی ، مزدلفی ته رسیدو سره به د ماښام او دماسخوتن مونځونه په جمع سره قصر وکړی ، د مونځ نه بعد به د خوراک څښاک بندوبست وکړی ، او بیا به اُوده شی چه د سهر مونځ ته تروتازه شی .

## ذی الحجه (دلوئی اختر ورځ):

۱= د اختر په ورځ چې حاجی صاحب د سهار مونځ وکړی ، خپل ځائی باندي به کینی ، او اذکار او دعاګانی به غواړی تردی چې تیاره ختمه شی .

۲= د نمر د راختونه مخکښې به منی طرف ته روان شی ، او په اُوچت آواز به تلبیه وائی ، د شیطان ویشتلو دپاره به واړه واړه اُووه (۷) کانړی راغونډ کړی .

۳= تلبیه به وائی تردی چې جمرة الکبری (لوئی شیطان) ته ورسیږی ، د هغه په ویشتلو به شروع وکړی ، په یو یو کانړی به ئی ولی او هرکانړی سره به الله اکبر وائی .

٤= د شیطان د ویشتلو نه پس قربانی کول دی ، که چرته حج تمتع یا حج قِران کوی نو مستحب داده چی دخپلی قربانۍ نه خوراک وکړی ، او نورو ته ئی هدیه او صدقه کړی که ممکن وی.

٥= د قربانی نه پس به حلق الرأس وکړی یعني د سر ویښته به وخرئیوي ، اویا به قصر (ورکوټی) کړی ، خو حلق افضل دي د زنانه دپاره صرف (قصر) دي یعنی د هری کونځۍ نه به دګوتی د سر په مقدار ویښته کټ کړی (تقریبا دری سینټی میټره) ددی نه پس حاجی صاحب د احرام نه حلال شو ، کوم کارونه چی کول ئي حرام وو لکه ویښته ، نوکان کټ کول وغیره ، هرڅه ورله جائز شول لیکن نکاح (خپلی ښځی سره نزدیکت) نشی کولی ترڅو پوری چی د بیت الله طواف ئی نوی کړی .

٦= طواف الافاضة کول : د طواف نه پس دوه رکعاته مونځ د طواف کول ، او بیا په صفاء او مروه کښې سعی کول ، کله چی حج تمتع وی ځکه چی حج قِران ، یا حج اِفراد کونکی اول د طواف قدوم سره سعی کړیده چی هغه سعی دحج وه ، که چرته هغه سعی نوی کړی بیا سعی کول ورباندی لازم دی ، د صفا او مروه د سعی نه پس ټول ممنوع څیزونه حلال شی کوم چی د احرام د وجه نه حرام شوی وو .

۷=حاجی صاحب باندی لازم دی چی یولسمه او دولسمه شپه منی کښې وکړی (یعنی د شپې اکثره حصه منی کښې تیره کړی) او دیارلسمه شپه تیرول هم جائزدی ، څوک چی اراده د روستوالي لری د اختر په ورځ د اعمالو ترتیب دادي : رمئي (شیطانویشتل) نحر (قربانی) حلق (د سر نه ویخته خرول) ، طواف کول دا ترتیب سنت دی ، لیکن یو عمل مخکښې روستوشی نو څه حرج نشته دی

## ۱۱-ذی الحجه(یولسمه ورځ) :

پدی ورځ حاجی صاحب باندی د شیطانانو ویشتل لازم دی، د نمر د زوال نه روستو به شروع کوی ، د زوال نه مخکښې ویشتل جائز ندی ، د بلی ورځی د صباء راختو پوری ویشتل جائز دی ، اول به جمرة الصغری (ورکوټی شیطان) وولی بیا جمرةالوسطی (مینځنی شیطان) او بیاجمرة الکبری (لوئی شیطان) دزوال نه پس ترد بلي ورځي د صبا راختو پوري ویشتلئ شی .

## د جمرات ویشتلو طریقه داده :

دځان سره (۲۱) یو دپاسه شل واړه واړه کانړی راواخلی ، او د ورکوټی شیطان خواته به لاړشی ، په یو یو کانړی باندي به ئی

اُووه ځل وولی ، او هر کانړی سره به الله اکبر وائی ، بیا سنت طریقه داده چی لږ ښی طرفته شی ، او اُوږده دعاء وغواړی ، ددی نه پس د مینځنی شیطان خواء ته ورشی او اُووه کانړو باندی به ئی وولی ، د هرګوزار سره به الله اکبر وائی، بیا سنت طریقه داده چی ګس طرفته به ودریږی ، او دعاء به وغواړی ، ددي نه پس به لاړي شی لوئی شطان ته ، په هغه مخکنئ طریقه به ئي وولی ، د هرکانړی سره به الله اکبر وائی ، ددی نه پس به نه ودریږی .

## ۱۲-دولسمه ذی الحجه :

۱= پدي ورځ به حاجی هغه څه کوی چی په یولسم (۱۱) د ذی الحجه باندي ئي څه کړی وی ، که چرته یو حاجی صاحب غواړی چی تر (۱۳) ذی الحجه پوری هیسار شی ، نو هغه کارونه به کوی کوم چی مخکښي دوه ورځو کښې کړی وی د شیطان د ویشتلونه روستو به حاجی صاحب بیت الله ته د طواف الوداع دپاره ځی ، د طواف د اُووه چکرونه پس به دوه رکعاته دطواف که ممکن وی دمقام ابراهیم نه شاته وکړی ، او که ځائی نوی نو بیا د مسجد په هر ځائی کښې کیدلی شی د اطواف په هغه زنانه باندی نشته چی مریضه وی ، (حائضه، یانفاسه) د حاجی صاحب دپاره دا هم جائز دی چی

طواف اِفاضه (د اختر دورځی طواف) روستو کړی ، دولسم د ذی الحجه یا دیارلسم د ذی الحجه ته ، خو بیا به صرف د طواف الافاضة نیت کوی ، او دا طواف به د طواف الوداع په ځائی کافی شی ، د طواف الوداع نه روستو مکه کښې بغیر د ضرورت نه هیساریدل ندی پکار، که چرته ډیر وخت دپاره پاتی شی ، نو دوباره به طواف الوداع کوی.

### د حج ارکان:

۱: الاحرام .

۲: الوقوف بعرفة.

۳: طواف الافاضة .

٤: السعی بین الصفا والمروه.

چاچی پدی ارکانو کښې څه پریښودل حج ئی صحیح ندی.

### واجبات الحج :

۱= د میقات نه اِحرام تړل

۲= عرفات کښې وقوف کول دنمر پریوتو پوری ، څوک چی د ورځی وقوف کوی .

۳= مزدلفه کښې شپه کول تر صبا پوری چه خه تیاره ختمه شی مګر بوډاګان او زنانه د نیمی شپې هم تللی شی .

٤= منی کښې د اختر نه روستو دوه یا دری شپې تیرول (ایام التشریق) .
٥= دغه ایام التشریق کښې د شیطان ویشتل (رمی الجمرات)
٦= د سر ویښته کټ کول یا ورکوټی کول.
٧=طواف الوداع
پدی مذکوره څیزونو کښې چې د چانه یو پاتې شو نو دم به ورکوی ، ګډ یادغواء اُومه حصه او یا داُوبښ اُوومه حصه به قربانی کوی ، او دحرم په مسکینانو باندی به ئې تقسیم کوی.

## د مسجدنبوی ﷺ زیارت:

د مسجد نبوی زیارت دمونځ کولو دپاره مستحب دی ځکه حدیث کښې راغلی دی :
**«صَلاَةٌ فِي مَسْجِدِي هَذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِصَلاَةٍ فِيمَا سِوَاهُ إِلاَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ»**.
ترجمه : رسول الله ﷺ فرمائيلي دی : چې زما پدی جومات کښې یو مونځ دزرو مونځونو نه غوره دی په نورو جوماتونو کښې سیواء د مسجد حرام نه ، ځکه هغه کښې یو مونځ په یو لاکه دی ، ددی مسجد دپاره په کال کښې څه خاص وخت مقرر نشته ، اونه دحج حصه ده، هروخت یو مؤمن د

نبی کریم ﷺ د قبر زیارتکولی شی ، او د هغه د دوه صحابه کرامو ابوبکر صدیق او عمربن الخطاب رضوان الله علیهم اجمعین د قبرونو ، او د نبی کریم ﷺ د حجری مسحه کول یاخکلول یا طواف کول یا ددعاء په وخت کښې ورته مخ کول داټول جائزنه دی.

## د خوراک څښاک احکام:

الله سبحانه وتعالی خپلو بندګانوته دپاک (طیب) څیزونو د خوراک حکم کړیدی او د پلیتو(خبیث) څیزونونه ئی منع کړیدی ، الله پاک فرمائی:
[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُواْ لِلّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ] {البقرة:۱۷۲}

ترجمه : اے ایمان والو ! خوراک کوئ د پاکو هغه څیزونونه چی مادرکړیدی ، او د الله تعالی شکر کوئی که چرته تاسو خاص د هغه بندګی کونکي یئ.

قاعده داده چه اصل په خوراکونو کښې (اباحت) حلال والی دی ، دحرامو څیزونو بیان به په شرعه کښې کیږی ، الله تعالی د مؤمنانو دپاره طیبات مباح کړی دی چی فائدی تری واخلی ، نو دالله تعالی نعمتونه دالله تعالی په نافرمانۍ کښې

استعمالول جائزندی ، الله تعالی خپلو بندګانو ته په خوراک خښناک کښې حرام واضح کړیدی ، الله تعالی فرمائی:

**[وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلاَّمَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ]** {الأنعام:١١٩}

**ترجمه** : یقینًا الله په تفصیل سره بیان کړیدی تاسوته هغه څه چی حرام ئی کړی دی په تاسو باندی مګر که تاسو ډیر محتاجه شئ هغی ته ، د کوم څیز چی تحریم نوی بیان شوی هغه به حلال وی.

**«قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:إِنَّ اللَّهَ فَرَضَ فَرَائِضَ فَلا تُضَيِّعُوهَا، وَنَهَي عَنْ أَشْيَاءَ فَلا تَنْتَهِكُوهَا، وَحَدَّ حُدُودًا فَلا تَعْتَدُوهَا، وَغَفَلَ عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ غَيْرِ نِسْيَانٍ فَلا تَبْحَثُوا عَنْهَا»** رواه الطبراني.

ترجمه : الله تعالي بعض کارونه فرض کړي دي نو هغه مه ضائع کوئاو د بعض څیز نه ئي منع کړي ده ، د هغی خلاف ورزی مه کوئ ، او بعض حدود اوپولي ئي مقررکړی دی د هغي نه تجاوز مه کوئ ، او بعض څیزونه ئي پريښودلي دی چي هیر تري ندي نو هغه مه لټوئ د هغه څیزونو حراموِل جائز ندی چی الله تعالی او رسول الله ﷺنوی حرام کړی.

**قاعده** : هر هغه طعام حلال دی چی صفا وی او بی ضرره وی او هرهغه طعام جائز ندی چی ګنده وی ، بدن دپاره نقصان وی ، لکه مرداره ، (چی بغیر دشرعی طریقۍ نه تری ساه

وخیژی ، وینه بهیدونکی (د ذبح نه البته که رګونو او غوښه کښې وینه پاتی شی جائز ده) خنزیر، دنشی څیزونه ، او چی د ګندګئ سره ګډوډ شوی وی ، حرام دی ځکه چی نجس او نقصانی دی ، جائز خوراکونه دوه قسمه دی : حیوانات او سبزیانی ،

**بیا حیوانات دوه قسمه دی :**

اُوچه باندي اُوسیدونکی ، او دریاب کښې ژوند کونکی ، هر چی دریابی حیوانات دی نو هغه حلال دی تردی چی د دریاب مرداره هم حلاله ده ، د ذبحی شرط پکښې نشته دی.
د اُوچی اوسیدونکي حیوانات حلال دی مګر هغه انواع چی اسلام حرام کړی دی لکه :

١=خنزیر

٢=کورنئ خر

٣= د داړو والا حیوان چی ماتول کوی مګر ضبع (ګورګټئ) جائز ده .

٤= په مارغانو کښې پنجو والا چی ماتول کوی ځکه حدیث کښې راغلی دی : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «**نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ كُلِّ ذِى نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِى مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ**» ، (رواه مسلم : ١٩٣٤)

ترجمه : عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ منع کړیده د خوراک دهر هغه درنده نه چی تیره غاښونه لری ، او دهر هغه مارغه نه چی پنجي لری.

٥= هغه مارغان چه ګندګی او مرداری خوری ، لکه ټپوس ، باخه ، کارغه وغیره ځکه ددوی خوراک ګندګی ده ، او هغه چی د انسان طبیعت ئی بد کښی لکه مار ، لړم ، مږه ، چنجی او نور حشرات وغیره ، ددی نه علاوه مارغان او حیوانات حلال دی لکه آسونه ، صحرائی خره ، چرګان ، هوسۍ ، سُویۍ (خرګوش) ، شترمرغ وغیره وغیره، مګر صرف جلاله (ګندګي خوړونکی حیوان) او دا هغه حیوان دي ، چی اکثر خوراك دهغی ګندګی وی ، نو دری ورځو د بندولو نه پس چی پاک خوراک وکړی بیا جائزه دی ، سبزیانو کښې دأوږی او پیاز خوراک مکروه دی ، او هر هغه سبزی چی ددی پشان بد بوئی ولری او خاصکر جومات ته د حاضرئي په وخت کښي تری ځان ساتل پکار دی ، که چرته یو انسان دومره محتاجه شی چی د هغه ژوند ته خطره وی نو دغه وخت کښې حرام څیزونه دومره خوړل جائز دی چی ژوند ئے بچ شی سیوا دزهرونه،که یوسړی د میوو په باغ ورتیریږی او راغورځیدلی شوی ، یا زمکی ته نزدی میوی چی نه دباغ نه ګیر چاپیره دیوال وی ، او نه څوکیدار وی خوړل

جائز دی ، د ځان سره به ورړی نه، او نه به ونی ته خیژی ، او نه به ئی په کانړو باندی ولی او نه به د راغونډ شوو میوو نه اخلی مګر که سخت ضرورت وی .

## د ذبحۍ احکام:

د اُوچی د حیواناتو د ذبح شرط دادی ، چی د شریعت د اُصولو مطابق ذبحه وکړی شی ، د ذبحۍ طریقه داده چی د حیوان مرئ او د ساه اغستلو ناله په ښیۍ طریقی سره پریکړی شی که د مجبورئ په حالت کښې د بدن د هر رګ نه وینه لاړه شی نو حلال دي، د شرعي ذبحۍ نه بغیر د حیوان خوراک حرام دي .

## د ذبحۍ شرطونه :

۱=ذبحه کونکی انسان باید مسلمان وی ، عاقل وی ، یا اهل کتابی وی ، دلیونی ، نشائی ، او ماشوم (چی ښه او بد نه پیژنی) ذبحه جائز نده ، او نه د کافر ، مجوسی ، بت پرست او قبر پرست د لاس ذبحه صحیح ده .

۲= د ذبحۍ آله باید موجوده وی ، هر هغه آلۍ سره ذبحه کول جائز دی چی تیره طرف ئی وی پدی تیره طرف باندی دپری کیدلو دوجی نه وینه روانه شی ، که د اُوسپنی وی ، اوکه ګټه

وغیره وی ، مګر هډوکی ، نوک او غابښ باندي ذبح کول جائز ندی .

٣= ذبحه کښې د مرئ پریکول دی یعنی د ساه اغستلو ناله او د خوراک څښاک ناله او د مرئ غټ رګونه پریکول ضروری دی

حکمت ددی ځائی په پریکولو کښې دادی چه دلته ټول رګونه راجمع شوی دی ، یو خو وینه په ښی طریقی سره وځی نو غوښه ئې خوږه وی ، او بل حیوان ته په ساه وتلو کښې آسانتیا وی که چرته مجبوری وی ، او حیوان په مرئ کښې ذبحه کول ممکن نه وی ، مثلاً ښکار وغیره وي ، نو دداسي حیوان ذبح صرف زخمی کول دی ، که د بدن په هر ځائی کښې وی او هغه حیوانات لکه مُنخنقه (خَفی)پ هانسی کړی شوی وی)

موقوذة (ټکولی شوی وی) متردیة ، (د بره نه را غختلئ شوی) نطیحة ، (ښکرباندي وهلي شوي)او هغه چه درندګانو ماته کړی وی ، دداسي قسم حیوان خوړل پدي شرط جائز دی چی ساه (روح) پکښې موجود وی او ذبحه شی .

٤= د ذبحئ په وخت کښې ذبح کونکی به بسم الله وائی ، او تکبیر وئیل هم سنت دی .

## د ذبحۍ کولو آداب:

۱-پسه چاړه باندي ذبحه کول مکروه دي
۲-د حیوان په مخامخ چاړه تیره کول جائز ندی .
۳-قبلۍ ته د حیوان مخ کول غوره دی.

د ذبحۍ په وخت کښې د حیوان څټ ماتول یا پری کول د روح د وتلو نه مخکښې مکروه دی .

دغواګانو او ګډو بیزو په ذبح کښې سنت طریقه داده چی ګس اړخ باندی به څملولی شی او اوښ په اُولاړه باندی چی ګسه خپه ئې تړلی شوی وی .

## ښکار :

د حاجت مطابق ښکار کول جائز دی ، هسی د مشغولتیا او لوبو دپاره مکروه دی د ښکار د لګیدلو نه پس دوه حالتونه دی
۱-یو حالت چی ژوندی په لاس راشی نو ذبحه کولی به شی .
۲-که چرته مړ وی او یا په آخری ساګانو کښې لاس له راشی نو بغیر د ذبحۍ نه هم جائز دی .

د ښکار کونکي دپاره هغه شرطونه دی کوم چه د ذبحه کونکي دی ، لکه عاقل مسلمان او یا کتابی به وی ، د مسلمان دپاره د لیونی ، مجوسی ، مشرک او کافر ښکار خوړل جائز ندی

آله د ذبحۍ باید تیره وی چی وینه په آسانۍ سره وبهیوی ، د هډوکی اود نوکانو نه به نوی جوړه شوی ، یعنی ټول انواع د هډوکو به نوی ، او حیوان به د تیره والی دوجی نه پریکوی ، نه د درونډ والی د وجی نه ، او هرچی ښکاری سپۍ یا ښکاری مارغه زخمی کړی وی د هغی خوراک هم جائز دی چی کله مُعلم (تعلیم ورکړی شوی وی) یعنی دښکار ښودنه ورته شوی وی .

## د ښکارۍ حیوان تعلیم:

کله چی مالک ئی ښکار پسی لیږی نو ځی، او ښکار د مالک دپاره نیسی ، تر څوچی مالک ورله راشی ، د خپل ځان دپاره ښکار نه نسی ،که یو ښکاری د ښکار په نیت آله ویشتلۍ نوی بلکه په خطائی سره د لاس نه ګوزار شی ، او حیوان ورباندی مړ شی ، نو دغه حیوان حلال ندی ځکه چی نیت د ښکار ئی پکښې نوو کړی ، دغه رنګه که ښکاری سپۍ پخپله ښکارپسی لاړ شی ، دغه ښکار هم حلال نه وی ځکه چی مالک ندی لیږلۍ ، او نه پکښې نیت د ښکار شته دی ، که چرته ښکاری غَشی ؤیشته یا ورباندی بل حیوان ولګیدو یا ډیر حیوانات په یوځل باندی و لګیدل نو ددی خوراک جائز دی .

دغشی ویشتو په وخت یا د ښکاری حیوان د لیږلو په وخت کښې بسم الله ، الله اکبر وئیل سنت دی ، ګویا کښې دغه ښکارئی په لاس باندی ذبحه کړو.

**یادګیرنه :**

سپئ ساتل حرام دی ، لیکن رسول الله ﷺ د بعضو سپو د ساتلو اجازه ورکړی ده لکه ښکاری سپئ ، د فصل د حفاظت دپاره سپئ ، د ځاروو د حفاظت دپاره سپئ ساتل جائز دی .

**د لباس (جامو) أحکام :**

اسلام د خائسته والی او د صفائی دین دی ، مسلمانانو ته د صفائی او خائسته والی تعلیم ورکوی بلکه الله تعالی لباس ددی دپاره پیداء کړیدی چی انسان وربان‌دی خپل ستر پرده وکړی ، او خائسته ښکاره شی ، د الله تعالی ارشاد مبارک دي:
**[يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَىَ ذَلِكَ خَيْرٌ ذَلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ]** {الأعراف:٢٦}

ترجمه : اے دآدم اولاد ! مونږ ستاسو دپاره لباس نازل کړیدی، چی ستاسو عورتونه پټوی ، او خائسته والی دی

پټکښی ، او دپرهیزګارئ لباس ډیر غوره دی ، دا د الله تعالی د طرفنه نښئ دی چی خلق تری نصیحت واخلی .

لباس کښې اُصول دادی چی هر قسمه لباس اچول جائز دی مګر دکوم لباس نه چی شریعت منع کړی وی د هغې استعمال حرام دي لکه :

۱-دومره تنګئ او نرئ جامی چی د انسان عورت او د بدن هر اندام پټکښې ښکاری .

۲-د کافرانو او دبدکرداره خلقو سره په لباس کښې مشابهت کول .

۳- په جامه کښې د قیمت او مقدار په لحاظ سره فضول خرچی یا تکبر کول .

٤-د سړو دپاره ریخم او سره زر (سونا) حرام دی ، البته د ښځو دپاره جائز دی . د علی رضی الله عنه نه روایت دي:

**يَقُولُ إِنَّ نَبِيَّ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَخَذَ حَرِيرًا فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ وَأَخَذَ ذَهَبًا فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ ثُمَّ قَالَ«إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي»** سنن ابی داود (٤٠٧٨)

ترجمه : نبی کریم ﷺ ښی لاس کښې ریخم او چپ لاس کښې سَره زر واغستل ، اووئی فرمائیل : چی دا دوه څیزونه زمادامت یه نارینو باندبحرام دی ، البته د سپین زر استعمالول جائز دی ، کوم لباس کښې چی د ساه لرونکي

څیزونو تصویران وی د هغی اغوستل د مسلمان دپاره حرام دی ، که جامه کښې د انسان یا حیوان تصویر وی او که زیوراتو کښې وی د هغی اغوستل حرام دی .

**عَنْ عَائِشَةَ،أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَاأَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَامَ عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْهُ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ،فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَتُوبُ إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صلى الله عليه وسلم مَاذَا أَذْنَبْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَا بَالُ هَذِهِ النُّمْرُقَةِ قُلْتُ اشْتَرَيْتُهَا لَكَ لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدَهَا،فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُعَذَّبُونَ فَيُقَالُ لَهُمْ أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ وَقَالَ إِنَّ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لاَ تَدْخُلُهُ الْمَلاَئِكَةُ».** رواه البخاري ومسلم .

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائیلی دی ، چی ما یوه تَکْیه (بالخ) واخستله چی په هغی کښې تصویران جوړ شوی وو، کله چی د نبی کریم ﷺ نظر مبارک ورباندی ولګیدو نو دروازه کښې اودریدو ، دننه راداخل نه شو ، عائشه رضی الله عنها فرمائي : چی ما د نبی کریم ﷺ په مخ مبارک کښې نفرت محسوس کړو ، ماووئیل : زه الله تعالی ته توبه اُوباسم او د الله د رسول ﷺ حکم ته ځان تسلیم کوم ، ما نه څه ګناه شوی ده رسول الله ﷺ وفرمائیل : څه وجه ده دی تَکْیه لره

ما ووئیل چی دا ما ستا دپاره اخستلئ ده چی ته ورته ډډه لګوی او آرامورباندی کوی ، رسول الله ﷺ وفرمائیل : ددی تصویرانو جوړونکو ته قیامت کښې عذاب ورکولی شی ، او ورته به ووئیلئ شی چي ژوندی کړئ هغه څه چی تاسو جوړ کړی دی ، بیا ئې وفرمائیل چی ملائک هغه کور ته نه داخلیږی چی هغی کښې تصویران وی .

٥- دپـړکو(ګیتو) نه پرتوګ یا لنګ ښکته ساتل سړو باندی حرام دی ، د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي چی رسول الله ﷺفرمائیلی دی :

**«مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزَارِ فَفِي النَّارِ»**.

ترجمه : هغه جامه چی دګیټونه (پړکونه) لاندی وی ، هغه به په اُور کښې وی .

د ګیټو (پړکو) نه جامه ښکته کول حرام دی ، که قمیص وی که پرتوګ وی ، که لنګ وغیره وی ، دا حکم صرف د تکبر والو دپاره ندي بلکه د متکبر سزاء نوره هم سخته وی په حدیث د عبدالله بن عمر رضی الله عنه کښې راغلی دی:

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **«مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلاَءَ لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»** متفق علیه.

ترجمه : چی خپله جامه د تڪبر د وجی نه زمکه باندی راښکله الله تعالی به د قیامت په ورځ ورته درحمت نظر ونه کړی .

او ښځه باندی اُوږدی جامی جوړول فرض دی چی ټول بدن ئی پکښې پټ وی .

٦-دومره باریکی او تنګی جامی چی عورت او اندامونه پکښې ښکاری سړو او ښځو دپاره جائزندی .

٧-سړو دپاره د ښځو مشابهت کول او ښځو له د سړو مشابهت کول حرام دی . عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی :

«**لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ**» رواه البخاری.

ترجمه : رسول اللهﷺ هغه سړو باندی لعنت وئیلی دی چی ښځو سره ځان یو شان کوی ، او هغه ښځو باندی چی د سړو سره ځان یوشان کوی .

٨-د کافرانو سره په لباس کښې مشابهت حرام دی چی مسلمان هغه جامه واچوی چی د کافرانو دپاره خاص وی .

عبدالله بن عمرو رضی الله عنه فرمائی : چی رسول اللهﷺما باندي دوه زعفراني رنګي جامي وليدلي، وِي فرمائيل: «**إِنَّ**

**هَذِهِ مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ فَلاَ تَلْبَسْهَا**» مسلم:۲۰۷۷. ترجمه : داد کافرانو لباس دی ، دا مه اچوه.

**د لباس آداب:**

۱-مسلمان لره پکار دی چی نوی جامی اچوی نو دعاء دِي ووائی ، په حدیث د ابو سعید خدري رضی الله عنه کښې راځی :

«**اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُبِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَاصُنِعَلَهُ**».(ابوداود :۴۰۲۰)

ترجمه : اے الله ! ستا دپاره ټول صفتونه دی تا راته دا جامی واچولی ، زه ستانه ددی خیر غواړم او د هغه څه خیر چی دا ورله جوړی شویدی او ددی د شر نه په تاپوری پناه غواړم ، او د هغه څه د شر نه چی دا ورله پیداشوی وي .

۲-جامه اول ښئ اندامونو ته اچول پکار دی ، په حدیث دعائشه رضی الله عنها کښې راغلی دی :

«**كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي طُهُورِهِ وَتَنَعُّلِهِ وَتَرَجُّلِهِ**». (متفق علیه).

ترجمه : نبي کريم ﷺ په ټولو کارونو کښې چی څومره به تري کیدي شوه ښی طرف خوښولو ، په اودس کولو کښې ، په سر منګځ کولو کښې ، او په پیزار اچولو کښې به شروع د ښئ

خپۍ نه کوله ، او ویستلو کښې به شروع د کسۍ خپۍ نه کوله .

ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چی رسول الله ﷺفرمائیلی دی:

«**إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنَى وَإِذَا خَلَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ وَلْيُنْعِلِ هُمَاجَمِيعًا أَوْلِيَخْلَعْ هُمَا جَمِيعًا** ». صحیح مسلم.

ترجمه : تاسو کښې چی څوک پیزار اچوی نو شروع دِي د ښۍ خپی نه کوی ، او چی اُوباسی نو دکسی خپۍ نه دِی کوی او یا دِي دواړو خپو ته واچوی ، او دواړو خپو نه دِي په یوځائی اُوباسی په یو پیزار کښي د تللونه په حدیث کښې منع راغلی ده چی یوه خپه کښې پیزار وی او بله کښې نه وی.

٣-هر مسلمان باندی لازم دی چی د بدن او د جامی د صفائی خاص خیال وساتی څکه داد خائسته منظر بنیاد دی ، اسلام صفائی طرفته ترغیب ورکړیدی او د بدن او جامی د صفائی حکم ئی هم ورکړیدی .

٤-جامو کښې غوره رنګ سپین دی ، عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی ، چی رسول الله ﷺفرمائیلی دی :

**الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ.**

ترجمه : سپیني جامي اچوئي څکه چي دا ستاسو غوره جامي دی ، او پدی کښې خپل مړی دفن کوئي .

پدی خبره ځان پوهه کول پکار دی چي سپین رنګ صرف افضل دي ، نور هر قسمه رنګونه جائز دی ، په جائزو لباسونو کښې د زیاتی او اسراف نه ځان ساتل پکار دی ، الله تعالی فرمائیلی دی:
[وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا]
{الفرقان:٦٧} ترجمه : مومنان هغه خلق دي چي کله خرچه کوی نو نه زیاتی کوی ، اونه کنجوسی کوی ، بلکه ددی په مینځ کښې وی ، او نبی کریم ﷺ فرمائي : «كُلُوا وَاشْرَبُوا وَالْبَسُوا وَتَصَدَّقُوا فِي غَيْرِ إِسْرَافٍ ، وَلاَ مَخِيلَةٍ».(رواه البخاري).
ترجمه : خورئ او څښئ او صدقه کوئ په غیر د اسراف او بغیر د تکبر کولو نه.

## د نکاح مسائل

### د نکاح شرطونه:

١=د خاوند او د ښځې رضاشرط ده،
او دا جائز نه دی چی په بالغ او عاقل انسان باندی په نکاح کولو کښې زور وکړی شی ، او نه بالغه عاقله ښځه باندی د هغه چا په باره کښې چی نکاح کول ورسره نه غواړی ځکه دښځې د رضا نه بغیر نکاح کول اسلام منع کړیده ، که یوه

ښځه د یو سړی سره د نکاح کولو نه انکار وکړی ، په هغې باندی به زور نشی کیدلی دا حق پلار ته هم نشته .
۲= ولئ : یعنی دښځی سرپرست نه بغیر نکاح نه کیږی، رسول الله ﷺفرمائیلی دی : (لاَ نِكَاحَ إِلاَّ بِوَلِيٍّ) (ابوداود)
ترجمه : د سرپرست نه بغیر نکاح صحیح نه ده ، که یوی ښځی په خپله ځان په نکاح ورکړو او که بل چاله ئی اختیار ورکړی وی نو نکاح ئی فاسده ده ، او کافر سړی د مسلمانی ښځی ولئ نشی جوړیدلی ، د چاچی ولئ نه وی حاکم د وخت به هغه په نکاح ورکوی ، ولئ (سرپرست) به څوک وی ؟ : هر عقلمند ، بالغ ، مسلمان سړی به ولئ وي چی د ښځی نزدی رشته دار وی په لاندی ډول سره : پلار یا د پلار د طرفنه منتخب شوی سړی ، بیا نیکه د پلار د طرفنه ،که دا نه وي بیا د هغه پلار چی څوک موجود وی ، بیا ځوی د ښځي ، بیا نواسي او دغسي لاندي وریسي ورځه ، بیا سکه ورور ، بیا رور د پلار د طرفنه ، بیا د سکه ورور ځامن (وریرونه) بیا د پلار شریك ورور ځامن پدی اصولو باندي څومره چی نزدي رشته دار وی هغه به د ولایت حقدار وی ، ددی نه پس سکه تره ، بیا پلار شریك تره ، او بیا د هغوی اولاد څومره چی نزدي وی هغه ومره به حقدار وی ، ددی نه پس د پلار تره بیا د هغه اولاد ، بیا د نیکه تره بیا د

هغه اولاد ، د ولی دپاره ضروری دی چی د نکاح کولو نه مخکښې دښځې نه تپوس وکړی ، د ښځې دپاره دولی مقررولو کښې حکمت دادی چی د زنا لاری بندی شی ځکه داګرانه نده چی زنا کار سړی ښځی ته ووائی چی ځان ددومره روپو په عوض کښې په نکاح راکړه ، او پدی باندی دوه کسان د خپلو ملګرو نه یا د نورو خلقو نه ګواه کړی ، زنا ته به لاره کھولاوه نه شی .

۳-ګواهان: په نکاح کښې دوه یا د دوو نه زیات ګواهان چی نیک سیرت والا وی لازم دی ، ګواهان باید د غټوګناهونونه ځان بچ کوی ، یعنی زنا ، شراب وغیره ګناهونوکښې ملوث نوی .

### د نکاح طریقه داده:

هغه هلک چی نکاح کوی یا د هغه نائب به د جینۍ ولی (سرپرست) ته ووائی ، دا فلانکۍ نومی جینۍ تا په دومره مهر سره فلانی هلک ته په نکاح شرعی سره ورکړیده ؟ په جواب کښې به ولی وائی : ما دا فلانۍ خپله لور یا خور یا چی زه ئي سرپرستی کوم (د جینی نوم به ذکر کړی) دی هلک له په دومره مهر سره په نکاح شرعی سره ورکړیده ، هغه به

ووائی ما قبوله کړی ده ، او د خاوند د طرف نه هم بل څوک وکالت کولي شي.
٤-مهر مقررول : په مهر کښې بهتره داده چې معمولی مقدار مقرر شی ، مهر به په عقد نکاح کښې ذکر کیدلي شی، مهر چې نکاح کولو سره ادا شی غوره ده ،لیکن څه وخت پوری روستوکولی هم شی،که چرته خاوند خپلې ښځې لره د کوروالی (جماع) نه مخکښې طلاق ورکړو نو ښځه د نیم مهر حقداره ده ، او که د نکاح نه روستو او کوروالی (جماع) نه مخکښې خاوند وفات شو نو ښځه د خاوند د میراث حقداره ده ، او پوره مقرر شوی مهر به هم د خاوند د مال نه اخلی ، ګویا که مهر خاوند باندی قرض دی ، د هغه د میراث نه به اخستلئ شی.

## ٥-دنکاح حقونه

د ضرورت مطابق خرچه :

خاوند باندي دښځي دخوراک ، څښاک او جامو او د اُوسیدو خرچه لازم ده ، که پدي کښې خاوند بخل کوی نو ګناهګار دي، د ښځي داحق شته چې د خاوند د مال نه د خپل ضرورت مطابق د اجازت نه بغیر اخستلئ شی ، د خاوند په ذمه وارئ کښې قرض هم اخستلي شی ، مثلا د

بازار نه په قرض سودا اخلی چه خاوند به مي ادا کړی خاوند باندي بیا اداء کول لازم دی

٦-ولیمه : (د واده ډوډۍ ورکول)، یعنی د واده ورځو کښې طعام تیارول او خپل خپلوان او دوستانو لره دعوت ورکول ، نبی کریم ﷺ ډیری ولیمی کړی وی او ددی حکم ئی هم ورکړی دی ، ولیمه ددی وجی نه سنت طریقه ده .

٦-وراثت :

یو مسلمان سړی چی دمسلمانی ښځی سره صحیح نکاح وکړی دوی د یو بل وارثان شول الله تعالی فرمائی :

**[ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ]**
النساء: ١٢}

ترجمه : ستاسو ښځی چی مړی شی او مال تری پاتی شی ستاسو دپاره پکښې نیمه حصه ده چی اولاد ئی نه وی اوکه اولاد تری پاتی شوی وی ، بیا ستاسو دپاره لورمه حصه د ټول مال ده ، د وصیت پوره کولو او د قرض ادا کولو نه پس ، او کوم مال چی تاسو د مرګ نه پس پریږدئ نو د ښځو پکښې څلورمه حصه ده ، که اولاد مو نه وی ، او که اولاد درنه پاتي

شوی وی نو د ښځو دپاره په ټول مال کښې اتمه حصه ده ، د وصیت د پوره کولو نه پس چې تاسو کړې وی او د قرض د اداء کولو نه پس. (النساء : ۱۲)

د اخبره یادول پکار دی چې دښځې د میراث دپاره صرف شرعي نکاح کافی ده ، که نزدیکت (جماع)شوی وی او که نوی شوی .

**د نکاح سنت طریقۀ او آداب :**

۱-د نکاح اعلان کول : ځکه د بنده په کوټه کښې پټه نکاح نه کیږی ، په اعلان سره د زنا او نکاح فرق کیږی، د واده جوړي (هلک یاجینی) ته دعاء وئیل هم سنت دی :

«**بَارَكَ اللَّهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ**». سنن ابي داود.

ترجمه : الله پاک دِي د انکاح ستا دپاره برکتی کړی ، او تادِی هم برکتی کړی ، او تاسو دواړه دِی الله په خیر او سلامتیاسره یوځائی کړی .

۲-د خپلۍ ښځې سره د کوروالی په وخت کښې دادعاء لوستل پکار دی **بِسْمِ اللهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا**،رواه البخاری .

ترجمه : بسم الله ، اے الله ! مونږه د شیطان نه لري وساته او زمونږه اولاد هم د شیطان نه لري وساته .

٣-ښځه او خاوند باندي حرام دي چې د خپل مينځي راز خبري بل چاته بيان کړي .
٤-د حيض يا نفاس په حالت کښې (اګرکه وينه بنده شوي وي خو چې غسل ئے لا نوي کړي) سړي له د ښځي سره کوروالي کول حرام دي .
٥-خاوند باندي حرام دي چې د ښځي سره په شاطرف(دډکو بولوځائي)کښې جماع وکړي ځکه اسلام دا حرام کړي دي.
٦-خاوند باندي لازم دي چې د جماع (کوروالی) په وخت کښې دښځي پوره حق اداءکړي ، که چرته د حمل نه د بچ کيدو دپاره نطفه بَهر غورځوي نو د ښځي رضاء پکښې شرط ده او دا کار هم د ضرورت نه بغير نه دي پکار.

**د غوره ښځي صفات:**

واده خلق ددي دپاره کوي چې د واده نه پس ښځه د خاوند دپاره د آرام او سکون سبب وګرځي ، ددي وجي نه پاکدامنه معاشره او نيك خاندان جوړيږي ، که چرته ښځه ښکاره او پټه د حسن مالکه وي دا لوي نعمت دي ، ښکاره حسن دا دي چې ظاهري اندامونو باندي برابره وي ، او پټ حسن نه مراد دينداري او خائسته اخلاق دي ، ليکن اهم شي دينداري ده او په حديث کښي دينداري زنانه طرفته ترغيب

ورکړي شوي دي ، او دغه رنګه ښځې لره هم پکار دی چې د نیک عمله او متقي خاوند انتخاب وکړی .

## هغه زنانه چې هغوی سره نکاح کول حرام دی

داسي ښځې دوه قسمه دی :

١-هغه چې نکاح ورسره همیشه دپاره حرامه ده .

٢-او بعض هغه چې نکاح ورسره څه وخت پوري حرامه ده .

هغه ښځې چه همیشه دپاره حرامي دی هغه په دري قسمه دی :

١-دنسب دوجي نه حرامي ښځې :

دا اُووه قِسمه ښځی دی ، قرآن کریم کښې ذکردی :[**حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالاَتُكُمْ وَبَنَاتُ الأَخِ وَبَنَاتُ الأُخْتِ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاَّتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهَاتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللاَّتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ اللاَّتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلاَئِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلاَبِكُمْ وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ إَلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا**] {النساء: ٢٣}

ترجمه :حرام کړی شوی دی په تاسو باندی (نکاح) د میندو ستاسو او لونړه ستاسو او خویندو ستاسو او تروریانی ستاسو او ماڅی ګانی ستاسو او رویری او خورزی اومَیندی ستاسو هغه چې پئې درکړی وی تاسوته او خوریانی ستاسو د

پئی خوړلو د وجی نه او میندی د ښځو ستاسو (خواخیانی)او پرکتهٔ ستاسو هغه چی په پالنه ستاسو کښی دی ، د ښځو ستاسونه هغه چی یوځائی شوی ئی (جماع)تاسو د هغوی سره پس که نه وی یوځائی شوی د هغوی سره پس نشته ګناه په تاسو باندی او ښځی د ځامنو ستاسو (اِنګوریانی) هغه ځامن چه پیداء وی ستاسو د شاګانونه او جمع کول د دؤه خوریانو مګر هغه چی مخکښی تیر شوی دی(جاهلیت کښی) یقینا الله تعالی دی بخنه کؤنکی رحم کونکی

۱-مَیندی :ددی نه مراد خپله مور ده ، د مور او پلار د طرفنه نیاګانئ هم پکښې داخلی دی ځومره چی بره نسب رسیږی .

۲-لوریاني : سکه لور یا نواسی د لور یا د ځوی د طرفنه بیا د هغوی لوریاني ځومره چی ښکته نسب ورځی.

۳-خوریانی : سکه خور او د پلار د طرفنه خور او د مور د طرفنه خور ټولو خوریانو سره نکاح حرامه ده .

٤-تروریانی :(ترور د پلار خور ته وائی)د سړی خپلی تروریانی او د پلار تروریانی او د نیکه تروریانی ، دغه رنګه د مور تروریانی او د نیاء تروریانی .

٥-ماسیګانی:(ماځی د مور خور ته وائی) پدی کښې د سړی خپلی ماسیګانی او د پلار ماسیګانی، او دغه رنګه د نیکه ماسیګانی ، د مور ماسیګانی او د نیاء ماسیګانی .

٦-وریری(د ورور لوریانی) د سکه ورور لوریانی ، د پلار د طرفنه د ورور لوریانی ، د مور د طرفنه د ورور لوریانی ، د هغوی د ځامنو لوریانی ، یا د لوریانو لوریانی ، ځومره چی بنکته نسب رسیږی .

٥-خورزی(د خور لوریانی) سکه خور نه پیداء وی او که د ناسکه خور نه پیداء وی ، ټولی حرامی دی ، او د هغوی اولاد ځومره چی نسب رسیږی .

## د رضاعت (پیۀ/سینه رودلو)د وجه نه حرام والی درشتو

د نسب د وجي نه چی کومي رشتي حرامي وی هغه رشتی د تئ خوړلو د وجی نه هم حرامیږی ، حدیث کښې راغلی دی :

يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ. (بخاري ، ومسلم:١٤٤٧,٢٦٤٥).

ترجمه : حرامیږی د تئ خوړلو د وجي نه هغه رشتئ چی د نسب د وجي نه حرامیږی .

## د رضاعت (تئ د خوړلو) شرطونه چه حرمت ورباندی ثابتیږی :

۱-پنځه ځل د تئي خوړل ، حدیث کښې راغلی دی : که مثلاً یو ماشوم ځلور ځل د چا تئ خوړلی وی هغه ئی رضاعی مور نشی ګرځیدلی .

۲- دویم شرط دادی چی ماشوم د طفولیت (ورکوالي) په وخت کښې پیئ (شوده) خوړلی وی ، د طفولیت موده دوه کاله ده چی پدی موده کښې ئی پنځه ځله د یو زنانه سینه خوړلی وی ،که چرته دوه یا دری کرته په زمانه د طفولیت کښې خوړلی وی ، او باقی روستو د طفولیت د زمانی نه ئی خوړلی وی ، نو بیا هم حرمت نه ثابتیږی .

کله چی د رضاعت شرطونه پوره شی نو دا ماشوم ددی ښځۍ بچۍ وګرځیدو، ددی ښځی ټول اولاد ئی رویان او خوریاتی شوی ، ددی ښځی خاوند (چی د هغه په سبب په سینو د ښځه کي پیئ (شوده) پیداء شوی دی) ددی ماشوم رضاعی پلار دی ، نو دده ټول اولاد که ددی ښځی نه وی او که د بلی ښځی نه دی په دی ماشوم باندی حرام دی ، داخبره ضروری ده چی ددي ماشوم خومره رشته دار دی ، د اولادو نه علاوه درضاعت د رشتي سره ئي څه تعلق نشته دي .

**د مصاهرت (سخرګنئ) د وجه نه د رشتو حرمت:**

۱-د پلار نکاح کړی ښځی او د نیکونو ښځی ، دوي چی نفس نکاح شرعی ورسره وکړه نو په اولادو باندی د هغه زنانو حرمت ثابت شو ، او دغه رنګه د هغوي د اولادو په اولادو باندی هم د دوي حرمت ثابت شو څومره چی ښکته نسب رسیږی .

۲-اِینګوریانی (دځوی ښځی)چی شرعی نکاح د ښځی سره وشی ، نو د هلک په پلار او نیکه او څومره چی بَره نسب وی په هغوی دا ښځه حرامه شوه که جماع (نزدیکت) شوی وی او که نه

۳-دښځی سره نکاح کولو باندی دهغی مور سره او نیا سره که نیاګانی د مور د طرفنه وی او که د پلار د طرفنه وی ، نکاح کول د دغه هلک ورسره حرامه ده .

٤-د کومی ښځی سره چی نکاح وشی د هغی لوریانی د بل خاوند نه او د لوریانو اولاد څومره چی نسب رسیږی پدی خاوند حرامی دی ، په شرط د کوروالی (جماع) باندی ، که چرته د کوروالی نه مخکښي دښځی خاوند مینځ کښې جداوالی راشی نو د هغی د اولادو حرمت نه ثابت کیږی .

**موقتي (یعني د خاص وخت پوری) حرامی رشتی:**

۱-د ښځي خور(خِینه)، ترور یعنی دښځی د پلار خور او ماځی ، یعنی د ښځی د مور خور دوی تمامو سره نڪاح تر هغه وخت پوری حرامه ده چی تر څو د ښځی او خاوند مینځ کښې جداوالی نه وی راغلی په طلاق سره ، او یا په وفات سره چی عدت ئې پوره شی .

۲-هغه ښځه چی د بل چا په عِدت کښې وی ، یعنی طلاقه شوی وی یا خاوند ئی وفات شوی وی ، یا د خلع ، یا د نڪاح د فسخ (ختمولو) د وجه نه عدت تیروی ، د هغه خِطبه کول (غوښتل/جرګه کول) هم د عدت په دوران کښې جائز نه دي او نڪاح کول ورسره هم جائز نه دی .

۳-د حج یا د عمری دپاره احرام تړونڪې زنانه چی د احرام نه په صحیح طور باندی نه وی وتلی د هغی سره نڪاح کول او د نڪاح دپاره خِطبه کول حرام دی .

**د طلاق احکام:**

طلاق په اصل کښې مکروه دی ، لیڪن د ضرورت مطابق جائز کیږی ، کله چی د ښځی او خاوند یوځائی ژوند تیرول ګران شی نو دالله دطرفنه مهربانی ده چی د طلاق په صورت

کښې د یو بل نه جداء کیدلی شی ، لیکن خاوند لره د څو خبرو لحاظ ساتل پکار دی :

۱-د حیض په حالت کښې طلاق ورکول حرام دی ، ګناه کبیره ده ، چاچې داکار وکړو د الله تعالی او د رسول الله ﷺ مخالفت ئې وکړو بیا خاوند باندی لازم ده چې ښځې ته به رجوع (دجماع په صورت کښې) کوی ، او د طهر (پاکوالی) پوری به ئې د ښځې پشان ساتی چې کله پاکه شی ، بیا به طلاق ورکړی ، که چرته د طلاقو کلکه اراده ئې کړی وی ، نو غوره داده چې د غه طُهر (پاکوالی) کښې ورته صبر وکړی او بل طُهر(پاکوالی) کښې ورله طلاق ورکړی.

۲-هغه طُهر (پاکوالی د حیض نه) چې نزدیکت ئې پکښې کړی وی هغې کښې به طلاق نه ورکوی بلکه بل طُهر(پاکوالی) ته به صبر کوی خو که چرته د زنانه په خیټه حمل ښکاره شوی وی بیا جائز دی .

## د طلاق د وجی نه پیدا شوی مسائل اواحکام :

هرکله چې طلاق جدائی ده ، ددي جدائی دوجي نه مختلف مسائل پیداء کیږی چې د هغې تفصیل دادی :

۱-**د عِدت تیرول** : که خاوند دښځې سره نزدیکت(جماع) کړی وی ، یا ورسره خِلوتِ صحیحه (پوره ځانله والي) کړی

وی ، نو ښځه باندي د طلاق نه پس عِدت تیرول واجب دی کچرته دنزدیکت(جماع) نه او د خلوتِ صحیحه نه مخکښي جدائی راغله ، بیا ورباندی عِدت نشته دی،
۲-عِدت دیته وائی : که د ښځی حیض راتللو نو دری حیضونه پوری به عِدت تیروی .
۳-که حیض ئی نه راځی بیا به عدت دری میاشتی تیروی .
٤-که ښځه حامله وي (یعني خیټه باندی ماشوم وی) نو عدت به وضع دحمل(پیدائش د بچی) وی .

### شریعت کښې د عدت حکمتونه :

خاوند ته مهلت ورکوی چی سوچ وکړه او خپلی ښځی ته رجوع (واپسی) وکړه ، او ددی خبری یقین هم وشی چی دښځی په خیټه حمل شته اوکه نشته .
٥-کچرته ددی طلاق نه مخکښې دوه طلاق ښځی لره ورکړی وی ، نو ښځه په خاوند باندی حرامه ده ، تفصیل ددي مسئله داده چی خاوند یو طلاق ورکړی بیا ورته رجوع وکړی بیا څه وخت پس ورله دویم طلاق ورکړی بیا ورته رجوع وکړی ، په دریم ځل طلاق سره دا ښځه په خاوند حرامه شوله بیا نفس نکاح باندی هم نه جائز کیږی تر څو چی د بل خاوند سره ئی پخپله خوخه سره نکاح نوی کړی ، او

هغه ورله پخپله خوخه طلاق ورکړی بیا به اولنی خاوند دپاره ورسره نکاح که ددوارو خوښه شی جائز ده ، پدی دویمه نکاح کي به دا غرض نه وي چی ښځه اول خاوند دپاره حلالوي چی دیته حلاله وائي ، دا بیا ښکاره زنا حساب کیږی چی د الله نبي صلي الله علیه وسلم په داسی حلاله کونکي سړي او حلال کړي شوي سړي باندي لعنت وئیلئ دی .

## خُلع کول :

د خُلع مقصد دادی چی ښځه د خپل خاوند نه په څه وجه جداء کیدل وغواړی نو هغه له مال ورکړی ، اوځان تری خلاص کړی که چرته خاوند هم د ښځی نه نفرت کوی ، او د طلاق اراده لری ، بیا د ښځی نه مال اغستل جائز نه دی ، خاوند به صبر وکړی یا به طلاق ورکړی ، د ښځی دپاره هم ضروری ده چی معمولی خبرو باندی طلاق ونه غواړی ، کچرته داسی حالات جوړشی چی ژوند تیرول ګران وی ، نو خاوند دپاره هم جائز ندی چی ښځه تنګوی دی دپاره چی خُلع وغواړی ، او د خاوند دپاره د مهر نه زیات مال اغستل هم جائز نه دی .

## د نکاح دختمولو او د باقی پریښودلو اختیار :

د معقول سبب دوجی نه خاوند او ښځی دواړو دپاره حق شته چی نکاح باقی پریږدی او یا ئی ختمه کړی ، مثلا ښځه په خاوند کښي یا خاوند په ښځه کښې مرض یا بل بدنی عیب چی د نکاح په وخت کښې نوی بیان شوی هر یو د نکاح د فسخه اختیار لری .

١-که ښځه او خاوند کښې یو تن لیونۍ شی ، یا داسی مریض شی چی د نکاح حق نشی اداء کولی یا ددی پشان نور صورتونه نو بل جانب لره د نکاح دفسخی اختیار حاصل دی، که فسخه د نکاح د نزیکت (جماع) نه مخکښې وی بیا خاوند ورکړی شوی مهر اغستلی شی .

٢-مقرر شوی مهر که خاوند دهغی د آداء کولو طاقت نه لری نو ښځه د نزدیکت (جماع) نه مخکښې نکاح فسخه کولی شی ، د نزدیکت نه پس ئی بیا دا حق نشته دی .

٣-که خاوند د ښځی د خوراک څښاک د خرچی طاقت نه لری نو د انتظار نه پس ښځه د عدالت په واسطه نکاح فسخه کولی شی .

٤-یا خاوند ورک شی ، څه معلومات ئی نوی ، او د ښځی د خرچی دپاره ئی څه مال هم نوی پریخی او ښځی سره خپل هم دومره مال نشته چی خرچه وربانده وکړی ، اونه ورله څوک

قرض ورکوی ، نو د داسي مجبورئ په حالت کښې ښځه د عدالت په واسطه نکاح فسخه کولی شی .

## د غیر مسلم سره نکاح :

مسلمان باندی دکافری ښځی سره نکاح (چی کتابیه نوی) حرامه ده ، او مسلمانی ښځی دپاره د هر کافر سره کتابی وی اوکه غیر کتابی وی ، نکاح کولجائز نه دي ، که ښځه د خاوند نه مخکښ اسلام قبول کړی ، بیا د خاوند نزدیکت(جماع) ورسره جائز نده ترڅو چی خاوند اسلام نوی قبول کړی .

## د غیرمسلم سره دنکاح دپاره بعض احکام :

١ کافره ښځه او خاوند یوځائی اسلام قبول کړی نو ددوی نکاح به پخپل حال باقی وی ، که بل شرعی مانع نوی لکه دا ښځه په دي سړی حرامه وی بیا به جدا والي کیدلي شی .

٢-د کتابیه ښځي خاوند چه اسلام قبول کړی ، نکاح ئی په خپل حال صحیح ده .

٣-کافران د کتابیانو نه بغیر چه ښځه او خاوند کښې یوتن مسلمان شی مخکښې د نزدیکت (جماع) نه نو نکاح ئی باطله ده .

٤-که ښځه اسلام قبول کړی مخکښې د نزدیکت(جماع) نه خاوند ئې کتابی وی او که غیر کتابی نو نکاح به فسخه کولې شی ځکه د مسلمانې ښځې د کافر سره نکاح نه کیږی .

٥-که د نزدیکت (جماع) نه پس ښځه مسلمانه شوله نو عِدت پوری به ښځه صبر کوی ، که خاوند ئې مسلمان نه شو نو دعِدت د ختمیدو سره نکاح ختمه شوله ، دا مسلمانه ښځه په خپله خوښه د بل چاسره نکاح کولی شی او یا دِی د خاوند د اسلام قبلولو پوری انتظار وکړی ، البته دی د انتظار موده کښې د ښځې هیڅ حق په خاوند باندی نشته ، اونه د خاوند څه حق په ښځه باندی شته ، که اسلام ئې قبول کړو نو د هغه ښځه ده ، د نکاح تجدید ته څه ضرورت نشته دی ، اګر که ښځې د خاوند ډیر کالونه انتظار کړی وی، داحکم د کتابی او غیر کتابی دواړو دپاره دی .

٦-که ښځه د نزدیکت (جماع) نه مخکښې مرتده شی (والعیاذبالله) نو نکاح ئې فسخه شوله ، او مهر به هم نشی ورکیدلی،که چرته خاوند (والعیاذبالله) مرتد شی نو نکاح فسخه شوله ، او نیم مهر به ورکوی ، او که د مرتدوالی نه پس ښځه یا خاوند مسلمان شی نو زړه نکاح به ئې په خپل حال وی ، چې طلاق وغیره نوی واقع شوی .

## کتابیه ښځی سره د نکاح نقصانات:

الله سبحانه وتعالی داهل کتابو ښځو سره نکاح حلاله کړه ددی مقصد دپاره چی داخلاقو اصلاح وشی ، معاشره د غلطو کارونو نه پاکه شی ، د شرمګاه حفاظت وشی ، په معاشره کښې اسلامی قوانین نافذ کړیشی ، او داسی امت پیدا شی چی په
(اشهدان لا اله الا الله محمدرسول الله )
باندی قائم وی ، دا عظیم مقصدونه هغه وخت کښې حاصلیږی چه نیک عمله ښځې سره نکاح وشی چی دیندار وی ، د شرافت او خائسته اخلاقو مالکه وی ،

## د مسلمان سړی د کتابیه ښځې سره دنکاح کولو اثرات دادی :

۱-کورنی ژوند : ورکوټی خاندان کښې که خاوند د مضبوط مزاج والا وی نو په ښځه باندی اثر کوی ، غالبًا ښځه به مسلمانه شی ، لیکن کله کله دښځې اثر ډیر وی په خاوند باندې بیا چی کوم کارونه د ښځې دعقیدې موافق وی هغه دا خاوند باندی کوی مثلا شراب څښکل، د خنزیر غوښه خوړل ، آزادی دوستانی کول وغیره ، ددی نتیجه داشی چه د مسلمانانو خاندانونه تس نس شی، د اولادو تربیت په ناروا

کارونو باندي وشی ، او کله کله ضدی ښځه خپل بچی د ځان سره دخپل مذهب دعبادت ځایونو ته بوځی راولی تردی چی ماشومان د هغوی د عبادت سره عادی شی ، عربی ژبه کښې مشهور متل دی **(من شب علي شئ شاب علیه).**
(ځوک چی په څه کښې لوی شی نو د هغې سره به هم بوډا کیږی) .

## اسلامی معاشره باندی اثرات:

اسلامی معاشره کښې داهل کتابو ښځو ډیروالي خطرناک دي ، دا ښځي په امت اسلامی کښې خپل باطل نظریات خوروی ، دخپلو غلطو عادتونو د وجی نه به معاشره برباده کړی ، مثلًا دپردی خیال به نه ساتی ، لباس به داسلام خلاف اچوی ، او نور غلط حرکتونه به معاشره کښې خواره شی.

## د ښځو سره تړلی شوی حکمونه او مسائل

اسلام کښې د ښځی مقام :
اسلام کښې دښځی په حیثیت باندی خبرو کولو نه مخکښې په نورو معاشرو کښې دښځی حیثیت پیژندل ضروری دی :
**یونانی معاشره کښې :**

یونان والو به ښځې د حیواناتو پشان اخستلې او خرڅولې ، د ښځې دپاره هیڅ قسم حق نه وو ، ټول حقونه د سړو دپاره وو، ښځه به د میراث نه هم محرومه وه ، د خپل مال د خرچ کولو اختیار ئې هم نه لرلو، د یونان مشهور فلسفی سقراط وئیلی وو چې د دنیا د تباهئ د ټولو نه لوی سبب د ښځې وجود دی، ښځه د زهریله بوټې پشان ده ، چې خائسته شکل لری لیکن چې مارغه ئې وخوری فورًا مړ کیږی .

**رومی معاشره :** درومیانو دا خیال وو چې د ښځې هیڅ روح نشته ، او په هغه معاشره کښې ښځه د یو بې قیمته څیز نوم دي ، چه ددي هیڅ حقوق نشته دي ، د هغوی دا نعره وه (د ښځې روح نشته دی) ددی وجی نه به ښځو له قسماقسم عذابونه ورکیدل ، کله به ئې په ګرم تیلو باندي سوزوله ، کله به د ستنو پسی تړلی او کله بغیر د قصور نه د آس لکئ پوری وتړلی او آس به ئې دومره تیز کړوچه ښځه به مړه شوله .

**هندی معاشره :** دغه رنګه سلوک د ښځې سره په هندوستانی معاشره کښې هم کیدو بلکه کله چې به د ښځې خاوند مړشو نو ښځه به ئې ژوندئ په اُور سوزوله (دی رسم ته به ئې ستی ووئیلی چې موجوده حکومت کښې جرم ټاکلی شوی دی) .

**چینی معاشره** : چین والو به ښځی د هغه اُوبو سره مثال ورکوو چي هغی سره انسانی خوشحالی او مال دولت وينځلی کيږی ، يو چينی سړی ته به دا حق حاصل وو چه خپله ښځه خرڅه کړی ، يا ئی ژوندئ په زمکه کښې خخه کړی.

**يهوديت** : يهوديان ښځی ته لعنتی وائی ځکه چي آدم عليه السلام ئی دهوکه کړی وو، هغه باندی ئی ميوه د ونی خوړلی وه ، او کله چي حائضه شی بيا ورته نجسه وائی ، چي کور پليت کوی ، او هر څه سره چي حائضه ولګی هغه پليت وی ، د پلار په ميراث کښې د ښځی هيڅ حق نوی چي کله رونړه موجود وی .

**نصرانيت** : نصاری ښځی ته شيطانه وائی ، يو عيسائي پادري وئيلی دی ، چي ښځه انسان نه ده ، يو بل عيسائي پوپ (بونافنتور) وئيلی دی ، چي کله تاته ښځه په نظر راشی نو داګمان مه کوه چي ته انسان ته ګوری ، او يا حيوان ته ګوری بلکه کوم څيز چي تاته په نظر راځی دا خالص شيطان دی ، او څوک چي د ښځی آواز آوری ، دا د مار آواز دي تردي پوري چي د يورپ په سِول لاء (شهری قانون)کښې د تيري شوي صدئ پوري د ښځي شهری حيثيت نه وو، او نه ورته شخصی حقونه ورکړی کيدل ، او ښځي دپاره دا اختيار نه وو چي ذاتی ملکيت وساتی تردی

چي ښځه د خپلو اغوستو جامو هم مالکه نه وه ، اسکاټ لینډ پارلمان په ۱۵٦۷ء کښې بِل پاس کړی وو چي ښځې له به هیڅ څیز باندی اختیار نه ورکولی کیږی ، هنری هشتم( Henry viii) په زمانه کښې برطانوی پارلمان دا فیصله کړی وه چي ښځه به انجیل نه لولی ځکه دا ناپاکه ده .۱۵۸٦ءفرانس کښې یو کانفرس ددی دپاره منعقد شوی وو چي دا فیصله وکړی چي آیا ښځه انسان دی اوکه نه ؟ بیا ئې فیصله وکړه چي ښځه انسان دی خو صرف د سړی د خدمت دپاره پیداء شوی ده .۱۸۰۵ءپوری انګریزی قانون د خپلې ښځې د خرڅولو اِجازه ورکوله ، د ښځې قیمت ئې شپږ ټکے مقرر کړی وو .

**د عربو د جاهلیت معاشره:**

د اسلام د راتللونه مخکښې عربو کښې ښځه یوه سپک څیز ګنړلې کیده ، چي نه ئې میراث کښې څه حصه وه اونه ئې څه اهمیت ورکولو ، اونه د ښځې څه حقونه وو، اکثرو خلقو به ژوندئ لونړه خخولې

دین اسلام او ښځه :

اسلام د راتللو سره د ښځو نه ټول ظلمونه لری کړل ، دا خبره ئې واضحه کړه چي ښځه او سړی برابردی څنګه چي

د سړی حقونه دی ، دغه رنګه د ښځي حقونه دی  الله تعالی فرمائی:

[يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ] {الحجرات:١٣}

ترجمه : اے خلقو! يقينًا مونږ پيداء کړی يئ تاسو د يو نارينه او د يوی زنانه نه ، او جوړ کړی ئی مونږ تاسو خاندانونه او قبيلئ ددی دپاره چی يو بل اُوپيژنئ يقينًا ډير عزت مند ستاسو نه د الله تعالی په نيز ډير تقوی دار دی ، الله تعالی بل ځائی فرمائی:

[وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُوْلَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلاَ يُظْلَمُونَ نَقِيرًا] {النساء:١٢٤}

ترجمه : چا چی عمل وکړو د نيکو اعمالونه نارينه وی اوکه زنانه وی ، او دی وی موحد پس دغه کسان به داخليږی جنت ته ، او ظلم به نشی کيدی په دوی باندی په قدر د داغ د هډوکی د کهجوری )بل ځائي الله سبحانه وتعالی فرمائی:

[وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا] {العنکبوت:٨}

(اوکلک حکم کړيدی مونږ انسان ته د مور او پلار سره د ښيګړی کولو) رسول الله ﷺ فرمائيلی دی :

أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ أخلاقا، وَخَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِنِسَائِهِمْ خُلُقًا»رواه الترمذی: ۱۰۸۲).

ترجمه : دايمان په لحاظ سره كامل مؤمن هغه دی چي خائسته اخلاق ولری ، او تاسو كښې غوره هغه څوک دی چي د خپلو ښځو دپاره د اخلاقو په لحاظ سره غوره وی.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ، قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صلی اللّٰه علیه وسلم فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِي قَالَ أُمُّكَ قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : أُمُّكَ قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟، قَالَ : أُمُّكَ قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : ثُمَّ أَبُوكَ»**(متفق عليه :٥٩٧١،٢٥٤٨)

ترجمه : ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی ، هغه وائی چي يو سړی رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو چي ټولو خلقو کښې څوک ډير حقدار دی چي زه ورسره ښه سلوک وکړم؟ رسول الله ﷺ جواب ورکړو ستا مور، هغه تپوس وکړو چي بيا څوک ؟ رسول الله ﷺجواب ورکړو چه ستا مور، هغه بيا تپوس وکړو، بيا ورته ووئيلی : مور ستا ، هغه سړی بيا تپوس وکړو، رسول الله ﷺ په څلورم ځل جواب ورکړو چي پلار ستا ، ددی نه د اسلام اخلاق معلوميږی او دا په اختصار سره د ښځي په باره کي د اسلام نظر وو.

**د عامو ښځو حقونه:**

هره ښځه باندي خپل حقونه پيژندل لازم دی ، د هغې علم هري ښځي دپاره پکار دي ، او معاشره کښې هم بايد دغه حقونه وومنلي شی چي کله هم ښځه د خپل حق مطالبه کوی چي په آسانه ورکړي شی، ددي حقوقو تفصيل په لاندي ډول دي :

**١-حق ملکيت** :

هره ښځه خپل شخصی ملکيت ساتلي شی مثلاً کور ، زمکه کارخانه ، باغ ، سر زر، سپین زر وغيره ، او دغه رنګه مختلف قسم ځناور هم اخستلی شی ، برابره ده که د سړی مور ، ښځه، لور ، او خور يا هرڅوک وی .

**٢-د واده حق او د خاوند انتخاب** :

دغه رنګه دخلع اخستلو، او د تکليف په صورت کښې د طلاق مطالبه هم کولی شی ، د ښځی داقسمه حقونه بالکل ثابت دی .

**٣-د علم حصول** :

د ښځی بنيادی حق دی چي د خپلو ذمه وارو په حقله اسلامی معلومات حاصل کړی ، لکه د الله پيژندل ، عبادات او دهغی د ادا کولو طريقۍ او هغه حقونه پيژندل چي د هغی آداء کول وربانذی واجب دی ، د خپل ژوند آداب زده کول ،

او د دینی علم حاصلول د دوی حق دي ، د الله تعالی حکم د سرو ښځو ټولو دپاره دي : [فَاعْلَمْ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ اللّهُ ] {محمد:١٩}

ترجمه : پس پوهه شی چي یقینًا نشته حقدار د بندګۍ سیواء د الله تعالی نه رسول ﷺ فرمائیلی دی : **(طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ)** . (ابن ماجه)

ترجمه : دعلم حاصلول هرمسلمان سړی او ښځه باندي فرض دی .

**٤- د خپل مال د خرچ کولو حق :**

ښځه که خپل مال کښې صدقه کوی ، یا په ځان باندی خرچ کوی ، او بل چا باندي خرچ کوی لکه خاوند ، بچی ، مور او پلار یا نیا او نیکه ، پدي شرط چی اسراف به نه کوی نو لکه څنګه چی سړی خرچ کوی، دغه رنګه ښځه هم خرچ کولی شی .

**٥-شخصی طور باندی خوښ اوناخوښ:**

مطلب دادی چی ښځه د بلی نیکۍ اودینداره زنانه سره د شریعت د حدودو د لاندی تعلق جوړولی شی ، هغوی سره د تکلیف وخت کښې همدردی کولی شی، نورد ژوند مختلفو معاملاتوکښې شریک کیدلی شی ، د خاوند یا دنورو مشرانو په اجازه باندی.

**٦-د وصیت کولو حق :**

ښځه هم د خپل مال نه په دریمه حصه کښې وصیت کولی شی ، د هغې د وفات نه روستو به بغیر د اعتراض نه نافذ کیدلی شی ، څنګه چې سړی د وصیت حق لری ، دغه رنګه ښځه هم وصیت کولی شی ، مګر وصیت به د ټول مال په دریمه حصه کښې کوی ددی نه زیات به نشی نافذ کیدلی

**٧-دلباس منتخب کول :**

زنانه دپاره د لباس اختیار دی، که ریښم استعمالوی ، که سره زر استعمالوی ، دا دوه قسمه لباس ددی امت سړو باندی حرام دی ، لیکن لباس به د شریعت مطابق وی، یعنی بدن ښکاره کول سر یا سینه ښکاره کول ورله حرام دی ، صرف خپل خاوند ته اجازه عامه ده .

**٨-د ډول سینګار حق :**

دخپل خاوند د خوشحاله کولو دپاره ډول سینګار کولی شی ، لکه سترګو کښې رانجه اچول ، په شونډو سرخی لګول وغیره، صرف دهغه لباس نه به ځان ساتی چه د کافرانو خاص لباس وی ، یا د بد کارو خلقو خاص لباس وی دهغی نه ځان ساتل پکار دی .

## (۹)د خوراک څښاک حق :

بس کوم څیز چی ورله مزه ورکوی هغه دِی خوری ، او کوم څیز چی طبیعت ته خوښ نوی ندی خوری ، خوراک څښاک کښې د ښځی او سړی دپاره هیڅ فرق نشته دی ، شریعت کښې چی څه حلال وی هغه د ښځی او سړی دواړو دپاره حلال دی ، او څه چی حرام وی هغه د ښځی او سړی دواړ دپاره حرام دی ، اللّٰه تعالی فرمائی:

[وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ]أعراف:۳۱}

ترجمه :خورئ او څکئ او د حد نه زیاتی مه کوئ ، یقینا اللّٰه تعالی مینه نه کوی د حد نه د زیاتی کوونکوسره .

## خاوند او د ښځی یو بل باندی حقونه:

څنګه چی د ښځی بعض خاص حقونه خاوند باندی وی ، او خاوند باندی دهغی اداء کول واجب وی ، دغه رنګه د خاوند هم خپله ښځه باندی حقونه وی ، لکه د مثال په طور ښه کارونو کښې د خاوند اطاعت کول ، د خوراک څښاک تیارول، بچو له پیٔ ورکول ، او د هغوی تربیت کول، د خاوند د مال او عزت حفاظت کول ، خاوند ته ځان ډولی کول ، د څومره ډول اجازه چی شریعت ورکړی ده ، اوس د ښځی واجب حقونه په خاوند باندی هم شته ، اللّٰه تعالی فرمائی:

[وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ] {البقرة:۲۲۸} .
اودوی(ښځو)لره حقونه دی پشان د هغی چی په دوی لازم دی په شرعی طریقه ، دا حقونه ځکه بیانوو چه مسلمانه ښځه خپل حقونه وپیژنی او بغیر دحیاء او یری نه د خپل حق مطالبه وکړی، خاوند باندی اداءکول لازم دی ، ترڅوچی ښځه ورته عفوه ونه کړی ، تفصیل ئی دادی :
۱-خاوند باندی د هغه د وس مطابق د ښځی نفقه لازم ده مثلًا جامی ، خوراک څښاک ، علاج ، کور وغیره
۲-د ښځی د عزت ، مال ، بدن او ددین حفاظت کول د خاوند ذمه واری ده ، ځکه خاوند د ښځی سرپرست دی .
۳- داسلامی احکامو په باره کښې ښودنه ورکول په خپله باندی ، یا په مدرسه یا مسجد کښې په دینی مجالسو کښې چی د فتنې یره پکښې نه وی زنانه دپاره اجازه ورکول پکار دی .
٤-ښځی سره خائسته ژوندکول ، الله تعالی فرمائي :
[وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ] {النساء:۱۹}
ترجمه : ژوند تیر کړئ دوی سره په ښی طریقه ، د خائسته ژوند نه داده چی په نزدیکت (جماع)کښې د ښځی پوره پوره حق اداء کړی شی ، ضرر ورله ورنه کړي شی ، په کنځلو ، سپکولو ، رټلو او عیب لګولو وغیره سره ، او د خائسته ژوند

نه داده چی د خپل خپلوانو سره د ملاقات اجازه ورکړي شي چی دفتنه یره نوی ، د وس نه زیات کار ورته سپارل ندی پکار، په وینا اوعمل کښې ورسره احسان کول پکاردی، رسول الله ﷺ فرمائیلي دی:

«**خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لأَهْلِهِ، وَأَنَا خَيْرُكُمْ لأَهْلِي**»

ترجمه : تاسو کښې غوره هغه څوک دی چی دخپل کوروالو دپاره غوره وی .

**ستر او پرده:**

شریعت اسلامی پوره کوشش کړیدی چی خاندان د تس نس او ضائع کیدو نه وساتی ځکه ئی د آدابو او خائسته اخلاقو د یوالو نه ګیرچاپیره ودرولی دی چی دانسان زړه دګناه نه پاک وی ، او معاشره هم صفا ستهره وی، نه شهوت پرستی وی ، او نه د جذباتو راوچتیدل وی ، کوم جذبات چی فتني له هواء ورکوی د هغي مخکښې ئې هم د یوالونه ودرولی دی چی سړی او ښځی به خپل نظرونه ښکته ساتی .

د ښځی د عزت په خاطر الله تعالی دپردی حکم نازل کړی دی چی ددی د عزت حفاظت وشی ، د هغه خلقونه چی زړونو کښې ئې مرض او فساد دي ، او کوم خلق چی د ښځي د عزت قیمت نه پیژنی دداسي خلقونه دزنانو حفاظت وکړي

شی ، د زهریله نظر نه د بچاؤ دپاره، چی د فتني دروازه مکمل بنده شی ، داسی به د زنانه د عزت او احترام حفاظت وکړي شی،

د اسلام علماء پدي خبره اتفاق لری چی د ښځي دپاره پرده واجبه ده چی د محرم رشته دارو او غیر رشته دارو نه خپل ډول او زینت او دفتنی ځایونه پټکړی ، البته د مخ او د لاسونو ښکاره کولو کښي اختلاف دی دوه ډلی دی ، د هري ډلي دپاره خپل خپل دلائل موجود دی ، او د مخالف ډلی د دلائلو توجیه او تاویل کوی،

**هغه دلائل چی دهغي نه وجوب د پردي معلومیږی هغه په لاندي ډول دی**

[وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ] {الأحزاب:٥٣}

ترجمه :کله چی سامان غواړئ د دوی نه نو وغواړئ ترینه شاته د پردي نه ، دا طریقه ښه پاک ساتونکی ده زړونو ستاسو او زړونو د دوی لره .

[يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا] {الأحزاب:٥٩}

ترجمه: اے نبی! اووایه بیبیانو او لونړو خپلو ته او بیبیانو د مؤمنانو ته چې راویزان کړی د ځان دپاسه د لویو پړونو خپلو نه ، دا ډیره نزدی ده چې دوی به اوپیژندلی شینونه به شی تنګولی ، او دی الله تعالی بخنه کونکی رحم کونکی .

[وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ] {النور:۳۱}

ترجمه : او اووایه ! مؤمنو زنانو ته چې کوزساتی د نظرونو خپلونه اوبچ ساتئ عورتونه خپل او نه ښکاره کوی ډول خپل مګر هغه چې ښکاره شی ، د هغی نه

(بی اختیاره/مجبورًا) او اچوی دِی لوپټې خپلی په ګریوانونوخپلو باندی او نه دِی ښکاره کوی ډول خپل مګر خاوندانو خپلو ته ، او په احادیثو کښې د عائشه رضی الله عنها نه روایت دی ، فرمائی:

قَالَتْ: «**كُنَّ نِسَاءُ الْمُؤْمِنَاتِ يَشْهَدْنَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم صَلاَةَ الْفَجْرِ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَنْقَلِبْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ حِينَ يَقْضِينَ الصَّلاَةَ لاَ يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ مِنَ الْغَلَسِ**»متفق عليه .

ترجمه : مؤمناني زنانه به حاضریدلي د رسول الله ﷺ سره سَهر مانځه ته چې ځانونو نه به ئی راتاؤ کړی وو په پړونو کښې ،

بیا به واپس شوی خپلو کورونو ته کله به چی مونځ خلاص شو ، په داسي حال کښې چی د تیاری د وجي نه به هیچا نه پیژندلي.

وقَالَتْ: «**كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- مُحْرِمَاتٌ فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا إِلَى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ**» اخرجه.ابوداودواحمد:١٥٦٢، ٢٢٨٩٤)

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي ، مونږ د احرام په حالت کښې د رسول اللهﷺ سره سفر کولو ، قافلي به زمونږ خواء سره تیریدلی چی کله به رانزدی شوی نو یوی ښځی به خپل د سر پړونی په مخ باندی را اویزان کړو چی قافله به تیره شوله نو بیا به مو مخونه ښکاره کړل .

وقَالَتْ: " **يَرْحَمُ اللَّهُ نِسَاءَ الْمُهَاجِرَاتِ الأُوَلَ، لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ {وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ} [النور:٣١] شَقَّقْنَ مُرُوطَهُنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهَا**،

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائي : الله تعالی دِي په هغه اولنو مهاجراتو زنانو رحم وکړی ، کله چی الله تعالی دا آیت نازل کړو ،

[وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ] {النور:٣١}

ترجمه : او خپل پړونی دِی په خپلو سینو باندی واچوی ، هغوی خپل څادرو نه وشلول او پړونی ئې تری جوړ کړل.

**پرده کولو باندی نور ډیردلائل هم موجود دی:**

د پردي په حکم کښې د اختلاف باوجود هم اهل علم پدي خبره متفق دی چی د ضرورت مطابق ښځه خپل مخ ښکاره کولي شی ، مثلًا دمرض په حالت کښې ډاکټر ته یا د نور شرعی عذر مطابق ، او اهل علم پدی خبره هم متفق دی چی دفتنی په صورت کښې د زنانه دپاره مخ ښکاره کول حرام دی څوک چی د مخ ښکاره کول جائز ګڼړی هغوی هم د فتنی په صورت کښې مخ ښکاره کولو ته حرام وائي ، او بیا پدي زمانه کښې د فتني ډیره یره موجود ده، فساد او شر هر ځائی موجود دي ، او عام دي ،

پدي حال کښې چی ښځه خپل مخ ښکاره کړی او بهر راوځی ، په سترکو زیاتی ډول ولګوی نوپدی صورت کښې د ټولو اهل علمو اتفاق دی چه دا حرام دی ، اسلام په ښځه باندی د پردو سرو سره میلاویدل ، یوځائي کیدل حرام کړیدی ، دا ټول تدابیر ددي دپاره دی چي د اخلاقو ، د عزت ، خاندان او ناموس حفاظت وشی ، د اسلام پوره پوره کوشش دی چي د ګناه نه د بچ کیدو ماحول جوړ شی ، د فتنی او د فساد دروازی بندی شی ، ښځه د خپل کور نه وتل

او د پردو سرړو سره ګډوډ تلل ، خپل نمائش کول ، دا ټول کارونه شهوت راپورته کوی ، او د جرم لاري آسانوی ، الله تعالی فرمائي :

[وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الجَاهِلِيَّةِ الأُولَى] {الأحزاب:۳۳}

ترجمه : او اُوسئ په کوټو خپلو کښې او مه ښکاره کوئ ډول سینګار پشان د جاهلیت زوړ .

[وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ] {الأحزاب:۵۳}

ترجمه : او کله چي سامان غواړئ د دوی نه نو غواړئ ترینه شاته د پردی نه ، داطریقه ښه پاک ساتونکي ده زړونو ستاسو او زړونو د دوی لره ، رسول اکرم ﷺ ښځي او سړی خپل مینځ کښې د اختلاط نه په سختئ سره منع کړی دی ، او کوم شکل چي د اختلاط جوړیږی د هغي نه هم منع کړیدی ، تردی پوری چي په عبادت او عبادت ګاه کښې هم منع کړیدی ، بعض وخت ښځه د خپل ضرورت دپاره د کور نه وځی هغه ځائی ته چی هلته سړی وی ، مثلًا چی کور کښې خوک سړی نوی نو د کور دپاره سودا اخستو دپاره بهر وځی، یا د ځان او بچو دپاره د ډوډئ ګټلو دپاره کسب کوی ، پداسي صورتونو کښې وتل حرام ندی ، لیکن دشریعت د

مقرر شوی حدودو خیال به کوی ، خپل ډول سینګار به خلقو ته نه ښکاره کوی ، او سړونه به جداء ځائی کښې کار کوی ، د سړو سره به اختلاط نه کوی ، د خاوند او داخلاقو د حفاظت دپاره اسلام د اقانون جوړکړیدی چې ښځه به یواځې ځائی کښې د غیر محرم سره نه میلاویږی او د خاوند یا د محرم نه علاوه د یوی پردۍ ښځې سره به هم ځانله ځائي کښې نه میلاویږی ، ځکه شیطان مکمل کوشش کوی چې د خلقو زړونه او اخلاق برباد کړی .

## د حیض او نفاس حکمونه

**د حیض موده :**

۱–عام طور باندی دحیض موده د (۱۲) دولسو کالونه تر (۵۰) پنځوس کالو پوری غالباً حیض راځی، بعض وخت د موسم یا د ماحول د اثر د وجی نه یا دمرض دوجی نه مخکښې روستو کیدی شی .

۲– کمه موده د حیض یوه ورځ ده ، او اکثره موده غالباً پنځلس ورځی وی،

**د حاملۍ حیض:**

عمومًا چه ښځه حامله شی دهغی حیض نه راځی ، که چرته دحاملې ښځې نه وینه شروع شی د ماشوم د پیدائش نه دوه

دری ورځی مخکښې ، او ورسره درد د پیدائش هم وی نو دا وینه به د نفاس نه حسابیږی ، که چرته د ماشوم د پیدائش نه ډیره موده مخکښې وینه شروع شی ، او یا ډیره مخکښې نوی لیکن درد دپیدائش ورسره نوی ، دا نه حیض دی او نه نفاس دی (بلکه دا وینه به د استحاض نه حسابیږی یعني عامه بیماري ده چي د حیض احکام پری مرتب نه دي) .

**د حیض مختلف حالات :**

اول: د حیض ورځو کښې کمی یا زیاتی : مثلاً د یوی ښځی میاشت کښې عام طور(٦)شپږ ورځی حیض راځی ، اُوس اُوومه ورځ باندی هم راځی ، یا عام عادت ئې اووه (٧) ورځې او په شپږمه ورځ ختمه شی .

دویم صورت : مخکښې روستو کیدل ، مثلًا عادت د حیض په آخر د میاشت کښې وی ، نو بیا اول د میاشت کښې راشی ، یا دمیاشت په اول کښې عام طور حیض راتللو لیکن اُوس د میاشت په آخر کښې راشی ، بس کله چي وینه د خاص نښو د حیض سره وی نوحیض به حسابیږی ، کله چي وینه په خاص نښو سره ختمه شی ، نو زنانه پاکه شوه که ډیری ورځی وی او که کمی ، دغه رنګه که دمیاشت په اوله حصه کښې وی او که په آخري حصه کښې وی .

دریم : زیـــــړ رنګ یا د خــړ رنګ والا وینه ، لکه څنګه چی د زخم نه وځی، یا داسے خړ رنګ چی د زیــړوالی او تور والی په مینځ کښې وی ،که داسي وینه د حیض په ورځو کښې راغله ، یا د پاکی د راتللونه مخکښې راغله ، نو دا به حیض حسابیږی ، او دحیض حکم به ورله ثابت وی ، او که داسی رنګ والا وینه د پاکۍ نه بعد راشی نو دا به حیض نه حسابیږی .

څلورم : کله د حیض وینه لږه لږه راځی ، کله روانه شی ، او کله بنده شی ، صفائي راشي ، یا دیته نزدي صورت وی ، نو ددي دوه حالته دی ،

اول صورت :که داسی حالت د زنانه سره همیشه کیږی او نه ختمیږی ،نو دا د استحاض مرض وینه ده ، په کومه ښځه چی دا مرض راځی هغي ته مُستحاضه وائی ، دی باندی به د استحاضی احکام جاری کیږی .

دریم صورت : که وینه همیشه نه راځي بلکه کله کله راځی او ددی نه پس صحیح پاکوالی راځی ، که دا وینه د یوي ورځي نه کمه مودي دپاره بنده شی دا به طهر(پاکوالی) نه حسابیږی ، ددي قاعدي مطابق د یوي ورځي نه کم به طهر نوی مګر که څه علامي ولری لکه د حیض عادی ورځي ختمي شوی وی ، یا ښځه سپینی اُوبهووینی، د سپینو

اُوبو نه مراد هغه ماده ده چی د حیض د ختمیدونه پسد ښځی د رحم نه وځی .

څلورم صورت : که وینه بنده شی او د ښځی نه صرف لوند والی وځی ، نو که دا لوند والی د پاکوالی نه لږ مخکښې وی نو حیض به حسابیږی ، او که د پاکوالی نه روستو وی بیا به حیض نه حسابیږی .

**د حیض احکام :**

اول: مونځ ، حائضه ښځه باندی فرضی او نفلی ټول مونځونه کول حرام دی ، او نه اداء کیږی ، پدی ورځو کښې په ښځه باندی مونځ فرض ندی ، مګر که د یورکعت په مقدار وخت رالاندی کـړي،

د مونځ د وخت نه ، که اول وخت وی او که آخر وخت وی ، د اول وخت مثال لکه :

د نمر دډوبیدو نه د یورکعت په مقدار وخت نه روستو ښځه باندی حیض راغلی دی ، نو ددي مونځ قضاء به اداء کوی ، کله چی پاکه شی ، ځکه چی دی د حیض د شروع کیدلو نه مخکښې د یو رکعت د اداء کولو په مقدار وخت را لاندی کړی وو ، د آخرنی وخت مثال: د نمر د راختلو نه دومره وخت مخکښې چی یو رکعت پکښې اداء کیدلی شی ، ښځه

د حیض نه پاکه شی ، کله چی دا زنانه غسل کوی نو نمر راختلی وی ، نو ددی مونځ قضاء به کوی ځکه چه دی دومره وخت چی یو رکعت پکښې اداءکیدلی شو رالاندی کړی وو.

څه داسی کارونه دی چی د حیض په حالت کښې زنانه باندی حرام ندی بلکه د هغی اجازه شریعت کښې راغلی ده لکه ذکر، تکبیر ، تسبیح ، تحمید ، بسم الله ، خوراکو غیره د حدیثو کتاب یا د فقه کتاب لوستلی شی ، دعاءکول ، او دعاء باندی آمین کولی شی ، د قرآن کریم تلاوت آوریدلی شی ، لیکن حائضه ښځه پخپله قرآن کریم نشی لوستلي ، البته که په سترګو ورته ګوری او په زړه تدبر کوی، او په ژبه تلاوت نه کوی بیا څه حرج نشته دي ، مثلا قرآن کریم په یو ځائې کښې کولاو کیږدی ، په سترګو ورته ګوری ، او زړه کښې تلاوت کوی داسي کول بیا جائز دی ، حائضه ښځه تلاوت نشی کولی لیکن که مجبوره وی مثلا استاذه وی ، ماشومانو ته سبق وائی ، یا امتحان وی طالب العلمه د امتحان دپاره قرآن یادوی ، یا بل داسی ضرورت راشی بیا ورله قرآن لوستل جائز دی.

دویم : روژه که فرضی وی او که نفلی ، په حائضه ښځه باندی ئی نیول حرام دی، که چرته روژه ونیسی هم تری نه

صحيح كيږى ، البته كه فرضى روژو كښې ورباندي حيض راغلي وى نو د هغى قضاء راګرځول واجب دى ، اګر كه د نمر د ډوبيدو نه لږ مخكښې زنانه باندي حيض راشى ، بس روژه ئې ختمه شوله ، كه فرضى روژه وى د هغي قضائي به راوړى ، او كه چرته د نمر د ډوبيدو نه مخكښې زنانه محسوس كړه چې وينه د خپل ځائى نه روانه ده ، ليكن بهر نده راوتلي ، او بهر د نمر نه د ډوبيدو نه روستو راووتله دغه روژه ئې صحيح ده ، دغه رنګه كه د صبا (صبا صادق) راختو پوري زنانه په حيض كښې ده ، بيا لږ وخت پس پاكه شوه ددغه ورځى روژه صحيح نده ، او كه د صبا صادق راختو نه لږ مخكښې حيض بند شى ، نو ددغه ورځي روژه نيولي شى اګركه غسل بيا روستو وكړى .

دريم : د بيت الله طواف كه فرضى وى او كه نفلى وى په حالت د حيض كښې ښځه باندي حرام دي ، او د طواف نه علاوه د حج يا د عمرى باقى اركان اداءكولى شى ، مثلًا د صفااو مروه سعى كول ، ميدان عرفات كښې اُودريدل ، منى او مزدلفه كښې شپه كول ، شيطانان ويشتل وغيره ددى اصولو مطابق ، كه يوه زنانه د طهارت په حالت كښې طواف وكړى ، او بيا ورباندي حيض راغلي نو باقى مناسک به اداء

کړی ځکه طهارت صرف د طواف دپاره شرط وو، باقی مناسک د حیض په حالت کښې هم کولی شی .
څلورم : په مسجد کښې قیام کول دحائضی ښځی دپاره حرام دی .
**پنځم** : نزدیکت (جماع) ، دحیض په حالت کښې ښځی سره نزدیکت کول خاوند باندی حرام دی ، او ښځه باندي هم حرام دی چی خاوند په ځان قادره کړی ، البته خاوند لره جائز دی چی په نورو طریقو شهوت پوره کړی .
شپږم : خاوند باندی حرام دی چی ښځی له د حیض په حالت کښې طلاق ورکړی ، که پدي حالت کښې ښځي له طلاق ورکړی نو خاوند د الله او رسول نافرمان دی ، یو حرام کار ئی کړیدی ، خاوند باندی رجوع کول واجب دی ، او د حیض نه د پاکوالی پوری به ئی ځان سره ساتی ، که چرته بیا هم د طلاقو اراده لری نو په حالت د پاکوالی کښې به طلاق ورکړی ، غوره خو داده چی راتلونکی دویم حیض پوري خبره روستوکړي شی ، او بیا خو یا دِي د ځان سره وساتی او یا دِی طلاق ورکړی .
اُووم : حائضه ښځه چی د حیض نه فارغه شی نو دټول بدن صحیح طریقی سره غسل کول پکار دی ، د سر ویښته سپړدل لازم ندی ، البته که دویښتو بیخونو ته اُوبه نه

رسیدلی بیا سپـړدل لازم دی ، که یوه ښځه د مونځ په وخت کښې پاکه شی نو سمدستی غسل کول ورباندی واجب دی چی ددی وخت مونځ وکړی ، او که د سفر په حالت کښې وي یا ورسره اُوبه نشته، یا اوبه شته خو د مرض د وجی نه ئی نشی استعمالولی یابل د مجبورئ صورت دی نو د غسل په ځائي به تیمم ؤوهی بیا کله چی مجبوری ختمه شی نو بیا به غسل وکړی .

**د استحاض مرض وینه او د هغی حکمونه :**

داستحاض مرض وینه ښځه باندي مسلسل راځی او نه بندیږی ، کله په میاشت کښې د یو دوه ورځو دپاره اودریږی، دا هم وئیلئ شوی دی چی وینه میاشت کښې د پنځلسو (۱۵) ورځونه زیاته شی نو استحاض به حسابیږی که چرته د ښځی مستقل عادت نه وو .

**د مستحاضی ښځی دری حالتونه دی:**

اول حالت : د استحاض راتللو نه مخکښې ښځی ته د حیض عادتی ورځی معلومی وی نو دغه معلومو ورځو کښې به د حیض ورځی شمارلی کیږی ، او د حیض احکام ورباندی لاګوکیږی اوباقی ورځو کښې به استحاض شمارلی کیږی

مثلا : یوه ښځه باندی د میاشتی په اول کښې شپږ ورځی حیض راتللو بیا هغی نه د استحاض بیماری وینه شروع شوه او همیشه راتلله نو اوس به د هری میاشتی اولنئ شپږ ورځی حیض حسابیږی ، او باقی به استحاض وی ، ددی قاعدی مطابق ښځه به د میاشتی په اول کښې شپږ ورځی روژه نه نیسي او مونځ به نه کوی ، او باقی ورځي به روژه نیسي او مونځ به کوی ، د استحاض په صورت کښې به د ویني پروا نه کوی .

دویم حالت: د استحاض د شروع نه مخکښې حیض نه وو راغلی بس د شروع نه چی وینه وه نو د استحاض وه ، داسي زنانه به د علاماتو په ذریعه عمل کوی چی د وینی نه معلومیږی ، مثلًا تور رنګ والا ټینګه بدبوداره وینه د حیض وی ، پدی به د حیض احکام جاری کیږی ، او ددي نښونه بغیر وینه به د استحاض وی ، مثلا ښځی چی داول نه وینه ولیده روان وه ، لیکن اولنئ لس (۱۰) ورځی توره وه باقی سره وه ، یا اولنئ لس (۱۰) ورځي ټینګه وه ، او باقی ورځي نرئ وه او یا اولنئ لس(۱۰) ورځی بدبوداره وه ، او باقی ورځي بدبوداره نه وه ، اول مثال کښې اولنئ ورځي چی توره وه هغه به حیض وی ، او باقی به استحاض وي ، دغه رنګه باقی مثالونو کښې هم که اولنئ لس ورځی ټینګه او بدبوداره وه

هغه به د حیض وینه وی او باقی ورځی به د استحاض وینه حسابیږی .

دریم حالت:که ښځی ته حیض معلوم نه وی ، او نه څه واضحه علامه شته دي ، د کله نه ئي چی وینه لیدلي ده بس یو رنګ کښې روانه ده ، یا رنګ بدلوی ، لیکن د حیض رنګ پکښې نه وی داسی ښځه به د نورو خپلوانو همزولو ښځو د عادت مطابق حیض شماری ، د کومی ورځی نه چی وینه شروع شوی وه هغی نه به د حیض ورځی شماری هره میاشت کښې او باقی به استحاض وی .

## احکام د استحاض:

استحاضه زنانه او پاکه زنانه کښې سیواء د دوه څیزونونه هیڅ فرق نشته دی .

اول : هر مونځ دپاره استحاضه باندی اَودس کول فرض دی .

دویم: د اودس نه مخکښې که کپړه یا جسم باندی وینه لګیدلی وی ، هغه دِی اُووینځی او عورت باندی به د مالوچو پټیٔ ولګوی چه و یـــنه بنده کړی .

**دنفاس حکم:**

نفاس هغه وینه ده چی د بچی د پیدائش نه روستو د زنانه د رحم نه راوځی ، یا د پیدائش د درد سره دوه ورځي مخکښې

وینه خارجیږی ، نو چی وینه هر کله بنده شی زنانه به پاکه حسابیږی ، اګر که د څلویښتو ورځو نه مخکي صفائي راشي ، که د څلویښتو ورځو نه پس هم وینه روانه وه نو زنانه به غسل وکړی ځکه چی د نفاس آخری حد څلویښت ورځی دی اګر که وینه روانه وی مګر که ددی نه پس حیض شروع شو بیا به حیض پوری انتظارکیدلی شی ، تردی پوری چی د حیض نه پاکه شی ، نفاس ترهغه وخت پوری نه ثابیتږی تر څوچی داسی ماشوم پیداء نشی چی انسانی ډهانچه جوړه شوی وی ، که چرته داسی ټوټه د غوښی چی پوره ډهانچه انسانی نه وی هغه وینه به نفاس نه وی بلکه هغه به دکوم رګ وینه وی ، ددي وینی حکم به د استحاضوی ، ابتداء دحمل نه تر اتیا (۸۰) ورځو پوری انسانی ډهانچه جوړیږی یا زیات نه زیات نوی (۹۰) ورځی أخلی ، د نفاس واله ښځی دپاره هم هغه احکام دی کوم چی د حیض والا ښځی دپاره ذکر شو .

**حیض او حمل بندول :**

د حیض د بندولو دوائي استعمالول د ښځی دپاره جائز دی په دوه شرطونو سره :

(۱) د خاوند په اجازه چی خاوند ته پکښي څه نقصان نوی .

(۲) زنانه ته به پکښې هم څه نقصان نه وی ، که چرته زنانه ته نقصان وی بیا ناجائز ده .
د حیض د چالوکولو دوائي هم جائزده ، لیکن په دوه شرطونو سره :
(۱) د خاونداجازه .
(۲) دا عمل به د واجبی حکم نه د خلاصون په بهانه نه وی مثلًا د فرضی روژی یا د مونځ وغیره نه .

**د حمل د بندولو دوائي دوه قسم وی :**

اول : چه همیشه دپاره حمل بند کړی داجائز ندی
دویم : د لږ وخت دپاره حمل بند کړی مثلا د زنانه حمل ډیر زر کیږی ددی وجی نه زنانه ته ډیر تکلیف دی ، د زنانه خواهش وی چه کم از کم دوه کاله پس بچی پیداء شی ، داسي کول جائز دی په دوه شرطونو سره :
(۱)د خاوند اجازه (۲)دا دوائي به زنانه ته (عارضی یا مستقل) تکلیف نه ورکوی.

## د خوږ نبی کریم ﷺ د ژوند مختصر حالات

### د نبوت نه مخکښې د عربو حالت :

پدي دور کښې د عربو مشهور دین بت پرستی وه ځکه چي عربو دینی ابراهیمی پریښودلی وو او بت پرستۍ کښې أخته شوی وو، دی دور ته د جاهلیت دور وئیلئ شی ، د الله تعالی نه علاوه چی د کومو بتانو عبادت کیدو د هغی نومونه دادی، لات، عزی ، مناة ، او هُبل، د بعضو عربو دین یهودیت، عیسائیت او مجوسیت هم وو، ډیر لږ خلق په ملت ابراهیمی باندی قائم وو.

### د ژوند د تیرولو اسباب:

اکثر به خانه بدوش وو صحراؤنو کښې اوسیدل او عام څاروی ساتل او د هغوی څرول ئے کسب وو او کلو ښارونو کښې اوسیدونکی خلق زمیدارۍ او تجارت کښې مشغوله وو، د اسلام د راتللو نه مخکښې مکه مکرمه د جزیره عرب دپاره دتجارت لوي مرکز وو، طائف او مدینه مشهور ښارونه وو، پدی معاشره کښې ظلم او زیاتی ډیر وو، د کمزورو حق چا نه منلو، ژوندی ماشومی جینکۍ به ئے په زمکه کښې خاښولی، عزتونه به لوټ کیدل، زورور به د کمزورو حق په زبردستۍ سره خوړلو، بے شماره ښځو سره به نکاح کیدله، زنا عام رواج وو، په وړه وړه خبره به د قبیلو ترمینځ جنګونه

کیدل، کله به یو قبیلۍ خپل مینځ کښې جنګ کولو، دا د اسلام د راتللونه مخکښې د جزیره عربی مختصر غوندي تصویر دي.

## د ذبیحینو (دوه حلال شوی) کسانو ځوي:

ټولو قریشو به د عبد المطلب په مقابله کې په خپلو اولادو او مالدارئې سره فخر کولو نو ددی وجی نه عبد المطلب یوه ورځ نذر منلۍ وو چی که چرته الله تعالی ماله لس (۱۰) نارینه بچی راکړل ، نو زه به پکښې یو د خپلو معبودانو د رضا کولو دپاره ذبح کوم ، د عبد المطلب دا آرمان پوره شو، الله تعالی ورله لس (۱۰) نارینه اولاد ورکړل چی یو پکښې د نبی کریم ﷺ پلار عبد الله هم وو، کله چی عبد المطلب خپل نذر پوره کول وغوښتل، نو دځامنو ترمینځ ئې قرعه اندازی (خسنړی) وکړه ، نو د عبد الله نوم راووتلو، عبدالمطلب چی کله د عبد الله د ذبح کولو اراده وکړه، نو خلق راجمع شول چی عبد المطلب ددی کار نه منع کړی، هسی نه چی دا کار په خلقو کښې رواج جوړ نه شی، بالآخر پدی فیصله وشوه چی د عبد الله او د لسو (۱۰) اوښانو ترمینځ به قرعه واچوی، پدی طریقه به دا د عبد الله فدیه جوړه شی ، قرعه ئے چی واچوله نو د عبدالله نوم راووتلو، نو هغوی د اوښانو عدد دوچنده

کړلو، بیا هم نوم د عبد الله راؤتلو، پدی طریقه ئے اوښان ډیرول ډیرول او قرعه کښې به نوم د عبدالله راؤتلو تردی چې د اوښانو تعداد سل (۱۰۰) شو ، نو بیا د اوښانو نوم راوختلو، عبد المطلب سل اوښان ذبح کړل د عبدالله په فدیه کښې ، د نورو ځامنو په نسبت عبد الله پلار ته ډیر ګران وو، او خاصکر د سلو اوښانو د فدئی نه پس ئے ورسره ډیره مینه کوله، عبد المطلب د خپل ځوی عبد الله دپاره د بنی زهره قبیلئ د یوه جینئ آمنه بنت وهیب انتخاب وکړو، او د هغی سره ئے ورله نکاح وکړه، آمنه بی بی حامله شوله ، ددی د حمل نه دری میاشتی پس عبد الله د تجارتی قافلئ سره د شام په طرف روان شو ، واپسئ کښې بیمار شو، چونکی بنی نجار دده ماماګان وو مدینه کښې نو هلته ایسار شو تردی چې وفات شو او هلته دفن شو .

د حمل ورځی پوره شوی او نبی کریم ﷺ دګل په ورځ (یوم الاثنین) باندی وزیږدو ، البته د تاریخی اختلاف د وجی نه د نبی کریم ﷺ د پیدائش صحیح میاشت او ورځ معلومه نده، د یو روایت مطابق د نبی کریم ﷺ پیدائش په ۹ربیع الاول باندی شوی دی ، د دویم روایت مطابق ۱۲ ربیع الاول دی، د دریم روایت مطابق رمضان کښې پیدا شویدی، ددی نه علاوه هم نور روایتونه موجود دی، دا واقعه ۵۷۱ء کښې راغلی

وه، دغه کال ته (عام الفیل) هم وائی، پدی کال باندی أبرهه د هاتیانو سره په مکه حمله کړی وه چی الله ذلیله کړی وو.

**د هاتیانو واقعه:**

یمن کښې د نجاشی بادشاه د طرفه ګورنر أبرهه وکتل چی عرب مکے ته ځی، او د کعبے شریفی طواف کوی، او حج کوی، د هغی عزت کوی، او د لری لری نه راځی، نو ده په صنعاء کښې یوه لویه کلیسه جوړه کړه، دی دپاره چی خلق د مکے په ځائی د حج دپاره صنعاء ته راځی، د کنانه قبیلۍ یو سړی خبر شو هغه د شپی لاړو او دغه کلیسی ته ورداخل شو، او د هغی دیوالونه ئی په لوئی اودس ماتی باندی ګنده کړل هرکله چی ابرهه ددی خبری نه خبر شو نو د غصی نه لمبه شو، او شپیته زره (۶۰۰۰۰) لښکر ئے تیار کړو، او ورسره نهه (۹) هاتیان وو، دا لښکر د مکے مکرمی په لور روان شو چی خانه کعبه ونړوی، د ټولو نه غټ هاتی ئے د خپل ځان د استعمال دپاره خاص کړو چی دا لښکر د مکے مکرمی خواء ته وررورسیدو نو لږ هیسار شو او بیا ئے مکے ته د داخلیدو حکم وکړو، لیکن هغه غټ هاتی کیناستو، او مخکښې نه تللو کله چي بل طرفته ورله مخ کړو نو په تیزئي سره به تللو، لیکن چي کله به ئے ورله مخ د خانه کعبے طرفته واړولو نو

کیناستو به او مخکښې به نه تللو، دا خلق پدی پریشانۍ کښې وو چی الله تعالی د مارغانو یو لښکر راولیږلو چی په جهنم کښې پاخه شوو کانړو باندی ئے ویشتل ، د هر مارغه سره دری دری کانړی وو ، یو په خوله کښې او دوه په خپو کښې ، د چنړۍ د دانی په مقدار یو یو کانړی وو، څوک چی به په کانړی ولګیدو د هغه اندامونه به رژیدل، او بالآخر به مړ شو، د مکے قریش یو طرفته او بل طرفته تختیدلی وو، څوک په غرونو کښې پټ شوی وو، چی ددی غټ لښکر نه ځان بچ کړی هرکله چی ورته معلومه شوله چی د لښکر ډیر بد حال دی نو پوره په امن سره خپلو کورونو ته راغلل، دا واقعه د نبی کریم ﷺ د پیدائش نه تقریبا (٥٠) ورځی مخکښې رامینځ ته شوی وه .

**د نبی کریم ﷺ پالنه او رضاعت (تئے رودل):**

نبی کریم ﷺ د پیدائش نه پس د ابولهب وینځۍ (ثُویبه) ورله پۍ ورکول ، ددی نه مخکښې د نبی کریم ﷺ تره حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه له ئے پۍ ورکړی وو ، ددی وجی نه حمزه رضی الله عنه د نبی کریمﷺ رضاعی ورور هم وو ، د عربو دا طریقه وه چی ماشوم به پیداء شو نو بانډو ته به ئے د پیوو دپاره لیږلو چي قوي بدن ئے جوړ شي، او صحیح تربیت

ئے وشی ، او فصیحه عربي یاده کړی، ددې مقصد دپاره نبی کریم ﷺ هم بانډو ته نقل شو ، په دغه وخت کښې د بنی سعد قبیلۍ زنانه مکے ته د ماشومانو دپاره راغلی وی ، ټولو زنانو نبی کریم ﷺ پریښودلو ځکه چې یتیم دی ، حلیمی سعدیي هم اول پریښودو لیکن داسی یو ماشوم ئے پیداء نه کړو چې د دوی د غریبۍ بوج کم کړی، دوباره نبی کریم ﷺ ئے په کمه مزدورۍ باندی د ځان سره واغستلو، او کور ته ئے راوستلو، حلیمه د خپل خاوند سره یو کمزوری خره باندی مکے مکرمی ته راغلۍ وه ، واپسۍ کښې د حلیمی بی بی په غیرہ کښې محمد رسول الله ﷺ دی، دغه کمزوری خره تیز تیز منزل کوی، تردی پوری چې د ټولو سورلو نه مخکښې شوله، ټولو ملګرو ورته تعجب کوو، حلیمه بی بی بیان کوی چې زما سینو کښې پۍ نه وو، زما خپل ځوی به هم د لوږی د وجه نه ژړل ، د کله نه می چې نبی کریمﷺ ته پۍ ورکول شروع کړل ، زما په سینو کښې ډیر پۍ پیداء شول بیا فرمائي ، چې په بنی سعد قبیله کښې خشک سالی وه ، د کله نه چې دا مبارک بچۍ دی زمکے ته د پیوو دپاره راوستلی شو نو دا زمکه سرسبزه شوله، څاروی ساربه شول ، او حالت ئے خائسته شو، نبی کریم ﷺد حلیمی سره دوه کاله تیر کړل، حلیمی به ددی ماشوم ډیر خیال ساتلو ، دوه کاله تیریدو نه

پس حلیمی نبی کریم ﷺ د ځان سره کړو، او د خپل مور او نیکه خواله ئے مکے مکرمی ته راوستلو، چونکه حلیمی د نبی کریم ﷺ برکت لیدلی وو، نو د آمنه بی بی نه ئے دوباره مطالبه وکړه چی محمد ﷺ به دوباره زما سره اوسیږی، آمنه بی بی ددی خبره ومنله، حلیمی دوباره دی یتیم ماشوم لره بنی سعد قبیلئ علاقی ته راوستلو، چی ډیره خوشحالی ئی کوله او نیک بخته وه.

## د شق صدر (د سینے سیریدو) واقعه:

د نبی کریم ﷺ عمر تقریباً څلور کاله وو چی یوه ورځ نبی کریم ﷺ د خپل رضاعی ورور (د حلیمی ځوي) سره لوبے کولی، د کور نه لرې لری د حلیمی ځوی په منډه منډه راغلی، په مخ باندی ئے غم ښکاره وو، مور ته وائی د قریشی ورور مدد له ځان ورسوئ، مور د بچی نه تپوس وکړو چی څه چل دی؟ هغه ورته قیصه وکړه چی دوه سفید پوش کسان راغلل، ورور ئے راله په زمکه څملولو او سینه ئے ورله په چاړه وسیرله، هغه لا خبره ختمه کړی نه وه حلیمی منډه کړه څه ګوری چي نبی کریم ﷺ په خپل ځاي چپ چاپ ولاړ دی، رنګ ئے تک زیړ دی، حلیمی تری تپوس وکړو، هغه ووئیل : خیریت سره یم، بیا ئے ووئیل چی دوه سپینو جامو والا کسان

راغلل او زما سینه ئے وشلوله او زما زړه ئے راویستلو، د هغې نه ئے توره ټوټه بهر ګوزار کړه، او زړه ئے راله په یخو اوبو ووینځلو، او په خپل ځائې باندی ئے کیښودلو، بیا ئے راله سینه بنده کړه، او لاړل، د سترګو نه پناه شول،

حلیمی بی بی هلك د ځان سره خپل کور ته راوستلو، بله ورځ ئے سحر وختی د ځان سره مکے ته راوستلو، آمنه بی بی د حلیمی په بے وخته راتللو حیرانه شوله ځکه چې حلیمی د ځان سره ډیر په مینه بوتللی وو چې تپوس ئے وکړو نو حلیمی د شق صدر ټوله قیصه بیان کړه .

## د مور او د نیکه وفات:

بی بی آمنه د خپل یتیم بچی سره مدینی ته لاړه د عبد الله د قبر د زیارت دپاره ، مدینه کښې بنو نجار قبیله کښې یو څو ورځې دیره شوله، بیا واپس مکے ته رارروانه شوه ، د اَبواء مقام سره آمنه بی بی وفات شوه، او هلته دفن کړی شوه، د نبی کریم ﷺ عمر تقریباً شپږ کاله وو چې مور بي بي ئے وفات شوه، د مور د وفات نه پس د نبی کریم ﷺ د کفالت ذمه واری نیکه عبد المطلب واخستله ، هغه د نبی کریم ﷺ بے حده خیال ساتلو، د نبی کریم ﷺ تربیت کولو هغه سره ئے شفقت کولو، کله چې د نبی کریم ﷺ عمر اته (۸) کاله شو،

نو نیکه ئے وفات شو، د نبی کریمﷺد پرورش ذمه واری ابو طالب ته نقل شوله،
د ابو طالب مالی حالت کمزوري وو او خاندان ئے لوئی وو، د هغي باوجود ابو طالب او د هغه ښځي نبی کریمﷺ د خپلو بچو پشان خیال وساتلو، ددی وجی نه د نبی کریمﷺ د ابوطالب سره مینه وه، داسی حالاتو کښې نبی کریمﷺ پرورش حاصل کړو، د نبی کریمﷺ تربیت په صداقت او امانت باندیے وشو تردی چی نبی کریمﷺ د صادق او آمین په لقب باندی مشهور شو، که چابه ووئیل چی صادق او آمین راغلی دی نو هرچا ته معلومه وه چی دا نبی کریمﷺ یادوی .

## تجارت او واده :

کله چی نبی کریمﷺ لږ رالوئی شو، د خپل ژوند ټول معاملات ئی پخپله سنبال کړل، نبی کریم ﷺ د کار او کسب سلسله شروع کړه، په معمولی مزدورئ باندی ئے د قریشو ګډی بیزی سرولے، شام ته تجارتي قافلئ کښې شریک شو چی اکثر مال پکښې د خدیجه بنت خویلد وو، خدیجه یوه کُنډه ښځه وه، او ډیره مالداره وه، د میسره په نوم غلام د خدیجه بی بی د تجارت ذمه وار وو،

د نبی کریم ﷺ د برکت د وجی نه تجارت کښې ډیره زیاته منافع وشوه، ددی لوئی منافع باره کښې خدیجه بی بی د خپل غلام نه تپوس وکړو، هغه ووئیل چې محمد بن عبد الله به سوداء اخستله او خرخوله نو خلق به په ګڼړ تعداد کښې هغه ته راتلل، چا باندی د ظلم نه بغیر به ئے ډیره منافع کوله،خدیجے د میسره خبری څه په غور واوریدلے، حالانکه هغه پخپله هم د نبی کریم ﷺ په باره د هغه د امانت او صدق نه خبره وه، خدیجه پدی ډیره خوشحاله شوله او د نبی کریم ﷺ سره ئے د نکاح دپاره مینه پیداء شوه، نو خدیجے خپله ملګری د نبی کریم ﷺ د رأی معلومولو دپاره ولیږله چې هغه د نکاح باره کښې څه وائی، دی وخت کښې د نبی کریم ﷺ عمرمبارک (۲۵) پنځه ویشت کاله وو، دی ښځې د خدیجے د طرفنه پیغام نبی کریم ﷺ ته ورسولو، نبی کریم ﷺ هغه قبول کړو، پدی طریقه سره نکاح وشوله، دواړه ښځه او خاوند خپل مینځ کښې ډیر خوشحاله وو، نبی کریم ﷺ د خدیجے په مال کښې تجارت شروع کړو، وخت تیریدو سره سره د خدیجے نه د نبی کریم ﷺ اولاد پیداء شو، زینب، رقیة، ام کلثوم، او فاطمه رضی الله عنهن او په هلکانو کښې قاسم او عبد الله پیداء شول، دا دواړه په ماشوم توب کښې وفات شو.

## نبوت

د نبی کریم ﷺ عمرمبارک چی څلویښتو کالو ته نزدی ورسیدو نو نبی کریم ﷺ په غار حراء کښې د ځانله والی او خلوت ژوند تیرول شروع کړل، غار حراء د مکے مکرمی نه مشرق طرفته یو غر کښې موجود وو چی نبی کریمﷺ به کله مسلسل څو شپې هلته وو، او د الله تعالی بندګی به ئے کوله، دلته د رمضان د میاشتی (۲۱) یوی شتمه نیټه وه، نبی کریم ﷺ غار حراء کښې وو ، څلویښت کاله عمر ئے پوره شوی وو چی جبریل علیه السلام ورله راغلی، ورته ئے ووئیل : اُولوله! نبی کریم ﷺ ورته ووئیل: زه لوستلونکی نه یم ، دغه خبره جبریل علیه السلام دریے ځل دوهراؤ کړه، لیکن نبی کریم ﷺ ورله هغه جواب ورکولو چی زه لوستونکی نه یم، په دریم ځل جبریل علیه السلام ووئیل : [ **اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ. الَّذِي عَلَّمَ بِالقَلَمِ. عَلَّمَ الإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ** ] {العلق:۵} ترجمه: اُولوله په مدد د نوم د رب ستا هغه ذات چی پیدائش ئے کړی دی (۱) پیداء کړی دی انسان د ټکړی د وینې نه ، (۲) ولوله همیشه او رب ستا ډیر عزت والا دی ، (۳) هغه ذات چی تعلیم ئے ورکړی دی په قلم سره ، (٤) تعلیم ئے ورکړی دی انسان ته د هغه څیز چی دی پری نه پوهیدو .

هغه ملائک بیا واپس شو، ددی نه پس نبی کریم ﷺ غار کښې د هیساریدو طاقت ونه لرلو نو کور ته راغلے ، کله چې د خدیجه بی بی خواء ته وړورسیدو نو زړه ئے درزیدو، نبی کریم ﷺ وفرمایل : **(زَمِّلُونِي، زَمِّلُونِي)** ما په کمبل کښې پټ کړه ، ما په کمبل کښې پټ کړه، نبی کریم ﷺ ئے په کمبل کښې پټ کړو ، تردی پورې چې یره تری ختمه شوه ، بیا ئے ټوله قصه خدیجے رضی الله عنها ته بیان کړه ، بیا ئے ورته وویل : زه پخپل ځان ویریږم، خدیجے رضی الله عنها ورله تسلئ ورکړه چې قسم په الله هیچرې به هم الله تعالی تا ناکامه نه کړی ځکه چې ته خپلولی پالے ، خلقو سره مدد کوی ، بے روزګاره ته کسب لټوی، میلمنو له میلمستیا ورکوی ، د حق په باره کښې چې مشکلات راځی هغی کښې د خلقو مدد کوی ، د څو ورځو نه پس نبی کریم ﷺ دوباره غار حراء ته د عبادت دپاره لاړو، کله چې د عبادت نه فارغه شو ، مکے مکرمی ته واپس راروان وو، په لاره کښې جبریل علیه السلام کرسی باندی ناست د آسمان او زمکے په مینځ کښې ولیدو، جبریل امین ددیے آیتونو وحی وکړه : **[يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ، قُمْ فَأَنْذِرْ، وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ، وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ، وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ، وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ]** {المدّثر:٦} ترجمه: اے کمبل کښې ځان پټونکیه (رانغختونکیه) ! اُودریږه نو ویره ورکړه ، او خاص

د رب خپل لوئی وایه ، او جامی خپلی پاکئ ساته، او هری پلیتئ نه ډډه اُوکړه ، ددی نه پس د وحی سلسله شروع شوه، پرله پسی وحی راتلله، کله چه نبی کریم ﷺ د دعوت آغاز وکړو، اول د ایمان په آواز باندی لبیک د هغه بی بی خدیجه رضی الله عنها اووئیلو، د الله د وحدانیت ګواهی ئے وکړه ، او د نبی کریم ﷺ رسالت ته ئے ځان تسلیم کړو ، او په اسلام کښې د ټولو نه اول ئے اسلام قبول کړو، رسول الله ﷺ ددی نه پس د خپل نزدی دوست ابوبکر صدیق سره خبره وکړه، هغه هم خبره ومنله، او ایمان ئے راوړو، ذره برابر شک ئے هم ونکړو، چونکه ابو طالب د نبی کریم ﷺ مور او د نیکه د وفات نه پس پرورش کړی وو، ددی وجی نه چی کله نبی کریم ﷺ په خپلو خپو اودریدو، نو د خپل تره ابو طالب ځوی د علی رضي الله عنه دکفالت ذمه واری ئے أغستلی وه ، پدي ماحول کښې الله تعالی د علی رضی الله عنه سینه د اسلام دپاره پرانستله، او اسلام ئے قبول کړو، د دوی نه پس د خدیجے رضی الله عنها غلام زیدبن حارثه ایمان راوړو، نبی کریمﷺ پټ پټ د اسلام دعوت چلولو، او مسلمانانو خپل اسلام پټ کړي وو ځکه که قریشو ته به پته ولګیده چي چا اسلام قبول کړی دی، هغه له به ئے سزاګانئ ورکولی چی د اسلام نه واپس شی .

## ښکاره دعوت :

د رسول الله ﷺ د پټ دعوت چې کله درې کاله وشو ، نو د الله تعالی د طرفنه حکم راغے : [فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ] {الحجر:٩٤} ترجمه : پس صفا صفا بیان کړه هغه چې تا ته حکم کړی شوی دی د هغې د بیانولو ، او مخ اوګرځوه د مشرکانو نه ، یوه ورځ رسول الله ﷺ صفا غونډۍ باندی اُودریدو ، مکے والو ته ئے آواز وکړو ، ډیر خلق راجمع شول ، دی خلقو کښې د نبی کریم ﷺ تره ابو لهب هم موجود وو چې د الله او د رسول په دشمنئ کښې د هر چا نه مخکښې وو ، خلق چې کله راغلل نبی کریم ﷺ وفرمایل : که زه تاسو له خبر درکړم چې ددی غر نه هغه طرفته دشمن دی ، تاسو باندی حمله کوی نو تاسو به زما خبره ومنئ، ټولو ووئیل : مونږه ته نه ئے موندلے مګر ریشتونی او امانت دار، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : زه ستاسو دپاره یره درکونکی یم مخکښې ددی نه چې سخت عذاب د الله راشی ، ددی نه پس نبی کریم ﷺ الله طرفته دعوت شروع کړو ، او د بت پرستئ چې په هغه زمانه کښې رواج وو تردید به ئے کولو، دغه ځائي کښې موجود ابو لهب غصه شو، وے وئیل : (معاذ الله) هلاک شي، تا مونږ ددي خبری دپاره راجمع کړی یو، الله تعالی د ابو لهب په باره کښې داسی آیاتونه نازل کړل چې تر

قیامته پورې به لوستلی کیږی : [بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمَٰنِ الرَّحِيمِ] [تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ. مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ. سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ. وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ. فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ] {المسد:٥} ترجمه: هلاک شول دواړه لاسونه د ابو لهب او هلاک شو دی ، فائده ورنکړه ده ته مال دده او هغه څیز چې ده ګټلی وو، زر دی چې ورننوځی به اُور لمبو والا ته ، او ښځه دده چې راوچتوونکې د خشاک ده ، په سټ د هغې کښې رسۍ ده د پوستکي د کجوری نه .نبی کریم ﷺ خپل دعوت باندیے کلک ولاړ وو ، چرته به چې د خلقو اجتماع په نظر راتلله ، هغوی ته به ئے دعوت ورکولو، د خانه کعبے خواء کښې به ئے مونځ اداء کولو، او د خلقو په اجتماعاتو کښې به شریک کیدلو، او د اسلام پیغام به ئې رسولو او دعوت ورکولو دپاره به د مشرکانو بازارونو ته ورتللو، ډیر تکلیفونه به ئے برداشت کول، کومو خلقو به چې ایمان راوړو مشرکانو به ډیر تکلیفونه ورکول لکه چې سُمیه بی بی او یاسر او عمار رضی الله عنهم ته ئے دومره سزاګانئ ورکړی چې یاسر او سُمیه رضی الله عنهما شهیدان شول ، سُمیه رضی الله عنها هغه ښځه ده چې په اسلام کي اوله شهیده شوی ده ، یاسر رضي الله عنه په اسلام کښې اول د شهادت درجه حاصله کړیده، بلال بن رباح حبشی رضی الله عنه ته هم امیه بن خلف او

ابوجهل ډيری سزاګانۍ ورکړی وی ، ورته به ئے وئيل : اے بلاله ! اسلام پريږده ، بلال رضی الله عنه په اسلا باندی مضبوط وو ، اميه بلال رضی الله عنه په زنځيرونو کښې وتړلو ، او بهر د مکے مکرمی په ګرمو شګو کښې به ئے څملولو، او بچپله هم او په نور مشرکانو باندی به ئے هم په کوړو وهلو، د بلال رضی الله عنه د خُولۍ مبارکی نه به صرف د اَحد اَحد آواز راتللو، يوه ورځ ابو بکر صديق رضي الله عنه وربانډی ورتير شو، نو د اميه نه ئے واخستلو او د الله دپاره ئے آزاد کړو . پدی مشکل حالت کښې د حکمت د وجه نه رسول الله ﷺ مسلمانان د اسلام د ښکاره کولو نه منع کړی وو، ددی وجی نه به نبی اکرمﷺ د صحابه کرامو سره په تنهائی کښي ميلاويدو، کچرته نبی کريم ﷺ ښکاره ملاويدلی نو مشرکانو به د هغه او د هغه د دعوت ترمينځ مانع واقع کيدلی، او ممکنه وه چی ددی وجه نه د دواړه ډلو مينځ کښې جنګ راغلی وی، چونکه د مسلمانانو تعداد هم کم وو ، او اسباب د جنګ هم نه وو، ددی وجی نه نبی کريم ﷺ مسلمانانو ته د اسلام د پټولو حکم کړی وو، رسول الله ﷺ به د مشرکانو مخکښې د تکليفونو باوجود ښکاره دعوت او عبادت کولو .

## حبشو ته هجرت:

اسلام چې چا قبول کړی وو، او مشرکانو تری خبر وو نو هغوی ته به ئے ډیر تکلیفونه رسول، خاصکر د معاشری هغه کمزوري صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین ته نو رسول الله ﷺ دوي ته حبشو ته د نجاشی بادشاه خواء ته د هجرت اجازه ورکړه ، دا واقعه د نبوت په پنځم کال راغله ، تقریباً اوویا (۷۰) کسانو د خپلو ښځو او بچو سره حبشو ته هجرت وکړو، هجرت کونکو کښې عثمان بن عفان رضی الله عنه او د هغه کور والا رقیة بی بی د رسول ﷺ لور ورسره هم پدی سفر کښې ملګری وه، قریشو پوره کوشش وکړو چې حبشو کښې هم مسلمانان سکون باندی ژوند تیر نه کړی، نو د نجاشی بادشاه په خدمت کښې مختلفی ډالئ وغیره پیش کړی، او دا مطالبه ئے وکړه چې دا خلق مکے والو ته حواله کړی، او مکے والو دا الزام ولګوو چې دا مسلمانان عیسی علیه السلام او د هغه مور ته بد رد وائی، نجاشی چې د مسلمانانو نه د حقیقت په باره کښې تپوس وکړو، نو هغوی جواب کښې قرآن ولوستلو هغه چې د عیسی او مریم علیهما السلام په باره کښې نازل شوی وو، نجاشی بادشاه چې قرآن کریم واوریدو نو د مسلمانانو د خبریے تائید ئے وکړو،

مسلمانان ئے مکے والو ته د حواله کولو نه انکار وکړو، او پخپله د ایمان راوړلو اعلان ئے وکړو.

## عجیبه واقعه :

ددی کال په رمضان کښې رسول اللهﷺ یوه ورځ مسجد حرام ته راغلو، او د ټولو خلقو په مینځ کښې ئے د سورة النجم تلاوت شروع کړو چې قریش هم ګڼړ تعداد کښې موجود وو، دی کافرانو مخکښې چرته هم د قرآن کریم تلاوت نه وو آوریدلے ځکه دوی خپل مینځ کښې دا لوظ کړی وو چې محمد ﷺ ته به غوږ نه ږدو، کله چې ناساپې ددی خلقو مخکښې د قرآن کریم ددی مبارک سورت تلاوت شروع شو، ددی په غوږونو ډیر عجیبه ولګیدو او قرآن ته غیر اختیاری متوجه شو، کله چې رسول الله ﷺ ددی آیت (**فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا**) النجم: ٢٦) ترجمه:دخپل رب مخکښې سجده وکړئ اودهغه عبادت وکړئ .رسول الله ﷺسجده وکړه نوټول په ټوله بے اختیاره په سجده باندی پریوتل .

## هرقسم تعلق پریکول :

قریشو همیشه دپاره دنبی کریم ﷺ د دعوت هر قسمه مخالفت کولو ، او هره ورځ به ئے نوی نوی انداز کښې

تکلیفونه ورکول ، د همکیانۍ به ئے ورکولے، کله کله لالچ د مال او د ښځې ورکولو ، دی ټولو تکلیفونو به مسلمانان په خپل باندی مضبوطول ، او د ایمان والو تعداد به ورځ په ورځ زیاتیدو ، نو کافرانو د مسلمانانو خلاف یو نوی محاذ پرانستلو ، خپل مینځ کښي ئے یوه معاهده ولیکله ، ټولو پدی اتفاق وکړو، او خانه کعبه کښې ئے آویزانده کړه، چی د مسلمانانو او بنو هاشم سره به هر قسمه تعلقات ختم کړي شی ، د دوی سره اخستل، خرڅول ، نکاح ، او هر قسمه تعاون به ختم کړی شی ، مسلمانان مجبورًا د مکے مکرمی نه بهر شعب ابی طالب ته نقل شول ، پدی ځائی کښې مسلمانو ته ډیر تکلیف وو ، لوږه او نور ډیر مشکلات وو ، کوم مسلمانان چی مالداره وو ، هغوی خپل ټول مال په نورو مسلمانانو باندی خرچه کړو لکه خدیجه رضی الله عنها، او دوي ته مرضونه ولګیدل ، او ډیر خلق مرګ ته نزدی شول، لیکن ددی هرڅه باوجود مسلمانان مضبوط وو، او صبر ئے کولو، یو تن هم د خپل دین نه روستو نه شو، دا سلسله تر دری کالو پوری وه ، تردی چی قریشو کښې څو مشرانو ددی خلاف آواز اوچت کړو، دا خلق د بنو هاشم نزدی رشته دار وو، هغوی ښکاره ددی اعلان مخالفت وکړو ، کله چی دا معاهده د خانه کعبے نه رابهرکړه، معلومه شو چی چینجو

ټول کاغذ خوړلے وو، صرف د الله نوم باقي وو، پدی طریقه سره د مشکل وخت ختم شو، بنو هاشم او مسلمانان مکے مکرمی ته واپس راغلل، لیکن قریشو په مسلمانانو باندی د ظلمونو سلسله جاری وساتله .

**د غم کال :**

د شعب ابی طالب د راتللونه پس ابو طالب بیمار شو د نبی کریم ﷺ تره صاحب فراش شو، څو ورځی تیری شوی نوی چی ابو طالب باندی د مرګ علامی ښکاره شوی ، رسول الله ﷺ د تره سر طرفته کیناستو، د مرګ نه مخکښې ئے تری د لااله الا الله د اقرار مطالبه کوله ، لیکن بل طرفته کافران رشته دار خاصکر ابوجهل د اسلام د قبلولو نه منع کولو او ورته ئے وئیل چی ته د خپل پلار نیکه دین پریږدی ، د عبد المطلب ددین نه مخ اړوی، تردی چی ابو طالب د شرک په حالت کښې وفات شو ، رسول الله ﷺ ته د ابو طالب په وفات باندی ډیر غم ورسیدو ، ځکه چی د شرک په حالت کښې وفات شو ، د ابو طالب د مرګ نه دوه میاشتی پس خدیجه رضی الله عنها وفات شوه چی رسول الله ﷺ ته ډیر غم ورسیدو، ددی دواړو د وفات نه پس مشرکانو نبی کریم ﷺ باندی تکلیفونه نور هم ډیر کړل .

## طائف ته سفر:

د قریشو سرکشی فرعونیت او مسلمانانو ته تکلیف ورکول د حد نه ډیر شوو نبی کریم ﷺ طائف ته د سفر کولو اراده وکړه، کیدی شی الله تعالی هغوی ته هدایت وکړی طائف ته تلل څه آسان نه وو ، یو خو د طائف لار په غرونو کښې مشکله وه ، او بل د طائف والو د طرفنه جواب انتهائی تکلیف والا وو ، دی خلقو د نبی کریم ﷺ په خبره هیڅ پرواه ونکړه بلکه بدی بدی خبری ئے ورته وکړی ، او ماشومان ئے ورپسی کړل په کانړو ویشتلو تردی پوری چی د نبی کریم ﷺ پنړی مبارکئ د وینونه ډکی شوی پدی مشکل حالت کښې نبی کریم ﷺ مکے مکرمې ته د واپس تللو فیصله وکړه ، رسول الله ﷺ ډیر زیات خفه او غمجن وو، پدې وخت کښې جبرئیل علیه السلام سره د غرونو ملائک راغلو ، جبرئیل علیه السلام وفرمائیل : (**وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ**) ترجمه : یقینا الله تعالی د غرونو والا ملائک تاته رالیږلے دی دی دپاره چی ته ورته حکم وکړی څه چی ستا خوخه وی، ملائک ووئیل : (**إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمِ الأَخْشَبَيْنِ**) اے محمد ﷺ که ستا خوخه وی زه به دی قوم باندی دا دوه غرونه یوځای کړم ، نبی کریمﷺ جواب ورکړو : (**بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ مِنْ أَصْلاَبِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ وَحْدَهُ**

**لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا)** بلکه زما دا امید دی چی الله تعالی به د دوی په نسلونو کښې داسی خلق پیداء کړی چی د الله تعالی عبادت به کوی او د الله تعالی سره به هیڅوک نه شریک کوی ، حالانکه نبی کریم ﷺ ته ددی خلقو د طرفه ډیر تکلیف رسیدلے وو لیکن د هغی باوجود هم نبی کریم ﷺ د خپل قوم په باره کښې د شفقت او د صبر مظاهره وکړه .

## د سپوږمۍ دوه ټکړی کیدل:

د مکے مشرکانو به بار بار د رسول الله ﷺ نه د معجزاتو مطالبه کوله، داسی معجزه راوړه چی هغی سره زمونږ ستا په نبوت یقین راشی، دا مطالبه به ئے بار بار کوله، یو ځل ئے دا مطالبه هم وکړه چی دا سپوږمۍ دوه ټکړی کړه، نبی کریم ﷺ د الله تعالی نه دعاء وکړه، الله تعالی سپوږمۍ دوه ټکړی کړه ، چی قریشو تر ډیر وخت پوری وکتله، ددی باوجود ئے د ایمان راوړلو نه انکار وکړو، بیا ئے ووئیل چی **محمد** ﷺ مونږ باندی جادو وکړو،یو سړی ووئیل که **محمد** ﷺ تاسو باندی جادو کړی دی نو ټولو خلقو باندی خو جادو نشی کولی، نو قریش د بهر نه د راتلونکو خلقو انتظار کولو کله چی د بهر نه مسافر راغلل نو د هغوی نه ئے تپوس وکړو، هغوی جواب ورکړو چی آو مونږ دا واقعه لیدلې ده، ددی

ښکاره معجزې باوجود هم مشرکان په خپل کفر باندې مضبوط وو.

**د اسراء او معراج واقعه:**

د طائف نه رسول الله ﷺ ډیر د غم په حالت کښې راواپس شوی وو، ددې نه مخکښې ابو طالب وفات شو، وروسته خدیجه رضی الله عنها وفات شوی وه، او مشرکانو ظلمونه هم د حد نه ډیر شوی وو، نبی کریم ﷺ لره غمونو د هر طرفنه راګیر کړی وو ، داسې حالت کښې د الله تعالی د طرفنه د اطمینان او سکینه اسباب راغلل، یوه شپه نبی کریم ﷺ آرام کولو چې جبریل علیه السلام د براق سره راغلو، براق د آس پشان حیوان وو، د بجلۍ پشان تیز رفتار وو، نبی کریم ﷺ پدې سورلۍ باندې کیناستولۍ شو او فلسطین ته بیت المقدس ته بوتللی شو، د هلته نه نبی کریم ﷺ آسمانونو ته سفر وکړو چې پدې سفر کښې نبی کریمﷺ د الله تعالی د قدرت ډیرې نخې نخانې ولیدلې،پدې سفرکښې پنځه مونځونه فرض شو ، او په دې شپه واپس مکې ته راغلو ، او د نبی کریم ﷺ زړه مطمئن او مضبوط شوی وو ، ددې په باره کښې الله تعالی فرمائی : [**سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ**] {الإسراء:١} ترجمه : پاکی ده

الله تعالی لره (د هر قسم شرک او د عیبونو نه) هغه ذات دی چې بوتلو بنده خپل په ټکره د شپه کښې د مسجد حرام نه تر مسجد اقصی پورې ، هغه چې برکات اچولی دی مونږ چاپیره د هغې نه، دپاره ددې چې اوښایو مونږ ده ته د نښو د قدرت او د توحید زمونږ نه ، یقینا الله تعالی هر څه آوری او هر څه وینی ، بله ورځ نبی کریم ﷺ خانه کعبے سره کیناستو او خلقو ته ئے د تیری شوی شپې حالات بیانول ، کافرانو د نبی کریم ﷺ د خبری تکذیب وکړو، خنداګانی ئے کولی ، یو تن ووئیل چې ته بیت المقدس ته تللی ئے نو مونږ ته د هغې شکل بیان کړه ، مقصد ئے د نبی کریم ﷺ دروغجن ثابتول وو، الله تعالی بیت المقدس د نبی کریم ﷺ د سترګو مخکښې را اُوچت کړو ، د مشرکانو د ټولو تپوسونو جواب ئے ورکړو، مشرکانو پدی خبره یقین ونکړو، د بل دلیل مطالبه ئے وکړه دویم دلیل نبی کریم ﷺ ورته وویل چې لاره کښې یوه قافله مکے مکرمی ته راتلله ، نبی کریم ﷺ د هغی ټول احوال بیان کړل چې څومره اُوښان دی، څو ورځو کښې به راورسی،

لیکن ددی هرڅه باوجود کفار په خپل ضد باندی کلک وو، په بله ورځ جبرئیل علیه السلام راغے او نبی کریم ﷺ ته ئے د مونځونو طریقه او وختونه وښودل ، اول صرف سهار دوه

رکعاته او د ماسخوتن دوه رکعاته مونځ فرض وو، پدی موقعه نبی کریم ﷺ خپل دعوت صرف د بهر نه راتلونکی خلقو دپاره خاص کړی وو چی مکے والا د اسلام په خلاف قسم خوړلی وو ، د بهر نه راتلونکی ته به ئے د پناه اخستلو په باره کښې هم خبره کوله چی ما له په خپل ملك كي پناه راکړئ ، او اسلام به ئے د هغوی مخکښې پیش کولو ، او وضاحت به ئے ورته کولو، بل طرفته به ابولهب د نبی کریم ﷺ شاته روان وو ، او خلق به ئے د نبی کریم ﷺ د دعوت نه منع کول ، یو ځل څه کسان د مدینی (یثرب) نه حج له راغلی وو، نبی کریم ﷺ ورته دعوت ورکړو، هغوی د نبی کریم ﷺ خبری ته خه غوږ کیښودو ، او په نبی کریم ﷺ باندی ایمان راوړلو کښې متفق شو ، او ایمان ئے قبول کړو ، مدینی والو د یهودو نه آوریدلی وو چی آخره زمانه کښې به یو نبی راځی کله چی نبی کریم ﷺ دوی ته دعوت ورکړو نو دوي ووئیل چی دا هغه آخری نبی کریم دی ، هسی نه چی یهود رانه مخکښې شی ، دا شپږ کسان وو، بل کال باندي د مدینے نه دولس (۱۲) کسان راغلل، نبی کریم ﷺ ورسره مصعب بن عمیر رضی الله عنه ولیږلو چي مدیني والو ته قرآن وښائی ، او ددین احکام ورته وښائی د الله تعالی په مدد سره مصعب رضی الله عنه مدینے والو باندي ښه محنت وکړو ، یو کال پس مکے

مکرمي ته واپس راغلو سره د مدینے والو نه دوه اوویا (۷۲) سړی او ښځې راغلل ، دا خلق د نبی کریم ﷺ سره میلاو شول ، دوی د نبی کریم ﷺ سره ددین په نصرت باندي بیعت وکړو، او ددی نه پس مدینی ته واپس شول .

## د اسلام د دعوت نوی محاذ :

دحق او حق پرستو دپاره مدینه نوی امن والا ځائی پیداء شو، مسلمانانو هلته هجرت شروع کړو، او دلته د مکے مشرکانو دا کلک عزم کړی وو چی مسلمانان د هجرت نه منع کړی ، مهاجرینو ددی وجه نه قسماقسم تکلیفونه برداشت کړل ، مسلمانانو به د قریشو د یری نه پټ پټ هجرت کولو ، ابوبکر صدیق رضي الله عنه به بار بار د نبی کریم ﷺ نه د هجرت اجازت غوښتلو لیکن نبی کریم ﷺ به ورته دا خبره کوله چی تلوار مه کوه ، کیدی شی الله تعالی تا له ملګرئی پیداء کړی،تردی چی ډیرو مسلمانانو هجرت وکړو چی قریشو ته معلومه شوه چی د مسلمانانو طاقت مدینه کښې پیداء شو ، د نبی کریم ﷺ د دعوت د ترقۍ نه یریدل ، خپل مینځ کښې دوي مشوره وکړه چه معاذ الله نبی کریم ﷺ به قتل کړو، پدی خبره متفق شو، ابو جهل مشوره ورکړه چی د هری قبیلۍ نه به یو یو ځوان له توره ورکړو، په یو ځل

به حمله وکړي ، بيا بنو هاشم به د چا چا سره د شمنی کوی، الله تعالی د مشرکانو ددی سازش خبر نبی کریم ﷺ له ورکړو، د الله تعالی د حکم نه بعد نبی کریم ﷺ د ځان سره ابوبکر صدیق کړو، او د سفر کولو اراده ئے وکړه ، د شپې علی رضی الله عنه ئے پخپله بستره باندی سملولو، مشرکان راجمع شول، د نبی کریم ﷺ د کور نه ئے ګیره واچوله ، د نبی کریم ﷺ د راوتلو په انتظار وو چې نبی کریم ﷺ د دوی په صفونو کښې راووتلو او په سرونو ئے ورله خاوری واچولې او دوی ته هیڅ پته ونه لګیده ، پدی طریقه نبی کریم ﷺ د ابو بکر رضی الله عنه خواء ته راغلو، د مدینے په سفر د کور نه یوځائی روان شول ، اول غار ثور ته لاړل ، دلته قریشو د صبا پوری انتظار کولو چی کله د بستری نه علی رضی الله عنه پاسیدو، مشرکان حیران شول ، دوی د علی رضی الله عنه نه د نبی کریم ﷺ په باره کښې تپوس کولو خو هغه حال نه وئیلو، علی رضی الله عنه ئے ووهلو لیکن څه فائده ئے ونکړه ، نو مشرکانو هر طرفته کسان خواره کړل ، اعلان ئے وکړو چې چا چې نبی کریم ﷺ ژوندی یا معاذ الله مړ راوړو ، سل (۱۰۰) اوښان انعام دی، مشرکان تر غار ثور پوری وروورسیدل، کچرته یو تن خپلو ښپو طرفته لاندب کتلی وی نو دوی به ئے لیدلی وی ، ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره

د نبی کریم ﷺ په باره کښې غم ډېر شو، نبی کریم ﷺ وفرمایل : (**مَا ظَنُّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ بِاثْنَيْنِ اللَّهُ ثَالِثُهُمَا،لَا تَحزَن إِن الله مَعَنَا**). ترجمه : اے ابوبکر! ستا څه خیال دی د هغه دوه کسانو په باره کښې چه الله ئے دریم دی ، مه خفه کیږه الله تعالی زمونږ سره دی ، مشرکانو دوی ونه لیدل او نبی کریم ﷺ د ابوبکر صدیق سره په غار کښې دری ورځې تیری کړی ، دی نه پس مدینے ته روان شو، لاره ډیره لویه وه ، او ګرمی ډیره سخته وه ، په دویمه ورځ د دوی تیریدل په یوه ښځه وشو چې د ام معبد په نوم باندی وه، دوی د هغې نه د خوراک څښاک طلب وکړو، د ښځې سره هیڅ نه وو، یوه کمزوری بیزه د خیمې یو طرف کښې وه چې د کمزورتیا د وجې نه څر دپاره نه شوه تللی، او یوه قطره پئ هم پکښې نه وو ،

نبی کریم ﷺ د هغه بیزی خوا له لاړو ، د هغې غولانزه ئے په لاسونو مبارکو مسح کړه، د هغې نه پئ روان شو، یو لوښی ئے ډک کړو، دا حالت چې ام معبد ولیدو، حیرانه شوله، ټول پئ وڅښکل ، دوباره ئے بیا لوښی ډک کړو، هغه ئے د ام معبد سره پریښودو او سفر باندی روان شول . دلته مدینے والا هره ورځ د مدینې نه بهر راوځی او د نبی کریم ﷺ انتظار کوی کله چې نبی کریم ﷺ مدینې ته راغلو نو ټولی مدینې والو د

خوشحالئ د وجے دمرحبا مرحبا آوازونه کول ، نبي کریم ﷺ د مدینې جنوب کښې واقع قباء کښې دیره شو ، څلور ورځې هلته وو، او د مسجد قباء بنیاد ئے کیښودو، په اسلام کښې اولنے مسجد دا دی ، په پنځمه ورځ نبي کریم ﷺ مدینې طرفته روان شو، ډیرو انصارو صحابه کرامو دا کوشش کولو چې د نبي کریم ﷺ د میلمستیا شرف حاصل کړی، د اُوښې مهار ئے نیولی وو ، نبي کریم ﷺ ددی خلقو د جذباتو شکریه اداء کوله او دا به ئے وئیل : **(دَعُوهَا فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ)** دا اوښه پریږدئي ، دیته امر کړی شوي دی ، اُوښه لاړه خپل ځائی کښې کیناستله ، بیا پاسیده بل ځائي ته مخکي شوه ، بیا ئے خپل ځائی ته وکتل نو پاسیده او بیرته خپل مخکني ځائي ته راواپس شوه ، او کیناستله ، نبي کریم ﷺ تری کوز شو، او دغه ځائی ئے د مسجد دپاره منتخب کړو، رسول الله ﷺ د ابو ایوب انصاری کور کښې میلمه شو، علی رضي الله عنه دری ورځو پوری مکه کښې هیسار شو چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم امانتونه وسپاری ، بیا مدینې ته راغلو ، قباء کښې د رسول الله ﷺ سره میلاو شو .

## نبي كريم صلي الله عليه وسلم په مدينه كې:

کوم ځائی چی د نبی کریم ﷺ اُوښه ناسته وه هغه زمکه ئے واغسته ، او مسجد نبوی ورباندی آباد کړو ، رسول الله د مهاجرینو (چی د مکے نه د نبی کریم ﷺ سره راغلی وو) او انصارو (د مدینی خپل اُوسیدونکی مسلمانان چی مهاجرینو له ئے پناه ورکړی وه) ترمینځ رورولی جوړه کړه، د یو انصاری او یو مهاجر رورولی ئے قائمه کړه چی د هغه مال کښي هم شریک وو ، پدی طریقے سره مهاجرین او انصار یو ځائي کار شروع کړو ، پدی سره رورولی نوره هم مضبوطه شوه، د مکے مشرکان او د یهودو د مخکښې نه تعلقات موجود وو، مشرکانو د یهودو په ذریعه مسلمانانو کښې جداء والے راوستلو، او کوشش ئے کولو، او مشرکانو دهمکیانئ ورکولے چی مونږه مسلمانان ختموو ، مسلمانان د بهرنی دشمن (قریشو) او کور ددننه دشمن (یهود) نه خطره کوله، حالات دومره سخت شو چی صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین به د ځان سره أسلحه د خوب په حالت کښې سرته ایخودله، داسی د تکلیف په حالت کښې الله تعالی د جهاد حکم نازل کړو، رسول الله ﷺ د مجاهدینو دستے یو طرف او بل طرف ته لیږل شروع کړل، چی د دشمن په نقل او حرکت باندی نظر ولری، ددی سره نبی کریم ﷺ په تجارتی قافلو

باندی هم حمله کول شروع کړل، چی مشرکانو ته د مسلمانانو د طاقت احساس وشی، او کافران هم د پراُمن اوسیدلو خبری ته مجبوره شی، او مسلمانان په آزادئ سره د اسلام دعوت وکړی، ددی سره نبی کریم ﷺ د بعضو قبائلو سره معاهدی هم کړی وی.

## جنګ بدر:

رسول الله ﷺ دا فیصله وکړه چی د شام نه د مشرکانو راتلونکی قافلئ ته لار ونیولے شی، نبی کریم ﷺ د ځان سره دری سوه دیارلس (۳۱۳) صحابه کرام روان کړل ، دوی سره صرف دوه آسونه او اوویا (۷۰) اُوښان وو، د قریشو تجارتی قافله کښې هزار (۱۰۰۰) اُوښان وو چی مشری ئے ابوسفیان کوله، ورسره صرف څلویښت (٤٠) کسان وو، ابوسفیان ته معلومه شوه چی مسلمانان حمله کوی هغه مکے والا د حالاتو نه خبر کړل ، او د مدد اپیل ئے وکړو، او پخپله بله لار باندی روان شو، او د مسلمانانو د حملے نه ئے ځان بچ کړو، دلته ابو جهل د مکے د قریشو نه زر (۱۰۰۰) جنګیانو سره د جنګ په نیت روان شو، ابوسفیان استازی ولیږلو چی قافله بچ شوه ، تاسو واپس شئ لیکن ابوجهل د واپسئ نه انکار وکړو او خپل سفر ئے جاري وساتلو ، رسول الله ﷺ ته چی

خبر وشو چی مشرکان د جنګ دپاره راروان دی، د صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین سره ئے مشوره وکړه ، اتفاق پدی خبره راغلی چی د مشرکانو سره جنګ وکړی شی، او مقابله ورسره وکړی شی، دویم کال د هجرت د رمضان المبارک په اُولسمه ورځ باندی د دواړو لښکرو مقابله وشوله، ډیر سخت چنګ وشو، بالآخر مسلمانانو ته میدان پاتے شو، او مشرکان وتختیدل خوارلس (١٤) مسلمانان شهیدان شول، او اوویا (٧٠) مشرکان مردار شول، او اوویا (٧٠) قیدیان شول ، پدی ورځو کښې رقیه بنت رسول الله ﷺ وفات شوه چه د عثمان بن عفان رضی الله عنه په نکاح کښې وه ، د نبی کریم ﷺ په سفارش عثمان رضی الله عنه مدینه کښې پاتی شوی وو، جنګ بدر کښې نه وو شریک شوی، د خپلئ ناروغه بي بي خدمت ئے کولو، نبی کریم ﷺ د جنګ بدر نه پس د خپلی دویمی لور ام کلثوم رضي الله عنها نکاح د عثمان رضی الله عنه سره وکړه، ددی وجی نه عثمان رضی الله عنه ته ذو النورین وئیلئ شی چی د رسول الله ﷺ دوه لونړه د هغه په نکاح کښې یوه پس د بلئ نه راغلی وی، د جنګ نه پس مسلمانان مدینے ته خوشحاله راواپس شول، د الله مدد میلاو شو، قیدیان ئے راوستل، مال غنیمت میلاو شو، قیدیانو کښې بعضو نقده فدیه ورکړه او ځان ئے خلاص

کړو او د چا فدیه دا مقرر شوه چې د مسلمانانو لس ماشومانو ته به لیکل لوستل ورزده کوی .

## جنګ اُحد :

د جنګ بدر نه پس پوره یو کال روستو د مسلمانانو او کفارو مینځ کښې دا جنګ وشو ، د جنګ بدر بدل اخستلو دپاره مشرکانو دری زره (۳۰۰۰) لښکر تیار کړو اُووه سوه (۷۰۰) مسلمانانو دهغې مقابله وکړه ، په اول دجنګ کښې مسلمانانو ته فتحه نصیب شوه ، کافرانو میدان پریښودو، مګر دوباره راواپس شو، او د غنډئ (جبل رماة) د طرفنه ئے په مسلمانانو باندی حمله وکړه، دا هغه غر وو چه رسول اللهﷺ ورباندی غشی ویشتونکی پنځوس کسان مقرر کړی وو، د غنیمتونو د جمع کولو دپاره دوی راکوز شو، ددی وجے نه مسلمانانو ته د کفارو د طرفنه تکلیف ورسیدو .

## جنګ خندق :

د جنګ اُحد نه پس د یهودو یو وفد مکے والو له لاړو او د مسلمانانو خلاف په مدینه باندی د حملے ترغیب ئے ورکړو، او د هر قسمه امداد وعده ئے ورسره وکړه، مشرکانو د یهودو خبره ومنله، بیا د یهودو نورو قبائلو پسی هم لاړو، او د

مسلمانانو په خلاف ئے جنګ ته تيار کړل، هغوی هم اتفاق وکړو، د هر طرفنه کافرانو او مشرکانو د مدينے په طرف روان شو، تقريبًا د لسو زرو (۱۰۰۰۰) لښکر په مدينه منوره باندی حمله آور شو، نبی کريم ﷺ د دشمن د سازشونو نه خبر وو، د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه ئے مشوره واخستله، سلمان فارسی رضی الله عنه دا مشوره ورکړه چی د مدينے منورۍ کوم طرف ته چی غرونه نشته هغه طرف ته به خندق وکنستلے شی، ټول مسلمانان د خندق په کنستلو کښې شريک شو، ددي وجي نه زرتر زره منصوبه مکمل شوه، ددي په نتيجه کښې مشرکان د مدينے نه بهر د يو مياشت پوري په خيمو کښې اُوسيدل، خندق باندي ورتلل ورته ګران وو، آخر کښې الله تعالی تيزه سيلۍ راوليږله، او د مشرکانو خيمۍ ئے وآلوزولے، کافرانو باندی يره راغله، او په جلتۍ سره خپلو علاقو ته واپس شول، الله تعالی ټولو لښکرو له په يواځے شکست ورکړو، او د مسلمانانو مدد ئے وکړو.

## د مکے فتح :

په أتم کال د هجرت باندی رسول اللهﷺ فيصله وکړه چی په مکه مکرمه باندی حمله وکړی ، په لسم (۱۰) د رمضان

المبارک باندی د لس زره (۱۰۰۰۰) مجاهدینو سره روان شو، او بغیر د جنګ نه مکے مکرمی ته داخل شو، ځکه چی قریشو اسلحه ایښودلئ وه ، الله تعالی د مسلمانانو مدد وکړو، نبی کریم ﷺ مسجد الحرام ته داخل شو، د کعبة الله طواف ئے وکړو، بیا کعبے ته دننه ورغلو، او دوه رکعاته مونځ ئے وکړو، او بیا هغه ټول بُتان ئے مات کړل کوم چی خانه کعبه کښې وو، بیا د خانه کعبے په دروازه کښې ودریدو او لاندی قریش ولاړ وو، د خپلی فیصلی انتظار ئے کولو، رسول الله ﷺ مشرکانو ته وویل : چی تاسو څه سوچ کوئ چی زه به تاسو باندی د څه فیصله کونکی یم ؟، ټولو جواب ورکړو چی مونږ ستا نه د خیر خواهئ أمید ساتو ځکه چی ته زمونږه عزتمند ورور ئے، او د عزتمند ورور ځوئ ئے . رسول الله ﷺ ورته ووئیل : تاسو ټول آزاد یئ، رسول الله ﷺ د معافئ یو مثال قائم کړو چی خپلو دشمنانو ته ئے عامه معافی وکړه، د مکے د فتح نه پس خلق ډلے ډلے په اسلام کښې داخلیدل شروع شول، په لسم (۱۰) کال د هجرت چې رسول الله ﷺ آخری حج کوو نو د یو لاکھ (۱۰۰۰۰۰) نه زیات صحابه کرام ورسره وو، د حج نه پس واپس مدینے منوري ته راغلے .

**د بهر نه د وفدونو راتلل او بادشاهانو ته خطونه:**

د نبی کریم ﷺ نبوت ګېرچاپېره خور شوی وو، د هر طرفه خلق ډلئ ډلئ د مدینے په طرف راتلل، او اسلام کښې داخلیدل ، بل طرفته نبی کریم ﷺ د قبیلو مشرانو او بادشاهانو ته دعوتی خطونه لیږل شروع کړل، بعضو دعوت قبول کړو، په اسلام کښې داخل شو، بعضو د خط احترام وکړو، او هدایا ئے راولیږلے، خو اسلام ئے قبول نکړو، او بعضو د خط د وجے نه ډیر غصه کښې راغلل او د نبی کریم ﷺ خط مبارک ئے شهید کړو، لکه دا کار د فارس بادشاه کسری وکړو، رسول الله ﷺ ورته بدعاء (ښیرئ) وکړې : (**اللّٰهُمَّ مَزِّق مُلْکَهُ**) (اے الله ! بادشاهی ورله ټکړی ټکړی کړه) څو ورځی پس خپل ځوی مړ کړو، او بادشاهی ئے تری واغستله، دغه رنګه د مصر بادشاه مقوقس مسلمان خو نه شو لیکن د رسول الله ﷺ د أستازی ډیر احترام ئے وکړو، او هغه سره ئے ډیري هدایا نبی کریم ﷺ له راواستولے، او دغه شان حالت د روم د بادشاه قیصر هم وو، هغه هم د رسول الله صلي الله علیه وسلم د خط خکلئ جواب ورکړو، او د خط اکرام ئے وکړو او قاصد ته ئے هدیي ورکړي ، او د بحرین حاکم منذربن ساوی واقعه داسی وه چی کله ورته د رسول

الله ﷺ خط میلاو شو، دا خط ئے بحرین والو ته بیان کړو، بعضو اسلام قبول کړو او بعضو انکار وکړو .

## د نبي كريم صلي الله عليه وسلم وفات:

رسول الله ﷺ چې د حج نه واپس شو، نو دوه یا یوه نیمه میاشت پس د بیمارئ ابتداء وشوه، او ورځ په ورځ بیماری زیاتیدله تردی چې د مونځ امامت نه معذور شو، نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ئے د امامت امر وکړو چې خلقو ته مونځ کوه ، د هجرت یولسم (۱۱) کال د ربیع الاول په دولسمه (۱۲) نیټه د ګل په ورځ د رسول الله ﷺ روح مبارک د دنیا نه سفر وکړو، پدی وخت کښې د رسول الله ﷺ عمر مبارک دری شپیته (٦٣)کاله وو ، صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین چې خبر شو، ډیر د غم او پریشانئ حالت وو، څوک دی خبری منلو ته تیار نه وو، بالآخر ابو بکر صدیق رضی الله عنه خطبه وکړه، مسلمانانو ته ئے د تسلئ خبری وکړی، چې رسول الله ﷺ یو بشر وو ، او هر بشر باندی به مرګ راځی ، ددی نه پس صحابه کرام مطمئن شو، او رسول الله ﷺ له ئے غسل ورکړو ، او د عائشة رضی الله عنها په کوټه کښې ئے دفن کړو، رسول الله ﷺ د نبوت نه مخکښې څلویښت کاله (٤٠) مکه مکرمه کښې اُوسیدلو او دیارلس

(۱۳) کاله د نبوت نه پس مکه مکرمه کښې وو، او مدینه منوره کښې رسول الله ﷺ لس (۱۰) کاله اوسیدلئ دی، د رسول الله ﷺ د وفات نه پس په اتفاق سره د مسلمانانو اول خلیفه ابوبکر صدیق رضی الله عنه مقرر شو.

## د رسول الله ﷺ حلیه مبارکه:

د نبی کریم ﷺ قد درمیانه وو نه ډیر لوئی او نه ډیرټیټ وو، ټول اندامونه ډیر مناسب، فراخه سینئ والا وو، خائسته مخ، سپین رنګ والا چی ګلابی کرښی پکښې ځلیدلئ، غونډ مخ توری سترګے، باریکه پوزه، خائسته خوله، ګنړه ګیره، خائسته خوشبودار جسم، نرم نرم اندامونه، انس رضی الله عنه فرمائي، چی ما مشك او عنبر او بله خوشبوئی د نبی کریم ﷺ د خوشبوئی نه خائسته نده موندلی، د نبی اکرم ﷺ لاس مبارک ډیر نرم وو، تر او تازه خندیدونکے مخ، خائسته آواز، مختصری خبری، د رسول الله ﷺ په باره کښې انس رضی الله عنه فرمائی چی نبی کریم ﷺد هر چا نه خائسته، د هر چا نه زیات سخاوت والا، او د هر چا نه زیات بهادر وو.

## د رسول اللهﷺ اخلاق مبارک:

رسول الله ﷺ يو بهادر او باهمته انسان وو ، على رضى الله عنه فرمائی ، چی کله جنګ به ګرم شو او خلق به يوبل کښی ګډوډ شو مونږه به رسول الله ﷺ ته رامنده کوله ، رسول الله ﷺ د ټولو نه زيات سخاوت کونکی وو ، داسی چرته ندی شوی چی د رسول الله ﷺ چا څه غوښتلی وی او هغه ورته انکار کړی وی ، رسول الله ﷺ ډير د صبرناک او با وقاره مزاج والا انسان وو ، د خپل ځان دپاره چری انتقام ندی اغستلی ، او نه د خپل ذات دپاره په چا باندی غصه کړی ده ، او که د الله تعالی مقرر شوی حدود به مات شول د الله تعالی د خطره دهغی انتقام به اغستلو ، دحق په معامله کښی به خپلوان غريبانان او مالداره ټول د رسول الله ﷺ په نظر کښی ټول برابر وو ، او دا تعليم امت ته ورکړی دی ، چی اوچتوالی د يو په بل نشته دی مګر په تقوی باندی ، ټول خلق د حقوقو په لحاظ سره برابر دی ، د مخکينو امتونو د هلاکت سبب هم دا وو چی يو مالداره سړی غلاء وکړه هغه به معاف ئی کړو او غريب سړی باندی به قانون جاری کوو رسول الله ﷺ فرمائل : په الله تعالی قسم ، که فاطمة بنت محمد ﷺ هم غلاء کړی وی ما به د هغی لاس هم پريکووو (صحيح البخاری٣٤٧٥ : ومسلم ١٦٨٨ ) رسول الله ﷺ په

خوراک کښې چرته هم عیب نه راوباسلو ، که خوښ به شو نو خوراک به تری وکړو او یا به پرښودلو ،کله به یو میاشت دوه میاشتې تیرې شوی او د رسول الله ﷺ په کور کښې به اور قدرته بل نشو، درسول الله ﷺ خاندان والو به په اوبه او کهجورو باندی وخت تیرولو ، رسول الله ﷺ به د لوږی د لاس خیټې پوری یو یا دوه کانړی تړل ، د کور په کارونو کښې به د کوروالو سره مدد کولو د بیمارانو بیمار پورسی له به ورتللو عاجزی او تواضع په نبی ﷺ کښې ډیره زیاته وه، غریب سړی او مالدار عام انسان او صاحب حیثیت چابه چې راوبللو راتللو به ، د غریب نه د هغه د غربت د وجې نه نفرت نکوو او د بادشاه نه د هغه د بادشاهت د وجې نه یره نکوله ، آس ، اوښ،خر، خچر ، هر قسم سورلۍ باندی سورلی کوله ، اګر چې نبی ﷺ هر طرفنه تکلیفونو او مشکلات کښې راګیر وو لیکن سره ددی نه ډیر پراخه او خوشحاله مخ واله او خوش اخلاقه انسان وو ، خوشبو د نبی ﷺ ډیره خوښه وه ، د بدبوئی نه به ئې ځان ساته ، الله تعالی نبی ﷺ له عظیم اخلاق او ځائسته کردار ورکړی وو ، الله تعالی ورله داسی عظیم علم ورکړی وو ، چې مخکینو او روستنو خلقو کښې چاله هم ندی ورکړی شوی ، حالانکه نبی ﷺ اُمّی وو، یعنی لیکل او لوستل ئې نه شو کولی ، هیڅ

انسان ورله تعلیم نه وو ورکړی ، دا قرآن کریم ئ د الله تعالی د طرفنه راوړی دی ، الله تعالی د قرآن کریم باره کښې فرمائی:

**[قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنْسُ وَالجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا القُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا] {الإسراء:88}**

ترجمه : اے نبی ﷺ ووایا ،که چرته ټول انسانان او پیریان راجمع شی چی د قران پشان مثل راوړی ، د قرآن مثل نشی راوړلی، اګر که د یو بل مددګاران وی.

د اعتراض کونکو د خُولئ د بندولو دپاره نبی ﷺ د اول نه اُمّی وو(یعنی لیکل او لوستل ئ نشو کولی) چی بیا دا وونه وائی، چی دا قران ئ لیکئ دی یا ئ د چانه زده کړی دی او یا ئ د مخکښنی کتابونونه أغستلی دی.

معجزات : د نبی ﷺ عظیمة معجزة قرآن دی ، داسی معجزة ده چی تر قیامت پوری به موجوده وی ،او څوک ئ هم مقابله نشی کولی ، الله تعالی ټولو خلقو لره دعوت ورکړی دی ددی قرآن مقابلئ ته چی ددی قرآن پشان لس سورتونه راوړی ، او یا یو سورت راوړی او یا لس آیاتونه راوړی ، د مشرکانو بے بسی د قران د معجزی دلیل دی .

**د نبی ﷺ دنورو معجزات تفصیل دادی** : یو ورځ د مکی مشرکانو د نبی ﷺ د معجزی مطالبه وکړه ، د الله تعالی په

حکم باندی نبی ﷺ سپوږمۍ طرفته ایشاره وکړه، سپوږمۍ دوه ټکړی شوه ،ډیر کرت د نبی ﷺ دګوتو مبارکو نه به معجزةً اوبه روانۍ شوی ،کانړو د نبی ﷺ په لاس مبارک کښې دالله تعالی ذکر کولو، نبی ﷺ هغه کانړی د ابوبکر رضي الله عنه په لاس کښې کیښودل بیا د عمر رضي الله عنه بیا د عثمان رضي الله عنه په لاس کښې او بیا به هم د الله تعالی ذکر کولو ، دنبی ﷺ په موجودګی کښې صحابو رضوان الله علیه أجمعین د طعام نه د الله تعالی ذکر أوریدلی دی ، کانړو او ونو به نبی ﷺ ته سلام پیش کولو ، د چیلۍ هغه لیچه چی نبی ﷺ له ئی خبر ورکړو چی د یهویانو یوی ښځی پکښې زهر أچولی وو ، یو بانډچی د نبی ﷺ نه د معجزی مطالبه وکړه نبی ﷺ ونی ته ایشاره وکړه ، ونه راروانه شوه او د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شو او بیا واپس خپل ځائی ته لاړه ، د یوی ګډی غُلانزه کښې پیۍ نه وو لیکن د نبی ﷺ لاس مبارک د مسحه کیدو سره پکښې پیۍ راغلل، نبی ﷺ پخپله هم وڅکل او ابوبکر رضي الله عنه له ئی هم ورکړل ، د علی رضي الله عنه سترګی خوږ شوی وی نبی ﷺ پری خپلی لاړی مبارکی ولګولی سترګی ئی روغی شولی ، د یو صحابی خپه زخمی شوی وه ، نبی ﷺ ورباندی خپل لاس مبارک راښکل خپه ئی بلکل صحیح شوه ، رسول الله ﷺ د أنس بن مالک رضي الله عنه په حق کښې دعاء کړی وه ، اے الله دده

په عمر مال او اولاد کښې برکت واچوی، أنس رضي الله عنه پخپل عمر کښې(۱۲۰) یوسل شل بچیٔ وشمیرل او د أنس رضي الله عنه کهجورو به په کال کښې دوه ځله کهجوری کولی او الله تعالی ورله (۱۲۰) یوسل شل کاله عمر ورکړی وه، نبی ﷺ په منبر باندی د خُطبې دپاره ولاړ وو یو صحابی راغلی د باران د دعاء درخواست ئی وکړو نبی ﷺ پوراً لاسونه اوچت کړل ، چه آسمان کښې وریځ نوی په اناً فاناً کښې د غرونو پشان وریځې راغلی او تر بلې جُمعې پوری ډیر زیات باران وورید، په راتلونکې جُمعه باندی دغه صحابی د باران د ډیر والی شکایت وکړو ، نبی ﷺ د الله تعالی نه دعاء وکړه او باران بند شو، او خلق د مسجد نه بهر ووتول په داسی حال کښې چې نمر راختلی وو، په غزوه خندق کښې د خندق په کنستلو کښې تقریبا زر (۱۰۰۰) کسان شریک وو، دوه یا دری کیلو وربشی او یوه چیلیٔ وه ټولو خلقو ددی طعام نه ځان موړ کړو او خوراک بیا هم کم نه شو، او دغه شان د بشیربن سعد رضي الله عنه لور خپل پلار او ماما له لږی شان کهجوری راوړی نبی ﷺ دغه معمولی کهجوری په ټولو خندق واله باندی وخوړلی ، او پدی موقع کښې ابوهریرة رضي الله عنه سه لږ شان طعام تیار کړو، نبی ﷺ په ټول لښکر باندی برابر وخوړلو، په مکه کښې د قریشو تقریبا سل(۱۰۰) ځوانان د نبی ﷺ د

کورنه بهر په دی انتظار وو ، چه (معاذالله) نبی ﷺ به قتل کړی ، لیکن نبی ﷺ ددی ځائی نه لاړو او ددوی په سرونو باندی ئی خاوری هم واچوالی دوی ورباندی پوهه نه شو ، سراقه بن مالک د هجرت به موقع باندی د نبیﷺ د قتل (معاذالله) دپاره کله چی نبی ﷺ ته ورنیزدی شو نبی ﷺ ورته بددعاء وکړه د هغه د آس مخکښنی خپې په زمکه کښی ورننوتلی.

### د نبی ﷺ د سیرت نه اغستلې شوی درسونه:

**خوش طبعیتی** : نبی ﷺ به د خپلو ملګرو سره کله کله خوش مزاجی کوله ، لیکن په ګپ کښی به ئی هم حق خبره کوله ، د خپل کور واله سره به ئی هم خوش مزاجی کوله ، او د ماشوانو خیال به ئی هم ساتلو ، د خپل وخت نه به ئی ماشومانو له حصه ورکوله او د هغوی د حیثیت مطابق به ورسره برتاؤ کولو ، کله به ئی خپل خادم أنس بن مالک رضی الله عنه سره مزاح کوله نو ورته به ئی وئیلی (یا ذالاذنین) اے د دوه غوږونو والا ! یو سړی درخواست وکړو چی اے د الله رسوله ماله سورلې راکړه ، نبی ﷺ ورته د مزاح په انداز کښی اوفرئیل : د اُوښی بچې به درکم هغه خفه شو چی د اُوښی په بچې به سنګه سورلې کوم ،نبی ﷺ ورته وفرمائیلی،

هر اُوښ د یوی اُوښی بچی وی ، همیشه به د نبی ﷺ په مخ مبارک باندی مُسکاء وه او د مخ مبارک نه به ئي رنړا ځلیدله او صحابۇ رضوان الله اجمعین به تری همیشه د خیر خبری أوریدلی ، جریر رضی الله عنه فرمائی ، کله چی زه مسلمان شوم ، نبی ﷺ زه د خپل ملاقات نه منع نه کړم ، او کله به چی ما ورته کتل د نبی ﷺ په مخ مبارک به مُسکاء وه ، ما ورته وئیلی: اے د الله رسوله! زه په آس باندی نشم کلک کیناستلی ، نبی ﷺ په خپل لاس مبارک زما سینه ووهله او دا دعاء ئی راته وکړه.

(اللَّهُمَّ ثبته واجعله هاديا مهديا) صحيح البخارى ٣٠٣٦

ترجمه : اے الله ! دی مضبوط کړی او هدایت واله ئی وګرزوی ، او دغه شان به نبی ﷺ به د خپل کورنی خلقو سره هم خوش مزاجی کوله ، یوه ورځ نبی ﷺ د خپلی لور فاطمی رضی الله عنها کور ته ورغلی ، علی رضی الله عنه کور کښی نه وو، تپوس ئی وکړو چرته دی ، فاطمی رضی الله عنها وفرمائیل ، زما او د هغه سره په سه خبره باندی جګړه راغله غوصه شو بهر لاړو ، نبی ﷺ چی راغلی، علی رضی الله عنه په جومات کښی ملاست وو او څادر ئی د ملا نه غورزیدلی وه ، نبی ﷺ په خپل لاس مبارک باندی تری خاوری سنډلی او ورته ئی وئیلی (قم أبا تراب) د خارو پلار پاسیږه.

**د ماشومانو سره د نبی ﷺ سلوک :**

د نبی ﷺ دخائسته اخلاقو نه د ماشومانو دپاره پوره حصه وه عائشة رضی الله عنها سره به ئی کله منډه وهله ، عائشة رضی الله عنها به د خپلو ملګرو جنکو سره په ګوډیګانئ لوبئ کولی ، نبی ﷺ به نه منع کوله ، عائشه رضی الله عنها فرمائیل: ما به د نبی ﷺ په کور کښې د خپلو ملګرو جنکو سره لوبئ کولی ، چې کله به نبی ﷺ کورته راغلی دوی به پټې شوی ، نبی ﷺ به دوی په خپله د لوبو دپاره رالیږلی چې زما سره لوبئ وکړی ، نبی ﷺ به د ماشومانو سره مینه هم کوله او خیال به ئی هم ورله ساتلو ، عبدالله بن شداد ﵁ د خپل پلار نه اوریدلی دی ، چې یو ورځ نبی ﷺ د ماسخوتن مونځ دپاره تشریق راوړلو ، حسن یا حسین رضی الله عنهما ئی أغستلی وه ، ماشوم ئی کینوؤ او په جماعت باندی مونځ ئی شروع کړو ، اوږده سجده ئی وکړه ، د عبدالله ﵁ پلار شداد ﵁ وائی ، ما د سجدی نه سَر أوچت کړو، ماشوم د نبی ﷺ په شاه باندی ناست وو او نبی ﷺ په سجده باندی وو ، هغه فرمائی زه دوباره سجدی له لاړم ، چې کله د مونځ نه فارغه شو ، خلقو وئیلی ، اے د الله رسوله ! سجده دی ډیره أوږده وکړه ، زمونږه ګمان راغلی که تاله سه وشوؤ یا وحی نازلیږی ، نبی ﷺ وفرمائیل،داسی هیڅ نه ووبلکی زما بچی

زمانه سورلئ جوړه کړی وه ، مانه غُبنتله چی تلوار ورباندی وکړم تر دی چی خپل حاجت پوره کړی ، أنس ﷺ فرمائی: نبي ﷺ د هر چانه د خائسته اخلاقو مالک وو، زما ماشوم رور ته ئی وئیلی ، اے ابو عمیر! هغه (بَلبَله) د مرِغئ بچی دی څه کړو ، د أنس ﷺ رور به دغه مرغئ سره لوبئ کولی ، او داسی خبرو سره به هغه خوشحاله کیدو.

**د نبي ﷺ برتاؤ د خپل کوروالو سره :**

د خپلو کور والو سره به نبي ﷺ په ډیره تواضع سره پیش راتللو ، د کوروالو د ضرورتونو به ئی ډیر خیال ساتلو ، او د زنانه د ذات به ئي قدر کولو که هغه به د مور په صورت کښی وه او که د ښځی یا د خور په صورت کښی، یو سړی د نبي ﷺ نه تپوس وکړو چی زما د خائسته سلوک د ټولو نه ډیر څوک حقدار دی ، نبي ﷺ ورته وفرمائیل ، چی ستا مور ، بیا ستا مور ، بیا ستا مور ، او بیا ستا پلار ، او نبي ﷺ فرمائیلی دی ، څوک چی مور او پلار دواړه یا یو په بوډاتوب کښی وومومی او د هغوی د خدمت ونه کړی ، اُور ته به ځی او الله تعالی به ئی په اُور کښی لری ګزار کړی ، د نبي ﷺ د خائسته اخلاقو حال دا وه که (أم المومنین) کښی به یو بی بی په لوښی کښی أوبه وڅکلی نبي ﷺ به په هغه ځائی خوله کیښودله او أوبه څکلی په کم ځائی چی هغی خوله لګولی وه ، نبي ﷺ به

فرمائیل: چې تاسو کښې بهتره هغه څوک دی ، چې د خپل کورواله دپاره بهتره وی او زه د خپل کورواله دپاره د ټولو نه بهتره یم .

**د رحمتونه باران :**

د رحمت باره کښې د نبی ﷺ فرمان دی ، څوک چې رحم کوی ، رحمن ذات په هغه باندی رحم وکړی ، زمونږه نبی ﷺ ته ده ددی اخلاقو نه پوره حصه ورکړی شوی ده ، نبی ﷺ به د ټولو خلقو سره برتاؤ د شفقت او رحم نه ډک وو، د نبی ﷺ د شفقت او رحمت به هغه وخت په نظر راتللو چې کله به د ماشوم ژړه واوریدله نو مونځ به ئې ورته مختصر کړو، ابو قتاده رضی الله عنه فرمائی ، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : زه مونځ ته اُدیږم دا می اراده وی چې اُږد مونځ به وکړم ، لیکن د ماشوم د ژړا آواز واورم نو مونځ رالنډ کړم ، دا بده ګڼړم چې د ماشوم مور په فتنه کښې واقع شی.(الصحیح البخاری)

نبی ﷺ د خپل اُمت دپاره ډیر رحیم او مشفق وه ، د ټولو نه زیات حرص ئې دا وه چې ټول خلق د الله تعالی په دین کښې داخل شی ، یو یهودی ماشوم ناجوړه وو ، چې د نبی ﷺ خدمت به ئې کولو ، نبی ﷺ د هغه بیمار پرسئ دپاره تشریف راوړو، نبی ﷺ ورته د اسلام دعوت وکړو چې اسلام کښې داخل شه ، هغه خپل پلار ته وکتل ، چې د هغه د سر په خواء

کنبې ولاړ وو ، پلار ورته وئیلي : د ابوالقاسم ﷺ خبره ومنه ماشوم اسلام قبول کړو، او بیا لګ وخت پس وفات شو ، نبي ﷺ دا وئیلي او دهغه ځائی نه راوتلو ، الله تعالی دپاره شکر دی چې دا ماشوم ئی د أور نه خلاص کړو،

**د نبي ﷺ د صبر مثال :**

د نبي ﷺ ټوله زندګی د صبر نه عبارت ده ، صبر کول او خلقو ته د صبر تلقین کول جهاد کول ، او خلقونه د جهاد تلقین کول نبي ﷺ ټوله زندګی ده ، کله چې په نبي ﷺ باندی اولنی آیات نازل شو ، تر د آخرنی لحظه د ژوند پوری صبر کړی دی ، او نورو ته ئی د صبر حکم کولو ، د نبوت نه پس نبي ﷺ ته دا خبره معلومه وه چه پدی لاره کنبې ډیر سختیانئ او تکلیفونه دی ، کله چې جبریل علیه السلام اولنی وحی راوړه ، خدیجة الکبری رضی الله عنها نبي ﷺ ئي د ورقه ابن نوفل خواء له راوستلو ، ورقه نبي ﷺ ته اوئیلی : آرمان دی چې زه هغه وخت پوری ژوندی وی چې کله ستا قوم ته دخپل وطن نه وباسئ (او ما ستا مدد کړی وی) نبي ﷺ په حیرانتیاء سره تپوس وکړو ، آیا دوی به ما أوباسئ؟ ورقه اوئیلی او، ځوک چې هم د الله تعالی پیغام باندی خلقو ته راغلی دی هغه سره دشمنی کړی شوی ده ، ددی وجی نه د اول نه نبي ﷺ خپل ځان د مشکلاتو او تکلیفونو دپاره تیار

کړی وه ، نبی ﷺ ته معلومه وه چی تکلیفونه به وی سازشونه به وی او دشمنی به هم وی ، دنبی ﷺ د صبر مثالونه خو ډیر دی یو څو به ذکر کړو، مکه مکرمه کښې نبی ﷺ قریشوته دتوحید دعوت ورکولو او قریشو به نبیﷺ ته ډیر تکلیفونه ورکول ، عروة بن الزبیر ؓ د عبدالله بن عمرو بن العاص ؓ نه تپوس وکړو چی قریشو نبی ﷺ ته ډیر سخت تکلیف کم وخت ورکړی وو د هغه تفصیل راته بیان کړه ، عبدالله بن عمرو بن العاص ؓ اوفرمائیل : یوه ورځ نبی ﷺ په خانه کعبه کښې دننه مونځ آداء کولو ، عقبة ابن ابی معیط راغلی ، خپل څادر ئی د نبی ﷺ په مرئی مبارکه کښې واچولو او په زور سره ئی راښکلو د نبی ﷺ ساه مبارکه بنده شوه ،

ابو بکر صدیق ؓ راغلی، عقبة ئی د أوږو نه ونیولو او د نبی ﷺ نه ئی لری دِیکه کړو ، اوفرمائیل ئی : آیا تاسو داسی سړی مړ کوی چی وائی ، زما رب الله دی ،

یو ورځ نبی ﷺ د بیت الله په خواء کښې مونځ آداء کولو ، ابوجهل د خپلو ملګرو سره ناست وو ، یوبل ته ئی أوویلئ ، څوک به د فلانے قبلئ د ډیران نه د اوښانو ګلمئ او لرئی سُپری راوړی او چی نبیﷺ سجدی دپاره لاړ شي نو دغه لرئ سُپری ورباندی د پاسه واچوی ، یو بدبخته انسان پاسیدو

او دغه داوښانو لرئ سُپړی ئي راوړل ،کله چې نبی ﷺ سجدی له لاړو ، دغه ئی د نبی ﷺ د اُږو مینځ کښې واچول ،کافرانو خاندل او یوبل باندی ورغورځیدل د ډیری خنده د وجی نه ، او نبی ﷺ په سجده باندی وه ، نشو راپاسیدلو تردی چې د نبی ﷺ لور فاطمة رضی الله عنها راغله او د نبی ﷺ نه ئی هغه ګندګی لری کړه ، ددی جسمانی تکلیف نه زیات نفسانی تکلیف وو، چې د نبی ﷺ دعوت ئی نه منلو ، د درغو نسبت ئی ورته کولو، نبی کریم ﷺ ته ئی(نعوذبالله) لیونئ ، شاعر ، ترویتئ ، جادوګر ، پشان نسبت کولو ، او د قران کریم د آیاتونو ته به ئی ښځوانئ د دروغو قِصیئ وئیلی ، ابو جهل یو ورځ د مسخری په طور وئیلی ، اے الله ! که چرته دا نبی په حقه وی ، او ستا د طرف نه راغلی وی ، او مونږه ئی نه منو ، د آسمان نه په مونږه باندی د کانړو باران وکړه او یا بل قسم دردناک عذاب راکړه ، د ابولهب دا حال وه ، چې کله به نبی ﷺ یوځائی ته د دین د دعوت دپاره تللو ، ابولهب به نبی ﷺ پسی دی دپاره تللو چې خلق د نبی ﷺ د تابعداری نه منع کړی ، او بل طرفته د ابولهب ښځه ام جمیل د نبی ﷺ دتلو راتلو لار کښې به ئی أزغی اچول ، چې تکلیف وررورسوی ، په هغه وخت کښې تکلیف انتهاء ته رسیدلی وو ،کله چې نبی کریم ﷺ د خپلو ملګرو او رشته

دارو سره په شعب ابی طالب کښې محصور شوی وه ، تر دی پوری چی د سختئ لوږی د وجی نه د ونو پاڼو خوراک ته مجبوره شوی وو ، او په غم کښې هغه وخت اضافه وشوه چی خدیجه رضی الله عنها وفات شوه ، او په دغه کال ابوطالب هم وفات وشو ، چی د نبی ﷺ به ئې په هرمیدان کښې دفاع کولو ، او ددی وجی نه هم دغه غم ډیر سخت وو چی ابو طالب په کفر باندی وفات شو ، ددی نه پس مشرکانو د نبی ﷺ د مرګ کوشش شروع کړو، مجبوراً نبی ﷺخپل وطن مکة پریښودله ، او مدینی ته ئې هجرت وکړو ، لیکن د تکلیف او د قربانی سلسه مدینه کښې هم جاری وه ، نبی ﷺ د تکلیف او مشکلات نه ډک ژوند تیرولو کله د دشمنانو د طرفنه تکلیف کله د لوږی د وجی نه خپلی خیټی مبارکی پوری ګټهی تړل داسی سخت ژوند نبی ﷺ تیرولو ، د نبی کریم ﷺ فرمان دی : زه د الله تعالی په لار کښې دومره یرولی شوی یم چی بل څوک دومره ندی یرولی شوی ، او ماته دالله تعالی د وجی دومره تکلیفونه راکړی شوی دی ، چی بل چاته ندی ورکړی شوی ، په ما باندی دیرش(۳۰) ورځی او شپی داسی تیری شوی دی ، زما او د بلال دپاره د خوراک دومره څه نه وو ، چی یو ساه اغستونکی ورباندی ګزاره وکړی ، بس دومره څه به وو چی د بلال په پلسکے (ترخ)

کنبی راتلل ، (سنن ابن ماجه۱۵۱ شیخ البانی ورته صحیح وئیلی دی ، نبی ﷺ ته یقینا هر قسمه تکلیفونه د کافرانو او د منافقانو د طرفنه ورکړی شوی وو ، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی: یو موقع باندی نبی ﷺ سه مال وغیره تقسیم کړو ، یو انصاری أوئیلی : محمد ﷺ په دی تقسیم کنبی انصاف ونه کړو ، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وائی زه راغلم نبی ﷺ ته می خبر ورکړو ، د نبی کریم ﷺ د مخ مبارک رنګ بدل شو ، او وفرمائیل ئی: الله تعالی دی په موسی علیه السلام باندی رحم وکړی ، هغه ته ددی نه هم ډیر تکلیف ورکړی شوی وه او هغه صبر کړی وه ، صحیح البخاری ، کم وختونو کنبی چی نبی ﷺ ډیر صبر کړی دی ، په هغی کنبی یو د نبی ﷺ د اولاد وفات دی ، د نبی ﷺ ووه (۷) بچی وو او ټول یو بل پسی وفات شول سواء د فاطمة الزهری رضی الله عنها نه ، نبی ﷺ د تکلیفونو د وجی نه کمزوری شوی نه وو ، بلکه صبر جمیل ئی کړی وو ، کله چی د نبی ﷺ ځوی ابراهیم علیه السلام وفات شوی وه د سترګو نه ئی أوښکی روانی وی او زړه ئی غمجن وو ، فرمائیل ئی ، مونږه هغه خبره کوو چی زمونږه رب ورباندی راضی وی ، اے ابراهیم مونږه ستا په جدائی باندی غمجن یو، (البخاری ۱۲٤) د نبی ﷺ صبر صرف تکلفونو باندی نه وو بلکه دا الله تعالی عبادت ئی هم په

كامله طريقه كولو ، د أوږد قيام د وجې نه به ئې خپې مباركې أوپړسيدلې ، ډيرې نفلي روژې به ئې نيولې او په عبادت كښې يه ئې كافي وقت مصرف كولو ، د نبي ﷺ نه د ددې ډير عبادت باره كښې تپوس وكړې شو نبي ﷺ أوفرمائيل: آيا زه د الله تعالى شكر گزار بنده جوړ نشم .

## زُهد د دنيا نه بے رغبتي:

د زهد لفظ د هغه انسان دپاره استعماليږي ، چې د هغه دپاره د دنيا نعمتونه بسياره وي ، ليكن هغه د بے رغبتي د وجې نه ترې مخ أړوي ، او نبي ﷺ د هر چانه زيات د دنيا نه ډير بے رغبتي كونكے وو ، هغه سه چې د سخت ضرورت پورا كولو دپاره به كافي وه په هغې باندې به راضي وو ، سخته زندگي ئې تيروله ، حقيقت كښې نبي ﷺ د الله تعالى محبوب وه كه د الله تعالى نه ئې مطالبه كړې وې ، الله تعالى به ورله هرقسمه نعمتونه وركړې وو ، امام ابن كثير رحمه الله په خپل تفسير كښې د خيثمه رضي الله عنه په روايت باندې نقل كوي چې نبي كريم ﷺ ته د الله تعالى د طرفنه دا پيشكش وكړې شو چې كه ستا خوښه شي ، د زمكې ټولې خزانې به ستا مخې ته خاضرې شي د هغې د ټولو چابيانو مالك به ته ئې ، دومره مال دولت به الله تعالى دركړې ، چې مخكښې هيڅ يو نبي ته ئې ندې وركړې او

نه به روستو چاته دومره ورکړی ، او ددی د وجی به ستا د الله تعالی په نیز هیڅ قسمه کموالی هم نه راځی ، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : دا ټول نعمتوه زما دپاره آخرت ته أوساتلی شی د نبی ﷺ دنیوی زندګی ډیره حیرانونکی ده ، أبوذر رضی الله عنه فرمائی ، زه د نبی کریم ﷺ سره د مدینی په کاڼرجنه زمکه کښی روان ووم ، ناګهانه د أحد غر مخکښی ته ښکاره شو، نبی کریم ﷺ وفرمائیل: زه په دی خبره هیڅ کله هم نه خوشحاله کیږم ، چی زما سره دی د أحد د غر په مقدار باندی سرزر وی او دری ورځو کښی د هغی نه ماسره یو درینا هم پاتی شوی وی ، مګر صرف دومره مقدار چی خپل قرضورباندی آداء کړم او باقی د الله تعالی په بندګانو باندی ښئ طرفته او ګس(چپ) طرفته مخکښی او روستو ټول مال تقسم کړم ، نبی کریم ﷺ به فرمائیل: زما د دنیا سره څه کار دی ، زما مثال پشان د هغه شاه سوار مسافر دی چی د یوی ونی سُوری ته دمه وکړی او بیا د هغه ځائی نه روان شی.

## خوراک څښاک او لباس:

د نبی ﷺ د خوراک دا حال وو ، چی یوه میاشت دوه میاشتی دری میاشتی به کله تیری شوی او د نبی کریم ﷺ په کور کښی به أور قدرته هم بل نشو ، بس دوه تور څیزونو باندی

به ئې ګزاره کوله کجهورې او أوبه ، کله به ټوله ورځ د لوږې د وجې نه په تکلیف کښې وو، او د خوراک به هیڅ هم نه وو چې خوړلې ئې وې ، په عمر چرته نبي کریم ﷺ د میده أوړو ډوډې نده خوړلې ، د نبي کریم ﷺ خادم فرمائی ، چرته نبي ﷺ دوه وخته مسلسل ډوډې او د غوښې شوروه ندې خوړلې وې ، مګر که چرته میلمانه به راغلی وو، نبي کریم ﷺ به لباس هم ډیر قیمتي نه استعمالو ، صحابه رضوان الله علیهم أجمعین فرمائی ، نبي ﷺ د لباس متعلق ډیر بے تکلفه وو ،که چرته نبي ﷺ غوښتلی نو قیمتي لباس به ئې استعمال کړې وې ، یو صحابي د نبي ﷺ د لباس ذکر کوی فرمائی ، د څه خبرې دپاره زه د نبي ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم ، د نبي ﷺ لنګ مبارک د غټې وړې واله کپړه وه ابو بردة رحمه الله د عائشة رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شو ، هغې یو څادر رواغستو چه پیوند پکښې لګیدلی وو او یو لنګ چه د غټې وړې واله وو، او بیا ئې أوفرمائیل: رسول الله ﷺ پدې کپړو کښې د دنیا نه رخصت شوی دی ، أنس رضي الله عنه فرمائی ، زه د رسول الله ﷺ سره روان ووم ، او د نبي ﷺ په بدن مبارک باندې نجراني څادر وو چې د هغې غاړې غټې غټې وې،

نبی ﷺ د وفات په وخت کښې د ځان نه روستو هیڅ قسمه دینار ، درهم ، غلامان او وینځې نوی پریښودلی، سواء د یو سپین قچر ، ذاتی اسلحه او سه معمولی زمکه چې هغه ئې هم صدقه کړې وه ، عائشة رضی الله عنها فرمائی ، چې کله رسول الله ﷺ د دنیا نه رخصت شو زمونږه په کور کښې د خوراک څښاک دپاره هیڅ نه وو ، د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کښې د هغه زغرا د یو یهودی سره د سه وربشو په عوض کښې په ګروی کښې پرته وه .

**د رسول الله ﷺ عدل او انصاف:**

نبی ﷺ هر لحاظ سره د عدل او انصاف قائم کونکی وه ، د خپل رب سره ئې معامله په عدل وه یعنی د الله تعالی حقونه به ئې په انصاف سره آداء کول ، د خپل ځان سره به ئې عدل کولو ، د خپلو بیبیانو سره عدل کولو ، د رشتدارو سره د عامو انسانانو سره که موافق به وو او که مخالف تردی پوری چې د متکبر دشمن سره به ئې هم عدل او انصاف کولو، په حالت د سفر او حضر کښې به نبی ﷺ خپل ځان په ملګرو باندی نه غوره کولو د هغې پشان تکلفونه به ئې په خپله هم برداشت کول ، عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی ، د عزوه بدر په موقع باندی د سورلئ دپاره د هر دریو کسانو په سر باندی

یو أوبښ وو ، ابو لبابة او علی رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ د أوبښ ملګری وه چی کله به د رسول الله ﷺ د پیدل تللو نمبر راغلی و دواړو صحابو به په یو آواز وئیلی ، اے د الله رسوله ! مونږه به پیاده زو ته د سورلئ نه مه راکوزیږه ، نبی ﷺ وفرمائیل : تاسو دواړه نه زمانه ډیر طاقتور ئي او نه زه د أجرنه بے نیازه یم .

أُسید بن حضیر رضی الله عنه خپلو ملګرو سره ګپ شپ لګولو، او هغوی یے خاندول ، نبی ﷺ یو لرګئ د هغه ترخ ته ورنیزدی کړو ، أُسید بن حضیر رضی الله عنه اوفرمائیل ، اے د الله رسوله ! ماله دی تکلیف راکړو ، ما لا د بدل اغستلو موقعه راکړه ، نبی کریم ﷺ ورته وفرمائیل ، راشه خپله بدله دی واخله هغه وئیلی ستا بدن مبارک باندی قمیص دی او زما قمیص نه وو ، نبی کریم ﷺ خپل قمیص پورته کړو ، أُسید بن حضیر رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ مبارک بدن پسی ورجښت شو او د نبی ﷺ بدن مبارک ئی خُکل کړو او وفرمائیل ئی اے د الله رسوله زما آرمان وو چی زه ستا پاک بدن خُکل کړم ،

رسول الله ﷺ د الله تعالی مقرر شوی حدود پامال کول نه شو برداشت کولی ، دی دپاره چی د خلقو مینځ کښی انصاف وکړیشی ، اګر که خطاء کار به د نبی ﷺ رشتدار یا نزدی دوست ولی نه وو ، د بنو مخزوم قبلئ یوی ښځی غلاء کړی

وه ، خلقو د سزاء د معاف کولو دپاره سفارش وکړو تردی پورې چې أُسامه رضي الله عنه هم سفارش وکړو او سفارش ئې قبول نه شو ، او نبي کريم ﷺ هغه تاريخي الفاظ بيان کړل ، چې نن هم د قانون اسلام روح دی ، وفرمائيل : اے خلقو ستاسو نه مخکښې خلق صرف ددې د وجې نه هلاک شوی دی چې که په هغوی کښې به مالداره غلاء وکړه هغه به ئې معاف کړو ، او که يو کمزوری انسان به غلاء وکړه نو هغه باندې به ئې حد قائم کړو ، د الله تعالی په ذات باندې قسم دی ، که بالفرض فاطمه لور د محمد ﷺ هم غلاء کړې وې ما به د هغې هم لاس پرې کړې وې ،

## د رسول الله ﷺ باره کښې د اهل فکر رأيے:

د رسول الله ﷺ باره کښې د اهل مغرب فلاسفه او مستشرقين (orientalists) د آراء نه معلومه ده چې هغوی هم د رسول الله ﷺ د عظمت قائل وه ، څوک چې اسلام يا پيغمبرِ اسلام پسئ پراپيګنډې کوی ، دوی د تعصب او عناد د وجې نه دشمنی کوی ،

برطانوی فلاسفی برناډشو،( George Bernard Shaw) خپل «کتاب محمد ﷺ (چې روستو د انګريز حکومت سوزولی وه) کښې ليکلئ دی ، ددې وخت خلق د محمد ﷺ

د راوړلی شوی فکر ډیر زیات محتاجه دی ، دی نبی همیشه خپل دین ته د عزت او احترام حیثیت ورکړی وه ، د هری معاشری ضرورت پوره کونکی د ټولو نه ډیر کامیاب دین دی او د هر ضرورت پوره کولو صلاحیت لرونکی دی ، زه وینم چه ډیر انګریزان په روښانه سترګو سره او په دلیل باندی د پوهی نه پس پدی دین کښی داخلیږی په براعظم یورپ کښی ددی دین د خورولو ډیر مواقع موجود دی ،
برناډشو وائی : عیسائی علماؤ په قرون وسطی کښی د خپل جهالت او عصبیت د وجی نه ددین محمد ﷺ غلط تصویر خلقوته ښودلی وو ، او خلقوته ئی د عیسائیت دشمن په ښودلو ، چی کله ما په خپله ددی دین مطالعه وکړه ، ما ته دا حیران کونکی معجزه معلومه شوه ، او پدی نتیجه باندی ورسیدم چی دی دین ته دعیسائیت دشمن نه بلکه د انسانیت د نجات لاربښود وئیل پکار دی، زما رأیی داده چی که دا عظیم انسان پدی زمانه کښی د انسانیت انتظام ذمه واری قبوله کړی ، زمونږه ټول مشکلات په حل کړی او دنیا کښی به آمن او خوشحالئ راولئ چی خلق ورپسئ ترسیږی ،
نوبل انعام والا انګریز فلاسفر توماس کارلیل ( Thomas Carlyle) لیکلئ دی ، په دی زمانه کښی د یو انسان دپاره غټ جرم دادی چی داسی خبروته غوږ کیږدی چی اسلام ته

پکښې دروغژن وئیلې کیږی ، دداسې فضول خبرو خلاف جهاد کول پکار دی ، هغه پیغام چې دی رسول ﷺ راوړلی دی ، هغه اوس د دولس(۱۲) صدیو نه پس هم د نمر پشان ځلیږی ، تقریبا دوه ارب انسانان دغه دین منی، څوک انسان دا ګمان کولی شی چې په کروړنو خلق بغیر د تحقیق نه دا دین منلی شی، او دا ټول درغ دی ، نه هیڅ کله هم داسې نه ده،

هندستانی فلاسفر راماکرشنا وائی: کله چې محمد ﷺ تشریف راوړو ، جزیره عربیه صرف صحراء وه ، دنیا ورته هیڅ توجه نه کوله ، لکن محمد ﷺ په خپلو روحانی کارنامو یو نوی جهان د زمکې په مخ پیداء کړو ، او خلقوته ئې یو نوی ژوند ورکړو او د یو نوی تهذیب بنیاد ئې کیښود ، یو نوی حکومت ئې قائم کړو ،چې د هغې یوه طرف مراکش او دوهم طرف د براعظم هندوستان پورې رسیدلی دی ، او د ایشیاء ، افریقة ، یورپ د خلقو په سوچ او عملی ژوند باندی اثرانداز شو، کینیډین ، فلاسفرزویمر(S.M.Zweimer)

وائی : بے شکه محمد ﷺ عظیم دینی قائد او رهنما وه ، دهغه په ذات باندی دا خبره بلکل ربښتنې ثابتیږی ، چې هغه یو عظیم اصلاح کونکی ،وضاحت کونکی، داعی ،

خطیب ، بهادر او نه یریدونکی وه ، او کم صفات چی ددی مذکوره صفاتو نفی کوی ، هغه صفات ورته نشی منسوب کیدلی ، او قرآن چی پیغبر راوړلی دی هغه قران ئی د رشتنوالی ګواه دی،

انګریز فلاسفر سرویلیم

(Sir William Muir) وائی :یقینا محمد ﷺ چی د مسلمانانو نبی دی ، د (مکی) ښار د أوسیدونکو په اتفاقی فیصلئ سره ئی د صادق او آمین لقب حاصل کړی وه ، دا مقام ورته د عظیم اخلاق او خائسته سلوک د وجی میلاؤ شوی وه ، د هر یوه خه صفت تصور چی وکړی شی ، هغه صفت به په اعلی مرتبه باندی پدی نبی کښې موجود وی ، ناواقفه خلق ئی د پیژندنی نه قاصر دی ،څوک ئی چی د خائسته تاریخ مطالعه وکړی هغه ته معلوم شی چی ستا مقام درسولانو او مفکرین په صف اول کښې دی ،

ددی نه پس وائی : ستا مرتبه أوچته ده ، واضحه بیان واله ، حیران کونکی کامیابی ته حاصلی کړی دی، په تاریخ کښې داسی مصلح نه دی تیر شوی چی په یو وخت ئی د روحونو

اصلاح کړی وی او د خائسته اخلاقو مثال ئې قائم کړی وی او دومره لږ وخت کښې چې محمد ﷺ د اسلام نبی ته میلاؤ شوی وه ،

روسی ناول نګار اومشهور فلاسفر تولستوئی(Leo Tolstoy N ikol) وائی : محمد ﷺ دپاره دا خبره د فخر ده ، هغه غُرځیدلی شوی او د یوبل د وینو تږی خلق د شیطان د بد عادتونو د پنجو نه نجات ورکړو او د هغوی مخکښې ته ئې د ترقی دروازی پرانستلی ، د محمد ﷺ راوړلی شوی شریعت به د دنیا رهنمائی کوی ، ځکه چې دا د عقل او د حکمت عین مطابق دی ،

دآسټریا فلاسفر شبرک وائی: انسانیت په دی خبره باندی فخر کوی ، چه محمد ﷺ د انسانیت حصه ده ، حلانکی هغه خالص اُمی وه ، د هغی باوجود د پیړو مخکښې ئې داسی شریعت دنیا ته پیش کړی دی که مونږه د یورپ خلق په دی باندی عمل وکړو په دنیا کښې به د ټولو نه خوش قسمت وټاکلی شو،

# د قیامت د ورځې بیان

د ایمان په بنیادی ارکانو کښې یو رکن ایمان بالأخرت دي، انسان تر هغه وخت پوری مؤمن ندی ترڅو چې په هر هغه څه ایمان رانه وړی کوم چې د الله کتاب کښې او د رسول الله ﷺ احادیثو کښې بیان شوی دی ، د آخرت په باره کښې علم حاصلول ، یادول ډیر ضروری دی چې د انسان د نفس اصلاح وشی، پرهیزګاری، او په دین باندی کلک والے او نور خائسته صفات انسان کښې پیداء شی ، دی دپاره د مرګ یاداشت ډیر ضروری دی ، د مرګ او د مرګ نه پس راتلونکی حالتو نه غفلت انسان کښې په ګناه باندی جرأت پیداء کوی ، الله تعالی د هغې ورځې په باره کښې فرمائی: [**فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا**] {المزمل:۱۷} ترجمه: نو څنګه به بچ شئ تاسو که چری کفر (انکار)کوئ د هغې ورځې نه چې وبه ګرځوی ماشومان بوډاګان، او بل ځائی الله تعالی فرمائی:[**يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ، يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيدٌ**] {الحج:۲} ترجمه: اےخلقو ! ویره کوئي د رب خپل نه، یقینًا زلزله د قیامت یو څیز دي هیبتناک، په هغه ورځ چي وبه وینی تاسو

هغي لره چي غافله به شی هره پئی ورکونکئ د هغه بچی نه چی پئی ورته ورکوی، او وبه غورځوی هر حمل والا حمل خپل، او وینی به ته خلقو لره نشه او حال دادی چی دوی نه وی نشه لیکن عذاب د الله تعالی ډیر سخت دی .

## د مرګ بیان

د هر ساه لرونکی آخری منزل مرګ دی الله تعالی فرمائی: [**كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ** ] {آل عمران:۱۸۵} (هر ساه لرونکی به د مرګ سکه کوی ) [**كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ**]{الرَّحمن:۲٦} (ټول هغه څوک چی په زمکه باندی دی، فناء کیدونکی دی) او خپل نبی کریم ﷺ ته ئی خطاب کړی دی:[**إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ**]{الزُّمر:۳۰} ترجمه:یقینا ته هم مړ کیدونکی ئی او یقیناً دوی هم مړه کیږی ، دمرګ په باره کښې یو څو ضروری خبری ذکر کول مناسب ګنړم .

۱ = ډیر خلق د مرګ نه غافله دی، حالانکه مرګ یو داسی حقیقت دی چی د شک کولو ګنجائش نه لری ، هر مسلمان باندی فرض دی چی خپل مرګ ډیر ډیر یادوی، او د هغی دپاره تیاری کوی ، د مهلت د ختمیدلو نه مخکښې دنیا کښې د عمل صالح په ذریعه د آخرت ډیره ګټه وکړی،

د الله رسول ﷺ فرمایلي دي : د پنځو خبرونه مخکښې د پنځو څیزونو نه فائده واخلئ د مرګ نه مخکښې دژوند نه، د مرض نه مخکښې د صحت نه، د مصروفیت نه مخکښې د فرصت نه ، د بوډاتوب نه مخکښې د ځوانئ نه ، د فقر نه مخکښې د مالداری نه، (رواه احمد ) .

دا خبره د یادولو وړ ده چی قبر ته څوک د دنیا نه مال دولت نشي وړلے ، صرف انسان سره به خپل عمل وی، د عمل صالح په ذریعه انسان د آخرت سعادتونه حاصلولی شی، او د الله په حکم د عذاب نه نجات موندلے شی .

۲= د انسان د مرګ ورځ نامعلومه ده ، د الله تعالی نه علاوه بل چا ته نده معلومه چی کله به مرم او په کوم ځائی کښې به مرم ځکه چی دا علم غیب دی، او ددی خبر صرف او صرف د الله تعالی سره دی .

۳= کله چی مرګ راشي بیا د مرګ نه بچ کیدل ناممکن دی، نه روستو کیږی او نه تری تیخته کیږی، الله تعالی فرمائی: [وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ] {الأعراف:٣٤} ترجمه: او دپاره د هر امت یوه نیټه وی ، پس کله چی راشی نیټه د دوی ، نه به روستو کیدی شی یو ساعت او نه به مخکښې کیدی شی .

٤= د مؤمن د مرګ منظر څه داسی وی چی ملک الموت (د مرګ فریښته) یو ډیر خائسته شکل کښي راشی ، او مؤمن ته د جنت خوشخبري ورکړی، الله تعالی فرمائي:[**إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ**]{فصِّلت:٣٠} ترجمه: یقیناً هغه کسان چی وائي رب زمونږه الله تعالی دی، بیا پاخه شوی وی (په دی وینا) راکوزیږی په دوی باندی ملائک چی مه ویریږئ او مه خفه کیږئ او زیری واخلئ په جنت سره هغه چی تاسو سره ئے وعده کیدی شوه ، د کافر د مرګ منظر داسي وی چی ملک الموت هیبتی شکل جوړ کړی، او دده خوا ته راشی، تک تور مخ والا وی، او ورسره د عذاب ملائکه هم وی چی د عذاب خبر ورته ورکوی، الله تعالی فرمائي :[ **إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُوا أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنْفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ**] {الأنعام:٩٣} ترجمه:او که اُووینئ ته هغه وخت چی ظالمان به په سختو دمرګ کښي وی، او ملائک به اُوږدونکی وی لاسونه خپل (وته وائي به) را او باسئ ساګانئ خپلی نن بدله درکیدی شي تاسو ته د عذاب د ذلت په سبب د هغه چی جوړولی تاسو په الله تعالی باندی ناحقه خبری، او وئ تاسو

چی د آیاتونو دهغه نه مو لوئی کوله ، مرګ سره حقیقت معلوم شی، هر انسان ته خپله نتیجه معلومه شی،الله تعالی فرمائي :[حَتَّى إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ،لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ]{المؤمنون:١٠٠} ترجمه: تردی وخت پوری چی راشی یو تن د دوی ته مرګ، وائی به اے ربه زما! واپس کړئ ما لره دپاره ددی چی عمل اُوکړم نیک په بدل د هغی کښې چی ما پریخودلے، هیچری نه کیږی یقیناً دا یوه خبره ده چی دی ئے ویونکے دی، او د دوی مخی ته لویه پرده ده، تر هغه ورځی پوری چی دوی به دوباره ژوندئ کولے شی ،کله چی مرګ راشی کافر او ګنهګار به ارمان کوی چی دنیا ته واپس شم ، او نیک عمل وکړم، لیکن چی وخت تیر شی بیا افسوس څه فائده نکوی، الله تعالی فرمائی : [وَمَنْ يُضْلِلِ اللهُ فَمَا لَهُ مِنْ وَلِيٍّ مِنْ بَعْدِهِ وَتَرَى الظَّالِمِينَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَى مَرَدٍّ مِنْ سَبِيلٍ] {الشُّورى:٤٤} ترجمه:او هغه څوک چی الله تعالی ئے بے لاری کړی نو نیشته دی هغه لره هیڅوک بچ کونکے روستو د بے لاری کولو نه او وینی به ته ظالمانو لره هر کله چی اووینی دوی عذاب لره ، وائی به دوی آیا شته دی واپسئ ته څه لار .

٥= د الله تعالی په خپلو بندګانو باندی رحمت دی چی څوک د مرګ نه مخکښې لا اله الا الله ووائی هغه به جنت ته داخلیږی ، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چا چی دنیا کښې آخری خبره لااله الا الله ووئیله هغه به جنت ته داخلیږی (سنن ابی داود) څوک چی رشتینی مؤمن وی هغه ته الله تعالی د مرګ په وخت کښې دا کلمه ورنصیب کوی، او څوک چی مخلص نه وی د هغه نه د مرګ د سختیو د وجی نه پاتے شی والعیاذ بالله ، ددی وجی نه څوک چی مرګ ته نزدی وی د هغه په خواء کښې د لا اله الا الله تلقین کول پکار دی، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چی مړو ته د لا اله الا الله تلقین کوئ ، (مسلم : ۹۱٦)او زور به پری نشي کولے، دی دپاره چی تنګ نشي نو د خولی نه به ئے داسے خبري ووځي چي مناسب به نه وي .

## د قبر حالات :

انس رضی الله عنه فرمائي ، چي رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چی یو بنده قبر کښې کیښودلے شی، او د هغه خپل خپلوان تری واپس شی ، مړیے د هغوی د پیزار آواز آوری چی دوه ملائک ورته راشی، په قبر کښې ئے کینوی، ورته ووائی ته ددی سړی په باره کښې څه وائے ؟ د مؤمن سړی جواب دا

وی چی زه ګواهی کوم چی دا د الله بنده او رسول دی، نبی کریم ﷺ وفرمائیل چی دی بنده ته ووئیلئ شی چی جهنم کښې خپل ځائی وګوره، الله تعالی ددی بدل کښې تاله جنت کښې ځائی درکړو، رسول الله ﷺ وفرمایل چی دغه بنده به په یوځائي دا دواړه ځایونه ګوری، البته کافر یا منافق به د ملائکو په جواب کښې وائی ، ما ته پته نشته ، خلقو چي به څه وئیل ، ما به هم هغه وئیل هغه ته به ووئیلئ شی چی نه تا سره علم وو، او نه د حق پسی تللئ وی، بیا به په زور سره یو ګرز باندی د غوږونو مینځ کښې ګوزار ورکړی ، د پیریانو او انسانانو نه علاوه ټومره مخلوقات چی نزدی وی هغه ددی مړی آواز آوری، (رواه البخاری) په قبر کښې دوباره د انسان روح راتلل د انسانی عقل پدی نه پوهیږی، پدی باندی به ایمان بالغیب لرو، او ټول مسلمانان پدی عقیده متفق دی چی کله مؤمن د نعمتونو مستحق وی نو قبر کښي هغه له نعمتونه میلاویږی ، او که د عذاب مستحق وی نو قبر کښي هغه ته عذاب میلاویږی ، پدی شرط چه الله تعالی ئے معاف نکړی، الله تعالی فرمائی:[**النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ**] {غافر: ٤٦} ترجمه : اُور پیش کیدی شی دوی په هغی باندی صبا او بیګاه ، او په هغه ورځ چی قائم شی قیامت (وبه

وئیلئ شی) داخل کړئ فرعونیان ډیر سخت عذاب ته، رسول اللهﷺ فرمائیلی دی: د قبر د عذاب نه پناهی غواړئ ، (صحیح مسلم :۲۸٦۷) ، عقل سلیم والا انسان ددی حقیقت نه انکار نکوی ځکه چی انسان په ژوند کښې داسی حالات لیدلی وی چی دلیل وی په برزخی حالاتو باندی ، لکه یو انسان خوب وینی په هغه باندی خوب کښې ډیر تکلیف دی ، لیکن خوا کښې انسان د هغه په تکلیف نه پوهیږی حالانکه د ژوند او مرګ ډیر فرق دی ، قبر کښې روح او بدن دواړو ته سزا میلاویږی ، رسول اللهﷺ فرمایلی دی : قَالَ: «**إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنَازِلِ الآخِرَةِ، فَإِنْ نَجَا مِنْهُ، فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ، فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ** » ترمذی :۲۳۰۲) **ترجمه**:د آخرت د منزلونو نه قبر اول منزل دی، څوک چی دلته کامیاب شی نو راتلونکی مرحلی هم آسانی وی، او که څوک دلته ناکامه شی نو راتلونکی مرحلی نوری هم سختی وی،هر مسلمان له پکار دی چی د قبر د عذاب نه ډیره پناهی وغواړی، او خاصکر د مونځ په آخری قاعده کښې د سلام نه مخکښې، او د ګناهونو نه ځان وساتی، د قبر د عذاب او د جهنم د عذاب د تهولو نه لوئی سبب ګناه ده، د مرګ نه پس حالاتو ته د برزخ ژوند وائی، اکثر خلق په قبرونو کښې دفن کیږی ځکه ورته عذاب قبر وائی، مثلا که څوک اُوبو کښې

غرق شی ، یا اُور کښې وسوزی، یا حیوانات ئے وخوری ، نو دی ټولو ته به په برزخ کښې عذاب یا نعمتونه وی، د عذاب قبر ډیر صورتونه دی لکه په ګروزونو باندی وهل، قبر د تیاری نه ډکول، د اُور بستره ورته غوړول، یا د اُور د جهنم نه دروازه کولا وول ، یا عمل د یو بد شکله انسان په صورت کښې راتلل چې ډیر بد بویه وی چې قبر کښې ورسره وی، که قبر والا کافر یا منافق وی نو د قبر عذاب مسلسل وی، او که مؤمن ګنهګار وی نو د ګناه په حساب سره به سزا وی او کله به عذاب ختم شی، مؤمن ته په قبر کښې نعمتونه میلاویږی، قبر ورته کولاو کړي، د نُور نه ئے ډک کړی، د جنت نه ورته دروازه کولاوه کړی چې د جنت یخه هواء او خوشبوئی وربانديې لګی، د جنت بستره ورته وغوړوی، او دده نیک عمل د یو خائسته انسان په شکل کښې راشی، او دده ملګري شی چې دي ورسره وخت تیروی .

## د قیامت علامے :

١= الله سبحانه وتعالی دا جهان د همیشوالی دپاره ندي پیداء کړی بلکه یوه ورځ به راشی چې دا هرڅه به ختم شی بس دغه ورځ د قیامت ورځ ده ، او دا داسی حقیقت دی چې انکار تری نشی کیدلے، الله تعالی فرمائیلی دی:[إِنَّ السَّاعَةَ

لَآتِيَةٌ لَا رَيْبَ فِيهَا وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ] {غافر:٥٩}
ترجمه: يقينا قيامت خامخا راتلونکی دی هيڅ شک پکښې نشته، ليکن اکثر خلق ايمان نه راوری ، بل ځائی کښې الله تعالی فرمائي : [وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ] سبا: ٣) ترجمه : يقينا هغه کسان چې کفر ئے کړی دی وائی قيامت به مونږ ته نه راځی، ورته ووايه ! ولے نه، په رب مے دِی قسم وی چې خامخا به راځی، قيامت ډير نزدی راغلی دی ، الله تعالی فرمائی : (اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ) (القمر: ١) ترجمه : قيامت نزدی شويدی، الله تعالی فرمائی : [اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُعْرِضُونَ] {الأنبياء:١}
ترجمه:نزدی شوی دی خلقو ته حساب د هغوی او دوی په غفلت کښې مخ اړونکی دی، دا نزدی والے د انسانی عقل او سوچ نه اُوچت دی، د الله تعالی د علم غيب سره تعلق لری، او د دنيا چې خومره عمر تير شويدی د هغې په نسبت سره نزدی دی ، د قيامت علم الله تعالی مخلوق ته ندی ورکړی ، الله تعالی فرمائی : [يَسْأَلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللهِ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا] {الأحزاب:٦٣} ترجمه : د قيامت په باره کښې دا خلق ستا نه تپوس کوی ، ته ورته ووايه چې د قيامت علم خو صرف د الله تعالی سره دی، او تاته څه پته ده کيديشی قيامت نزدی

وی ، رسول الله ﷺ د قیامت بعض علامات تفصیل سره بیان کړي دي :

## د مسیح الدجال راتلل :

د ټولو نه غټه فتنه د خلقو دپاره د دجال راتلل دی ، پدی اعتبار سره چی الله تعالی ورله د بعض غیر فطری کارونو کولو قدرت هم ورکړی دی چی خلق به پری ډیر دهوکه کیږی، مثلا هغه به آسمان ته حکم وکړی نو باران به وشی ګیاه او فصل ته به حکم وکړی هغه به رازرغون شی ، او مړو لره به ژوندی کوی نو داسی د معجزی پشان کارونه به کوی، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ، چی هغه سره به جنت او جهنم وي ، د هغه جنت به حقیقت کښې جهنم وی ، او د هغه جهنم به حقیقت کښې جنت وی ، او په زمکه کښې به صرف څلویښت ورځی ژوند کوی یوه ورځ به د هغه د یو کال پشان وی، بله به د یو میاشت په مقدار، او بله به د یوی هفتی برابر وی، او نوری ورځی به د عامو ورځو پشان وی، هغه به د مکے مکرمی او مدینی منوری نه علاوه ټوله دنیا کښې ګرځی .

د قیامت په نخو کښې د عیسی علیه السلام راتلل دی د دمشق په مشرقی سپینه مناره باندی به د صبا په وخت

راکوزیږی، خلقو سره به د صبا مونځ وکړی او بیا به د دجال د مرګ پسی ورځی .
د قیامت د علامو نه څه علامی دا هم دی چی نمر به د مغرب نه راوخیژی، ټول خلق به ددی په لیدو ویریږی او ایمان به راوړی، لیکن دغه وخت به ایمان راوړل څه فائده نکوی ، او ددی نه علاوه هم علامے شته دی .
۲= قیامت به په بدترینو خلقو باندی قائمیږی، د قیامت نه مخکښې به هواء راشی چی د ایمان والو روحونه به قبض کړی، کله چی الله تعالی د دنیا د ختمولو او د ټولو انسانانو د مرکولو فیصله وکړی، نو الله تعالی به اسرافیل علیه السلام ته حکم وکړی چی په شپیلۍ کښې پوکی وکړه، کله چی خلق دا آواز واوری نو بے هوشه به شی، الله تعالی فرمائی :
**[وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ]** {الزُّمر:٦٨} ترجمه:او په کومه ورځ چی شپیلۍ ووهلی شی ، څوک چی په زمکه او آسمانونو کښې دی مړه به شی مګر هغه څوک چی الله ئے وغواړی، دا حادثه به د جُمعی په ورځ وی، ددی نه پس به ټول ملائک مړه شی، او صرف د الله تعالی ذات به پاتے شی .
۳= زمکی به د انسانانو جسمونه ټول ختم کړی وی مګر صرف د ملا یو هډوکی به باقی وی، البته د انبیاء کرامو علیهم

السلام او شهداو جسمونه زمکه نه خوری، الله تعالی به د آسمان نه باران نازل کړی چې هغې سره به الله تعالی جسمونه راوټوکوی ، الله تعالی چې کله د خلقو د دوباره ژوندی کولو اراده وکړی نو اسرافیل علیه السلام ته به حکم وکړی چې شپیلئ وکړي ، دی سره به الله تعالی ټول مخلوق پیداء کړی ، لکه څنګه چې اول ئے پیداء کړی وو دغه رنګه به ئے د قبرونو نه راپورته کړی، بشپیړله خپے ، سرتور سر، بربنډ او نا سونته ، الله تعالی فرمائی : [ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ] {یس:٥١} ترجمه : او پوکے به ووهلئ شي په شپیلئ کي او یو یو به د خپل رب پیشئ ته د قبرونو نه پاسی الله تعالی فرمائی:[يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَى نُصُبٍ يُوفِضُونَ. خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ذَلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ] {المعارج:٤٤} ترجمه : په هغه ورځ چې دوی به راوځی د قبرونو نه په تادئی سره ګویا که دوی خپلو معبودانو ته ورزغلی، کوزی به وی سترګے د دوی، پټوی به دوی لره ذلت ، دا ورځ ده هغه چې دوی سره ئے وعده کیدی شوه ، د ټولو نه اول به زمکه هغه ځائی کولاوه شی چې کوم ځائی د نبی کریم ﷺ قبر مبارک دی ، او بیا به نور خلق د محشر میدان ته روان کړی شی ، چې ډیر لوئی میدان دی ، کافران به نسکور روان وی په سرونو باندی ، د

رسول اللهﷺ نه تپوس وکړی شو چې په سرونو به څنګه روان وی ؟ رسول اللهﷺ جواب ورکړو چې هغه ذات چې په دنیا کښې ئې په دوه خپو روان کړی وو، هغه ذات قادره دی چې قیامت کښې ئې په مخ باندی نسکور روان کړی. (مسلم ۲۸۰٦: د الله تعالی ذکر نه مخ اړونکے به ړوند راپاڅوی ، نمر به خلقو ته ډیر نزدی وی او هر سړی به د خپل عمل مطابق په خولو کښې ډوب وی ، د چا خوله به تر پړکو پوری وی ، او د چا خوله به تر ملا پوری وی ، او د چا خوله به تر خولے پوری ، بس دهر چا د عمل مطابق به وی ، پداسے خطرناک حالت کښې به څه خلق خوش قسمته وی چې د الله تعالی د عرش د سوری د لاندی به ولاړ وی ، رسول الله فرمائیلی دی : **سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ الإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ وَرَجُلاَنِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ وَرَجُلٌ تَصدَّقَ أَخْفَى حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاه"** (بخاري) ترجمه : اُووه قسمه خلق به وي چې الله تعالی به ورله سوری ورکړی په هغه ورځ چې بل سوری نشته دی ، انصاف کونکے بادشاه، او هغه ځوان چې د الله په عبادت کښې رالوئي شی ، هغه کس چې مساجدو سره ئې زړه لګیدلے وی،

او هغه دوه کسان چه د الله د رضا دپاره ئے د يو بل سره محبت وی ، او پدی باندی يو ځائی کيږی ، او پدی جداء کيږی ، او هغه کس چې يو اُوچت خاندان او حسن والا ترى مطالبه د زنا وکړی او دی ورته ووائي چې زه د الله نه يريږم ، او هغه کس چې صدقه وکړی او دومره پټه چې ګس لاس ترى خبر نه شي چې ښى لاس څه خرچ کړل ، او هغه کس چې يواځې الله تعالى راياد کړی او د سترګونه ئے اُوښکې روانے شي او دا حديث صرف د سړو دپاره نه بلکه زنانه دپاره هم دی ، د هر نيک عمل بدله ښه وی او د بد عمل بدله بده وی، د ښځو او سړو ټولو دپاره، د قيامت په ورځ به خلق ډير تګې کيږی ، دغه ورځ پنځوس(٥٠) زره کاله ده ، په مؤمن باندی به ډيره زر تيره شي لکه د فرض مونځ پشان ، او رسول الله ﷺ به حوض ته راشي چې دا د الله تعالى ډير لوئ نعمت دی، الله زمونږ نبي کريم ﷺ ته ورکړی دی چې خپل امتيانو له به د قيامت په ورځ اُوبه ورکوی، چې اُوبه ئے د پيو نه سپينې دی، او د شهدو نه خوږی دی ، او د مشکو نه خوشبويه دی ، د آسمان د ستورو په مقدار ئے جامونه دی ، او چا چې يو ځل دا اوبه وڅښکلې بيا به چرته تګې نه شي ، ټول خلق به ميدان محشر کښې د حساب کتاب انتظار کښې ولاړ وی ، ګرمی به وی ، آخر به تنګ شي ، د داسی چا په

تلاش به وځی چه زمونږه دپاره تلاش وکړی ، آدم علیه السلام ته به راشی هغه به معذرت پیش کړی ، بیا به نوح علیه السلام له بیا ابراهیم علیه السلام بالآخر به محمد رسول الله ﷺ له راشی، هغه به ورته ووائی : آو ، دا زما مقام دی ، رسول الله ﷺ به د عرش د لاندی په سجده پریوځی او د الله تعالی داسی حمدونه او ثناګانۍ به ووائی چی مخکښې ئے ندي وئیلی، بیا به الله تعالی ارشاد وفرمائی : اے محمد ! سر اوچت کړه، غواړه درکیدلے به شی، او شفاعت کوه شفاعت به دِی قبلیږی ، بنده سره به په عملونو کښې اول حساب د مونځ کیږی ، که مونځ برابر وو او قبول شو، بیا به په نورو عملونو کښې غور کیدلي شی، او که مونځ کښې نقصان وو، نو بیا به نور اعمال هم مردود وی ، د هر بنده نه به د پنځو څیزونو تپوس ضرور کیږی، عمر دِي په څه کي تیر کړو، ځوانی دِے څه کښې تیره کړه، مال دِي چرته نه ګټلے وو، او چرته دِي مصرف کړو، او علم باندي دِي څومره عمل کړي وو، او د ټولو نه اول به د وینۍ په باره کښې حساب کیږی، او فیصله به د نیک عمل اخستلو او یا د هغه ګناهونه په مجرم باندی بار کیدلو په صورت کښ کیږی ، د جهنم دپاسه یو پل جوړ کړي شوی دی چی د ویښته نه باریک دی، د توری نه تیره دی، خلق به د خپل عمل مطابق ورباندی تیریږی،

څوک به د سترګے د رپ پشان، او څوك د هواء پشان، او څوک د تیز رفتار آس پشان، او څوك به په خپوړو(ګونډو) باندی روان وي، او د پل په غاړو باندی کنډی دی چی کافران او ګناهګار به جهنم ته غورځوی، کافر به همیشه په اُور کښې وی او ګناهګار چی کله الله وغواړی د اُور نه به ئے رابهر کړی او جنت ته به ئے داخل کړی .

انبیاء کرامو ، رسولانو ، او مؤمنانو کښې الله تعالی چی چاله اجازت ورکړی هغوی به د ګناهګارو مؤمنانو دپاره شفارس کوی، څوک چی پل صراط باندی پوری وځی هغه به جنت ته داخلیږی، لیکن دوی به د جنت او جهنم په مینځ کښې یو پل باندی هیسار کړی چی د یو بل نه بدلے واخلی، هغه کس به جنت ته نشی تللے ترڅو چی یو بل ته زړونه صفا نکړی .

جنتیان به جنت ته لاړشی او جهنمیان به جهنم ته لاړ شی، مرګ به د یو ګډ په شکل کښې راوستلی شی، او د جنت او جهنم مینځ کښې به ذبح کړی شی، جنتیان او جهنمیان به دا منظر ګوری، او بیا به آواز وکړی شی چی جنتیان به جنت کښې همیشه وی، او جهنمیان به جهنم کښ همیشه وی، بیا که مړ کیدل وی، نو جنتیان به د خوشحالئ نه مړه شوی وی، او که مرګ وی نو جهنمیان به د غم نه مړه وی .

## د جهنم د عذاب حال :

الله تعالی فرمائیلی دی : [**فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ**] {البقرة:٢٤}ترجمه : ځان بچ کړئ د اُور نه هغه چی خشاک د هغې خلق دی، او کانړی دی، تیار کړی شویدی د کافرانو دپاره .

رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته وفرمایل : چی ستاسو د دنیا اُور د جهنم د اُور اویایمه حصه ده ، چا تپوس وکړو چی اے د الله رسوله ! د کافرانو دپاره خو د دنیا دا یوه حصه هم کافی وه، رسول الله ﷺ جواب ورکړو چی د جهنم اُور د دنیا د اُور نه یو کم اوویا حصی زیات دی ، (بخاری ومسلم)د جهنم اُووه (٧) طبقي دی، هر طبقه د بلے نه ډیره سخته ده، او هر طبقه کښې به خلق د اعمالو په اعتبارسره وی، منافقان به د ټولو نه لاندي طبقه د اُور کښې وي، چي ډیره سخته ده، دکافرانو عذاب به په جهنم کښې همیشه وی، وقفه به پکښې نوی کله چي څرمني ئے وسوزی ، الله به ورته څرمني بدلے کړی چي عذاب مزه وڅکی، الله تعالی فرمائی :[**كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا العَذَابَ** ] {النساء:٥٦} ترجمه: او هر وخت چي ستکوری شی څرمنی د دوی بدلے به کړو دوی له څرمنی نوری دی دپاره

چې اوخکی دوی عذاب ، الله تعالی فرمائی : [وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضَى عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِنْ عَذَابِهَا كَذَلِكَ نَجْزِي كُلَّ كَفُورٍ] {فاطر:٣٦}ترجمه : اوهغه کسان چې کفر ئے کړی دی، دوی دپاره اُور د جهنم دی، فیصله به نه کیږی په دوی باندی چې مړه شی، او نه به شی سپکیدلی د دوی نه عذاب د هغی، دغه شان سزا ورکوو مونږ هر منکر ته .

خلق به په زنځیرونو او طوقونو کښې تړلی شوی وی، الله تعالی فرمائی : [وَتَرَى الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ. سَرَابِيلُهُمْ مِنْ قَطِرَانٍ وَتَغْشَى وُجُوهَهُمُ النَّارُ] {إبراهيم:٥٠} ترجمه: او ته به وینی مجرمان په دغه ورځ یوځای تړلی شوی په زنځیرونو کښې، قمیصونه د دوی به د رنزړونه وی، او پټوی به مخونه ددوی لره اُور .

د جهنمیانو خوراک په باره کښې الله فرمائی:[إِنَّ شَجَرَةَ الزَّقُّومِ طَعَامُ الْأَثِيمِ. كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ. كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ. كَغَلْيِ الْحَمِيمِ] {الدُخان:٤٣/٤٦} ترجمه:یقینا ونه د زقوم، خوراک د ګناهګار دی، پشان د ویلی کړی شوی تانبې، خوټ کیږی به په خیټو کښې پشان د خوټ کیدلو د یشیدلو اوبو .

نبی کریم ﷺ د جهنم او د جنت بیان کړی دی چی د قیامت په ورځ به یو جهنمی راوستلی شی چی په دنیا کښې ئے هر قسمه نعمتونو کښې ژوند کوو، په جهنم کښې به یو غوپه ورکړی، بیا به تری تپوس وکړی شی چی اے د آدم ځویه! چرته دِی څه شحالئ او نعمت لیدلے دی؟ هغه به ووائی اے الله ! ستا په ذات می دِی قسم وی، ما چرته شحالئ نه ده لیدلے، او یو جنتی به راوستلے شی چی دنیا کښې ئے ډیر تکلیفونه او سختئ تیری کړی وی ، نو جنت کښې به یو چکر ورکړی، بیا به تری تپوس وکړی شی چی اے د آدم ځویه! څه تکلیف یا پریشانی دِی لیدلے ده؟ هغه به وائي قسم په الله هیڅ تکلیف او پریشانی مے نده لیدلے
(مسلم :۲۸۰۷) د جهنم یوه غوپه به د کافر نه د دنیا ټولے خوشحالئ هیری کړی، او د جنت یو چکر به د مؤمن نه د دنیا ټول تکلیفونه هیر کړی .

## د جنت حال :

جنت نوم د هغه کور دی چی همیشه وی، او د عزت ځائی وی چی الله تعالی د نیکانو بندګانو دپاره تیار کړی دی ، داسی داسی نعمتونه پکښې دی چی سترګو ندی لیدلی، غوږونو ندی آوریدلی، او د هیڅ انسان په زړه کښې د هغی خیال هم

ندی تیر شوی:[فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ]{السجدة :١٧} ترجمه: يو نفس ته پته نشته چې مونږ د سترګو یخوالی دوی له پټ ساتلی دی، بدله د هغه څه ده چې دوی کوم عملونه کوی .د جنت ډیری درجی دی چې ایمان والو ته به د اعمالو په اعتبار ورکړی شی، الله تعالی فرمائی:يَرْفَعِ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ {المجادلة:١١} ترجمه:الله تعالی درجی اُوچتوی د هغه کسانو چې ایمان والا وی او خاوندان د علم وی ،جنتیان چې څه غواړی هغه به ورته میلاویږی، خوراک څښاک وغیره، جنت کښې داسی نهرونه دی چې د هغی اوبه نه بدلیږی، داسی د پیوو نهرونه دی چې نه به بے خونده کیږی، او پاک صفا شهد پکښې دی، او د شرابو نهرونه دی چې څکونکي ته به لذت (خوند) ورکوی،

د جنت او دنیا څښاک کښې ډیر فرق دی، الله تعالی فرمائی : [يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَأْسٍ مِنْ مَعِينٍ، بَيْضَاءَ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ، لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُونَ] {الصَّافات:٤٧} ترجمه : ګرځولی به شی په دوی باندی کاسی ډکی د خالص شرابو نه، سپین، مزه ورکونکی به وی څکونکو ته، نه به وی په هغی کښې آفتونه او نه به دوی له د هغی نه التهٔ ورځی ، د جنتیانو نکاح به د غټو سترګو والا حورو سره کیږی، د هغی په باره

کښې رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : که د جنت يوه حوره دنيا ته راښکاره شی نو ټوله دنيا به د رنړه او خوشبوئي نه ډکه شی (رواه البخاری) د جنتيانو دپاره به عظيم نعمت د الله سبحانه وتعالی ملاقات وی، جنتيانو له به نه وړی متيازی او نه غټی متيازی ورځی، او نه به بلغم وي او نه خراشکی، دسرو زرو ګمنزی به وی ، او د دوي خوله به د مشکو پشان بوئی لری، د جنت نعمتونه به هميشه وی، هيچری به هم نه ختميږی ، رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : څوک چی جنت ته داخل شی هغه به په نعمتونو کښې هميشه وی، نعمتونو نه به نه محروميږی، کپړی به ئے نه زړيږی، او نه به ځوانی ختميږی . (مسلم)

جنت کښې به د ټولو نه کمه حصه د هغه چا وی چی جنت ته به آخری ور داخليږی د هغه حصه به ددی دنيا لس چنده وی (الله سبحانه وتعالی دِی مالا او زما سره ټولو هغه څوک چی پدی کتاب کښی راسره مدد کړی دی او هغه څوک چی دا کتاب لولی او عمل ورباندی کوی ټولو له جنت الفردوس را نصيب کړی آمين يا رب العالمين

**وبالله تعالی التوفيق**

# فهرست مضامین اسلامی تعلیمات



| | |
|---|---|
| مقدمه | 3 |
| د عقیدي بنیادی خبری | 5 |
| دتوحیدقسمونه/ربوبیت/الوهیت/اسماءصفات | 9 |
| دکلمه توحید معنی | 12 |
| د توحید د کلیمی ارکان | 13 |
| دکلمه توحید فضیلت | 14 |
| دکلمه توحید شرطونه | 15 |
| د محمدرسول اللهﷺ معنی | 23 |
| د ایمان ارکان | 25 |
| الله تعالی باندی ایمان | 28 |
| ملائکو باندی ایمان | 33 |
| د الله په کتابونو باندی ایمان. | 34 |
| رسولانو باندی ایمان | 35 |
| قیامت باندی ایمان | 37 |
| تقدیر باندی ایمان | 38 |
| شرک او د شرک قسمونه | 39 |
| دفرقه ناجي عقائد | 41 |
| دطهارت مسائل/ پکوالي او پلیتی | 50 |
| د پلیتی قسمونه | 51 |
| دپلیتی متعلیق احکام | 52 |

| | |
|---|---|
| قضائی حاجت | 53 |
| اودس | 54 |
| د اودس طریقه | 55 |
| موزو باندی مسحه | 58 |
| اودس ماتونکی شیزونه | 63 |
| د غسل طریقه/ غسل واجب کونکی شیزونه | 60 |
| دجنب انسان د پاره حرام کارونه | 65 |
| تیمم او د تیمم طریقه | 63 |
| حیض او نفاس | 64 |
| د مونځ احکام | 65 |
| د مونځ کولو فضیلت | 67 |
| د مونځ متعلق ضروری خبری | 68 |
| د مونځ وختونه | 71 |
| هغه ځایونه چه مونځ پکښې نه کیږی | 71 |
| د مونځ طریقه | 72 |
| د مونځ نه پس اذکار | 80 |
| د مسبوق د مونځ طریقه | 82 |
| د مونځ باطل کونکی کارونه | 83 |
| د مونځ واجبات | 84 |
| دمونځ ارکان | 84 |
| په مونځ کښې هیره | 85 |

| | |
|---|---|
| دسنتو بیان | 86 |
| د وتر مونځ | 88 |
| د سحر دوه رکعاته سنت | 89 |
| د چاشت مونځ | 90 |
| هغه وختونه چه مونځ کول پکښې منعه دی | 92 |
| دزکات احکام | 93 |
| د سرو او سپینو زکات | 94 |
| دتجارت سامان کښې زکات | 95 |
| شیئر کښې زکات | 96 |
| د فصلونو زکات | 97 |
| د څاروو زکات | 198 |
| د اوښانو زکات | 198 |
| د غواګانو زکات | 101 |
| د ګډو بیزو زکات | 102 |
| د زکات حقداران | 103 |
| بعض ضروری خبری | 105 |
| د روژي احکام | 106 |
| د رمضان فضیلت | 108 |
| د رمضان د راتللو ثبوت | 109 |
| څوک روژه ماتولی شی | 110 |
| کمو کارونو سره روژه ماتیږی | 111 |

| | |
|---|---|
| کمو کارونو سره روژه نه ماتیږی | 113 |
| یادګیرنه | 114 |
| دروژی سنت | 115 |
| د تراویح مونځ | 117 |
| نفلی روژی | 118 |
| په کمو ورځو کښې روژه نیول حرام دی | 128 |
| دحج او عمرے احکام/ حج حکم | 120 |
| د حج شرطونه | 121 |
| د حج آداب | 122 |
| احرام او داحرام اداب | 123 |
| د احرام سنت طریقے | 124 |
| احرام کښې د داخلیدلو طریقه | 125 |
| ممنوعات الاحرام | 127 |
| د طواف طریقه | 129 |
| د صفاء مروا مینځ کښې سعی | 132 |
| اتمه ذی الحجة ۹ نهمه ذی الحجة | 134 |
| جمرات ویشتلو طریقه | 138 |
| ۱۰ لسمه ذی الحجة | 135 |
| د ۱۱ یولسمی او ۱۲ دولسمی ذی الحجة احکام | 137 |
| د حج ارکان او د حج واجبات | 139 |
| د مسجد نبوی ﷺ زیارت | 140 |

| | |
|---|---|
| د خوراک احکام | 141 |
| د حیواناتو دوه قسمونه | 143 |
| د ذبحې احکام | 145 |
| د ذبحې دپاره شرطونه | 146 |
| د ذبحې آداب | 147 |
| ښکار | 148 |
| د جامو احکام | 150 |
| د جامو آداب او سنت طریقے | 155 |
| د نکاح احکام/دنکاح شرطونه | 157 |
| د نکاح حقونه/د نکاح طریقه | 160 |
| د نکاح سنت او آداب | 162 |
| د ښځو خائسته صفات | 163 |
| هغه ښځې چه هغوی سره نکاح حرامه ده | 164 |
| طلاق | 165 |
| د طلاقو سره متعلق احکام | 169 |
| خلع | 170 |
| د نکاح باقی پریښودل یا ختمولو اختیار | 172 |
| د غیر مسلمه سره نکاح | 174 |
| د اهل کتابې ښځې سره نکاح کښې نقصانات | 176 |
| د زنانو متعلق احکام/اسلام او نورو معاشرو کښې د ښځې مقام | 177 |

| | |
|---|---|
| د زنانو حقونه | 185 |
| خاوند باندی د ښځې حقونه | 186 |
| پرده(حجاب) | 188 |
| د حیض او نفاس احکام | 197 |
| د حیض مختلف احوال | 201 |
| د حیض او استحاض احکام | 203 |
| د حیض او حمل بندولو حکم | 204 |
| د نبی ﷺ سیرت/ د عربو د جاهلیت دور | 206 |
| د دوه ذبحه کړیشوی اولاد | 207 |
| د هاتیانو واقعه | 209 |
| د رسول الله رضاعت | 210 |
| واقعه د شق الصدر | 212 |
| د مور او د نیکه وفات | 213 |
| تجارت او واده | 214 |
| نبوت | 216 |
| ښکاره تبلیغ | 219 |
| هبشو ته هجرت | 222 |
| د کور کلی خلقو بائیکاټ | 223 |
| دغم کال | 225 |
| د طائف سفر | 226 |
| دسپږمی د وه ټوټې کیدل | 227 |

| | |
|---|---|
| واقعه د معراج | 228 |
| داسلام د عوت نوی محاذ | 231 |
| جنګ بدر | 236 |
| جنګ احد | 238 |
| جنګ خندق | 238 |
| فتح مکه | 240 |
| وفود راتلل او بادشاهانو ته خطونه | 241 |
| د نبی ﷺ وفات | 242 |
| د نبی ﷺ حلیه مبارکه | 243 |
| د نبی ﷺ اخلاق مبارک | 243 |
| د نبی ﷺ د سیرت نه اغستلئ شوی درسونه | 248 |
| د رسول الله ﷺ باره کښې د اهل فکر رائی | 263 |
| د قیامت د ورځی بیان | 268 |
| د مرګ بیان | 269 |
| د قبر احوال | 273 |
| د قیامت علامات | 276 |
| د جهنم عذابونه | 285 |
| د جنت نعمتونه | 287 |
| فهرست | 290 |